

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

د الله په نوم پیل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لرونکی دی؛ مهرباني د پینې پنځونکي ښتن بر لورینه ده.

## ۲. لیکي پوهه

| | |
|---|---|
| سرلیک:. | د ټاټوبي میلي پېیلې |
| لیکوال:. | ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس |
| د محصول اوږدوالی، | |
| سوروالی او پېړوالی:. | ۲۹۰ * ۲۱۵ * ۱۸.۳۲ میلي مېټر. |
| د کښلې غټ ټکي:. | ۱۱ څپرکي |
| کښلې د چوپړو ګڼه:. | ۲۲۲ چوپړي ( مخه ) |
| وړلو وزن:. | ۵۵۵ ګرام |
| وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ( د ابېڅو او نورو) پرانټ.،، :. | ۱۹۹،۱۰۹.۰۰ دانې |
| منشوره یې له وت سره:. | ۲۵۶،۴۵۴.۰۰ دانې |
| سرلیکه:. | ۴،۰۰۲.۰۰ |
| لینونه ( خطه، کرښې له لیکي هړپې، لاندنی یادونې او پاینۍ یادونې سره، سره) ګڼه:. | ۹،۱۴۶.۰۰ |
| وییزېرمه ( پښتو په پښتو وی یا ویویکي یا لغاتونه، ویکي) ګڼه:. | ۵۴،۸۷۲.۰۰ |
| د کښلې د ابېڅې پیل او پای:. | د دې کښلې پیل په دې ,, د ،، سره شوی او پای یې په اوږدې بې ,, ې ،، سره شوی دی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلي ۳ چوپړی


| | |
|---|---|
| ګڼه:. | اتتم ليکی (کښلې، کيتاب يا کتاب) |
| ليکوال استوګنځای:. | بغل، تره خيل، کچور شمټی، مهترلام، لغمان، افغانستان |
| خپرندوی:. | مومند خپرندويه ټولنه |
| اېډېټور:. | ماستر اېنجينېر صفي الله فردوس |
| طراح او ډيزان:. | ماستر اېنجينېر صفي الله فردوس |
| کښلې د پيل پېر:. | پيلنی وار: د رييس غلام حسن بابا کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختيځ نوی ښار، مهترلام، لغمان، افغانستان؛<br>تله ۱۵، ۱۳۷۲ لېږدی<br>( زېږدی ۱۹۹۳ October ۰۷)،<br>دوېيم وار: : زموږ کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختيځ نوی ښار، مهترلام، لغمان، افغانستان؛<br>غبرګولی ۱۹، ۱۳۸۸ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۰۹ June ۰۹)،<br>درېيم وار: زموږ کور، نمبر اول ښوونځي ترڅنګ، ختيځ نوی ښار، مهترلام، لغمان؛<br>کب ۲۰، ۱۳۹۵ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۱۷ March ۱۰)،<br>څلورم وار: ۷ کور، درېيم پوړ، ۵۳ بلاک، اماراتو ښارګوټی، کسبه، ۱۵ سيمه، کابل، افغانستان؛<br>کب ۰۱، ۱۳۹۹ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۲۱ February ۱۹)، |
| کښلې د پای پېر او اوډون (ترتيب) يې:. | جوهريزاده سړک، ميدګاردوک، دوشنبې ښار، دوشنبې، تاجيکېستان؛<br>دوبی، وږی ۰۲۸، ۱۴۰۳ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۲۳ September ۱۹) |
| خپرېدو نېټه:. | دوبی، وږی ۰۲۸، ۱۴۰۳ لېږدی<br>( زېږدی ۲۰۲۳ September ۱۹) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټاټوبي میلي پېیلې ٤ چوپړی**

چاپ نېټه:. دوبی، وری ۲۸، ۱۴۰۳ لېږدی
چاپشمېر:. ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ وار:. لومړی
ډول:. ادبیات او هنر ( لیکنی ارت، ادبیات او فن، ادبیات او عملي مهارت، ادبیات او صنعت، لیکنی او صنعي قدرت ضد، ادبیات او د ښکلا د تخلیق فن، د تخلیقي تخیل اثر، ادبیات او د پوهې یوه څانګه په تېره د اجتماعي علومو د موسیقي یا ټنګټکور برخه؛ لیکنی او مهارت یا تخصص؛ لیکنی او استعداد؛ ادبیات او ځیرکي؛ ګړنې پېیلې) ټولګه

ژبه:. پښتو
ژباړونکی:. هېڅ یوه
پوخ بنه:. اساسي
تړ:. تازه
رپ ځای:. A٤
یادونه:. د ګډون کولو بېلګه
بیه:. ۳۰۰ افغانۍ
د لیکوال ګرځنده اړیکه:. +۹۳۷۸۶۹۰۴۷۹۹
برېښنالیک:. Safiullah_firdows@yahoo.com
له پاره:. د ټول پښتون پښت ( نسل) له پاره دی چې لر او بر ټول پښتنو له پاره کښنل شوی، یانې د ۷۰۰۰۰۰۰۰ اویا مېلیونو وګړو له پاره.
کښلې د ګټنې ګور:. زر ټولګي دی، ټول پښتون پښت به ترې ګټه پورته کړي چې د یوه تود بځري (پرتون) په اندازه هم د یوه پښتون د پرمختګ سبب شي؛ نو اویا مېلیونه تنه پښتون پښت ته یې ګټه ور رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

د پښتون پښته! زما ګټه په کې نه شته؛ په ۲۵۰ افغانۍ یې له مالیې سره را وباسم، ۲۵۰ دانې یې وړیا وېشم او پاتې نور پلورم.
په ۲۵۰ افغانۍ چې له یوه کرډیټ کارټ سره برابرېږي ببیه یې ده.
ګټه خو یې نه شته که دا لږ پیسې په لاس راغلې نو بل لیکی به پرې چاپ کړم.
د پښتو ورم دی چې د لیکوال ګټه د شپانه ګټه ده.
که مو ډډه ورته روغه وه د خپرولو له پاره یې و دربېږئ. ( له چاپ روغ تېر شوی نه دی.)

د اي في اي (APA) کالب په بڼه د اخځوک یا ریفریس له پاره ترې ګټنې اجازه شته.

زما د الواک اغېزښندنې په څېړنه کې څلور ستنې شاملې دي: خلاص ډېټا، خلاص کوډ، کاغذونو ته خلاص لاسرسی او خلاصه (وازه) بیاکتنه. د خلاص پښتو ګړنې ادب د ودې له پاره د ټاټوبي ټولو پوګړو وګړو، د معلوماتو ټیوټوریلونه کوربه کړئ، په اوبپانو کې خپور کړئ، ترڅو و ګړو سره مرسته و کړي، ټولو وګړو ته د خپل پښتون پښت دودي دود لیکدود کارولو او پوهیدو کې د مرستې له پاره وسیلې رامنځته او لا کوربه کړئ.

د چاپ رښت له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳. لړلیک

**ګڼه: سرلیک: چوپړی:**


۱. پېښتۍ ................................................................... ۱
۲. لیکي پوهه ................................................................... ۲
۳. لړلیک ................................................................... ٦
٤. د یادښتونو له پاره: ................................................................... ٤
٥. د دې چاپ ترانې (پیل، شروع، برید) ................................................................... ۸
٦. ننه توزې (پیلیزه، پیله، سریزه، مخکې وینا، مقدمه) .................. ۱۸
۷. د ټاټوبي ملي پېیلې.......................................................... ٤۳
۸. پایله ................................................................... ۱۳٥
۹. ژبپانګه ( وییزپرمه: د کره لیکنۍ پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سته په لاندې لښتیلیک کې کښل شوي)... ۱۳۸
۱۰. بیبلو ګراپي Bibliography د هغو لیکونو لېست چې په یوه سکالو یا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري. .................. ۲۱٥
۱۱. پخښتۍ سټ ................................................................... ۲۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. د يادښتونو له پاره:

۱: ..........................................................................................

۲: ..........................................................................................

۳: ..........................................................................................

۴: ..........................................................................................

۵: ..........................................................................................

۶: ..........................................................................................

۷: ..........................................................................................

۸: ..........................................................................................

۹: ..........................................................................................

۱۰: ..........................................................................................

۱۱: ..........................................................................................

۱۲: ..........................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. د دې چاپ تراړ (پيل، شروع، بريد)

په پيل که له هر څه څخه وړاندې يوازې د الله په نوم پيل کوم. له بر الله څخه بې کچې مننه او د هغه بې پايه ستاينه کوم. په کومه ګڼه چې د هغې شمېر د هغه په اند کې شتون لري، په همغومره کچه ترې مننډوی يم چې ملتيا يې تل، تر تله را په برخه ده.
هغه سپېڅلی پنځونکی څښتن چې د پيني او څه چې د دې پيني په منځ کې شتون لري د دې ټولو پنځونکی دی.
زه يې پنځي بوړولی يم، هر څه يې پنځي بوړولي دي، لکه:. اوبه، باد، هوا، هواوېچه، اسمانونه، ځمکې، هر ډول بوټي، هر ډول ونې، خواړه، تياره، رڼا، تودوخه، تله راتله، اند، وند، پند، پوهه، ژبه، ... . او د دوی څخه د ژغورلو او خونديکولو پوهې وړتيا يې په هڅه کې را تر غاړې کړې چې روغه ګټنه ترې په هر پېر کې واخلم او د خپلو ژونکو د زورنې جوګه يې کړم چې يوازې له هر څه څخه پاک الله و منم. هغه الله چې د ټولو زوروررو، زورور دی، د باچايانو پاچا دی، د ټولو ۱۸۰۰۰ پيني‌يو څواکمن او واکمن دی چې يوازې د ده پالنه کېږي.

ای! بر!، هر څه چې مې له تا څخه غوښتنه کړې هغه دې راته راکړي دي، ان تر خپلې ميني پورې چې په ډېره مينه دې را ته په مينه، مينه را په برخه کړې دي. له ټول کهول او پښت سره. ای بر!؛ ته مې د زړه ټول ارمانونه تر ورستی سا پورې پوره کړه، په هېڅ ډګر کې مې بېبرخې، بې اسرې او يوازې مه پرېږده.
ای! بر!، هغه څه چې درڅخه غواړم، زما په هېر دي، که په ياد کې مې دي او که په راتلونکي پېر کې دي، له خپل زوزان سره يې راته په ډکو منګولو چمتو کوه او چارچ وه. ای! بر!؛ زما په مال، بډاينه، شتو، هر څه کې روغ ګټور ډېروالی واچو، د دې له پاره چې ته يوازې کونکی د دې شيايو يې او د دې ربښتين ربښت يې.

ای! بر؛ ای رحمانه!؛ ای! الله؛ چې د تن مانۍ او هر زره د انسان د تن بشپړولو او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي تن او برمنله (عبادت، اللهپاله، بردرناوی، يا ربپاله) د ربښت له پېژندلو پرته و بوړو.
ستا پوهه، ستروالی، لوړوالی، له اسبابو پرته کړنې، په پټو توکو پوهه او ښکلي نومونه دي او د فردوس بڼ (جنت)، دوزخ، ځمکې او اسمانونه دې؛ د پيدايښت يوه اړينه اړتيا ده. لويي او لويوالی، د ټولې پيني د ژوي، د ناڅاپه څخه راوتل، ربښت د رسېدلو خواره، په يوه والي کې د منلو، له منځه تلو او بې وسی يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

ای! الله!؛ ته په پښتو ژبه پوهېږې. ای! الله!؛ ته په پښتو ژبه پوهېږې. ای! الله!؛ ته په پښتو ژبه پوهېږې. ای! الله!؛ ته په پښتو ژبه پوهېږې. د دې له پاره چې تا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ښکلي نومونو کې موږ ته خپل پښتو نوم ,, بر ،، هم را په ګوته کړه. هغه څه چې تا خپل استازي ته ورکړي، هغه رټ رمټ بشپړ موږ ته راخوندي کړي او را رسولي دي. ای الله ته هېڅ تن ته اړتیا نه لرې، موږ ته بډاینه، ودنه، سوکالي، خوښېدنه، هوساینه، پوهه، غښتلتیا، اتلوي، بریا او په ټولو نعمتونو دي ښه غوره ډډ کړه او موږ به يې پر لورې پل پورته کوو. د دې له پاره چې دا وړتیا یوازې او یوازې ته لرې، له ټولو نه پيلنی (لومړی) یې، له ټولو نه پاینی ( اخیر) یې، د پيلنی ورځ، پاینی ورځ د پرېکړو واکمن يې او د ټولو پنځونکی يې.
هغه څه چې تا په خپل کښلي ( لیکی، کتاب) کې ترې منه کړي يو چې هغه مه کوئ!!!؟ هغه موږ په سر سترګو او په رڼو سترګو په روغه ښه نه کوو او چې تا پرې د کولو امر کړی دی چې دا کړنې کوئ!!!؟ هغه موږ په سر سترګو او په رڼو سترګو په روغه ښه کوو.
هغه وګړي چې دا پوهه نه لري، هغوی ته پرې پوهه ورکړه. له کمعقلانو، ناپوهو، ضدي، بېباکه، پوروړو، تړاکګرو، وژونکو، ځلو، کلکزړو او دبړهمارانو څخه موږ لرې لره.
ای! بره! یا (بر څښتنه!) تاسو تل د ښه کړنو یا ښه کارونو کولو توان راکړه چې تل ښه کارونه و کړم، هره ورځ يې و کړم او ته راڅخه خوښ و وسې.
ای! بره!؛ ای! رحمکونکیه!؛ ای! رحملرونکیه!؛... . ای! الله!
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې و پېژنو؛ زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په تن کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو غښتلو څخه مو و بولې.
امین، امین، امین ( ای! بره! دا سوال مې و منه!، ای! بره! دا سوال مې و منه!، ای! بره! دا سوال مې و منه!).

ور په سې د دې چاپ تراږ (پیل، شروع، برید) د دې کتاب له نوم څخه کوم ,, د ټاټوبي ميلي پيبلې ،، په لنډه مانا د لېوالتیا یا مینې او رښت ژبه ده.
پښتو په پښتو مانا يې ده: ( د هېواد میلي شېرونه یا هېواد د وګړو اشلوک یا د وطنی وګړنې پېړان یا د افغانستان د خلکو شعرونه)؛ چې د پښتو ژبې له درې ویېو ( ویکي، ویکيي، لغاتونو) څخه يې رغښت موندلی یا ما بوړولی ( جوړکړی یا وارکړی) دی او اوډون (ترتیب) يې داسې دی.
بېلګه: د پښتو درې وی چې پر دې شعري ټولګي نوم کې دي، د هغو پښتو په پښتو مانا لاندې ده.

۱. ټاټوبي: هېواد او و تن دی چې د عربي، دري (فارسي، تاجیکي) وی يې وطن پښتو ژبې ته رامنډل شوی وی (ویکی، ویکیی، لغات) ده. د پېل پېر مېنه، لرغون د زوکړې ځای، د پښت د ډېرودو ځای، هېواد، وطن. ؛. ۵، ۶، ۹، ۱۰ او ۲۲۱ ( ټول ټال ۲۸۳ وارې نور) په چوپړي کې (مخ کې، مخګڼه کې، پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ يا سټ کې، صفحې مخ يا سټ کې يا د اېنګلېسي ژبې پېج وی په بڼه) کښل شوی.

**۲.** میلي: ټاټوبي د وګړو اړوند، وګړنی، د ولسونو اړوند، ( اېنګ. نېشنل يا پ. ملی) چې د پښتو ويلو کښلې يا ليکولو بڼه يې کره میلي ليکل کېږي ملی د ملی (بډه، ملګري) او مېلي ( مېليمېتره، mm ) په بڼه نه. د دې له پاره په پښتو ژبې اړين رښت دی چې زور، زېر او پېښ ابېڅې ( اې، بې او تې يا ا، ب، ت، الفابا، حروف) وی (ويکی، وييکيی، ويي، لغات) غونډ او کوشنی کړ نه لري. د زور (ـَ)، اوږد زور (ـٰـ) او ډېر اوږ زور يا مد (آ) پرځای اې (ا، الف ) ليکل کېږي او لوستل کېږي؛ د زېر (ـِ) په ځای يې (ی) اوږ زېر (ـٖ) او د لنډزېر په ځای يې (ي) ليکل کېږي او لوستل کېږي؛ د پېښ په ځای وې (و) ليکل کېږي او لوستل کېږي. ؟. ۱، ۲، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ... . او ۲۱۹ چوړی ( ټول ټال ۵۰ وارې نور په بېلابېلو چوپړو کې راغلی دی.)
پښتو ژبه د عربي، پارسي، انګرېزي... . پر خلاف (بېلو اړتياوو، بې ټينګاره، سرچپه، بې ثباته، د منلو نه شتوالی، موافقي نه شتوالی، متضاد شرطونو) (زور او مد، زېر او پېښ) هېڅ نه لري.
پښتو کره وی ( و):.
پول، ګومان، ګومارل، ورزګان، اورګون، کونړ، کوندوز، کولتور، تورک، مغول، تورکمن، تورکيه، اوزبېک، رومان، اورګان، مرسته (کومک)، لږ (کم)... .
پارسي وی ( پېښ):.
پل، گمان، گمارل، ارزگان، ارگون، کنر، کندز، کلتور، ترک، مغل، ترکمن، ترکيه، ازبک، رمان، ارگان، کمک، کمک... .
پښتو کره وی ( و):.
وايې، وايي، بيت الله، رييس، اروپايي، لايک(لايق)، دکن، ډېموکراسي، خوله، ايين، اسان، ارام، ازاد، اباد، ادم، ګيله، هېلمند، ميلي، دېموکراسی، افغانېستان تاجيکېستان، اوزبېکېستان، کزاکېستان، کېرغېزېستان، مغولېستان،
تورکمېنېستان، اېنګلېستان، برلين، سبک، ژورنالېست، ,, دده، ددې، د دې، د ده، د، ده، و، وه، وو، نارينه وو، اړتيا وو، يوه تن و، يوه تن وه،،،؛ سا، ساوې، ښا، ښاوې، ګيا، دستګا، دستګاوې، بېګا، ګازرګا، خانقا، ترا، تيرا، پنا، پوپنا، تنخا، لوښ، لومړی، کوچنی (کوچ نی)، کوشنی، ګول، ګال ( ښځه نوږی يې ګاله، د خرو ګال)، خوم، خورما، توخم، خوتن... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارسي وی په ( زور، ا، آ، زېر، پېښ، و):.
وائې، وائي، البیت الله، رئیس، اروپائي، لائق، دګَن، ډِموکراسي، خُله، آئین آسان، آرام، آزاد، آباد، آدم، ګله، هلمند (هِلمند)، ملی (مِلی)، دموکراسی (ډِموکراسی)، افغانستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغزستان، مغلستان، ترکمنستان، انګلستان، برلن، سک، ژورنالست؛ ,, ددهه، ددي، ددې، دده، ده، دهه، وه، وهه، ؤ،، نارینه ؤ، اړتیاؤ، یوه تن وو، ساه، ساګانې، ښاه، ښاګانې، ګیاه، دستګاه، دستګاګانې، بېګاه، ګازرګاه، خانقاه، تراه، تیراه، پناه، پوپناه، تنخاه، لښ، لمړی، کچنی، کچنی، ګل، ګل، خم، خرما، تخم، ختن... .

یوازې په د عربي، پارسي، انګرېزي ژبه کې لیکلی شئ، په دې بڼه لیکل په پښتو ژبه کې (کښل) غلت دي، نا کره دي، ناسم کار دی، ویار دی، کمتون دی او تېروتنې دي.
خو د عربي، پارسي، انګرېزي ژبې لیکلار کې چې په کومه بڼه دي، په همغه د عربي، پارسي، انګرېزي لیکلار دي لیکي، التبه کره راځي. خو پښتو ژبه کې د عربي، پارسي، انګرېزي کښلو په ډول ناکره راځي. داسې ګړنه په پښتو ژبه کې کلکه نټه ( سخت منکرېده ) ده، د پښتو یېګانو (یاګانو، یې وو) رښت (قانون) پرې کړی رښت دی، مثل یې په هره وی کې اړین باید و کښل شي. هېڅ یوه وی ته پرته له رښته بخښنه کول ( معاف کول ) نه شته چې په دې وی کې یې منو او په دې وی کې یې نه منو. د ډېربښت او منښت له اړخه چې له نوي پېر ښخه رادود دی. ملی (نیشنل، ولسي، وګړنی) پارسي وی ده د پښتو ( ښلی، ګښلی، تلی، نلی (کړکی)، ملی (ملګری، بډه) په بڼه غږ لري او یې ( نرمه یا زور واله (ی)، په بله وینا، هغه بې ټکو یې (ی) چې تر مخه ابېڅی یې زور (فتحه) لري لکه ,, غلی،،؛) غږ لري او لوستل کېږي. خو په پښتو کې (نیشنل، ولسي، وګړنی) میلي لوستل کېږي او کښل کېږي. مې ( م ) ابېڅی زېر لري، او پینی ابېڅی یې لنډه (ي)، لکه: ښادي، خپلوي، وداني، وراني، خېښي، تربګني، مېلي (مېلیمپتره)، منګي، کودي، دي، سړي او وري. په بڼه راځي. کره وی (میلي) ناکره وی (ملی) ډول کښل او ویل له پښتو لیک دود او پښتو ژبې سره دښمني ده. همداسې کره وی (افغانېستان، Afghanistan) ناکره وی ( افغانستان Afghanstan) په سې در واخله. په ټوله پینی کې یې د ټاټوبي په ډیپلوماسی او سیاسي برخه او په پینی کې د ټاټوبي نوم په اېنګلېسي ژبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي ليکو (Afghanistan) کره ليکو، او د پښتو ژبې په علمي ليکو ربښت يې افغانېستان نه ليکو. که مو د دري ژبې په بڼه په غړ Afghanstan وليکه، هېڅ هېواد يې راسره نه مني او ملنډې راپورې وهي، چې د واويل ابيځی i په کې شتون نه لري يا يې (ې) په کې نه شته ترې غورځول شوې ده. د دې له پاره پښتو ژبه په خپل کره ربښت، کره پښتو، کره او روغ راځي. اړينه ده چې د پښتو ژبې ليکلار ربښت پام و کړو.

**۳.** پېيلي: چې ښځه ډېر نوړی (جنس) نوم دی، يکړنوم يې پېيله ده چې (اشلوک، پېيرن، شېر، شعر) ته وايي. چې د دري (عربي، فارسي يا تاجيکي) وی يې شعر پښتو ژبې ته رامنډل شوی وی (ويکی، ويکيی، لغات) دی چې پښتانه يې شېر په ډول وايي. د دري ژبې شېر ويکيي بيا په پښتو ژبه کې پړانګ ته وايي. چې زموږ ژبې ته رامنډل شوی وی شېر (پېيله، اشلوک، پېيرن يا شعر) دی. ؛۶ ، ۹، ۱۲، ۱۳، ۱۴او ۲۱۹ چوپړی ( ټول ټال ۸۹ وارې نور).

زموږ په ټاټوبي کې بېکچې ځل (ظلمونه)، نادودې، ناګڼلې، سېتم، نارواوې، جنګونه، ستړې، ناانډولې او ناندری تېرې شوي. دا لمک له پېر ښځه پر له پسې تېرې کړي دي د ټاټوبي د پښتنومير ښځمنو.

دا ټولې کانې هغو ته ورته دي، لکه په ځلېر کې چې کومې نندری ځناور کوي. بېلګه: لکه يوه هوسی به د اوبو ښڼلو له پاره د دښتې ډنډ ته راشي چې اوبه و ښڼي؛ نو يا به يې لېوان، پړانګان، ځمريان و خوري. که ترې تېره شي نو د اوبو ښڼلو په دوران کې به يې لويه سمڅاره له اوبو ښځه ورټوب کړي او له خولې به يې را و نيسي، پرې حشر به جوړ کړي؛ له ډېرې تندې ښځه به اوبو ته يوه هم لاس رسی نه شي موندلی. له ځنګلي سپيانو به لېوان ځغلي، زمري به له فيلانو ښځه ځغلي او ماران به هم اوبه نه شي ښڼلی چې تېسان به يې اوبو ښڼلو ته نه پرېږدي.
ترااکګر شخړې راوړي، شته، زېرمې، مېوې، غلې، توکي، لاسته راوړنې، کښلې، ليکي، پندونه، ورمونه، پېيلې او هر څه له ځان سره وړي. ځمکې، کورونه، مينې، باندې، ښاروي، زر، اثار، کانې، خپل زوزات ته رسوي يا په لاس پاتېشونې پرېږدي يا يې په اور سوز وي او يا يې تالا کوي. له لرغون پېر ښځه ترااکګر په ښارني ژوند او مدنيت نه پوهېږي چې تر روانپېره پورې هم دوی پر همدې ډول له هغه لوري را ځغلي او پرموږ غلې، پټې، ښکاره حملې راوړي.
د دې ټولو دود دلته پر موږ تېر شوی، شو او روان دی.
د ټاټوبي ميلي پېيلې کې د دې کړنو بوی او بريالي ژوند ټيکنالوژيک پرمختګ انګېزې کونجونه (زاوېې) شتون لري. د دوی باور يوه دوې اړخېزه مزل دی، تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلې ۱۳ چوپړی

باید ملي ګټو ته له ځاني ګټو څخه لومړیتوب ورکړو، زموږ پښت دې د نوي پښت د یوه والي کړه وړه تیار کړي، د دښن په کرغېړنو کړنو او سګنالونو دې په ډېره پرېکړې بڼه چمتوالی و نیسي، د وګړو څرګندوني او غوښتني ډېر ځانګړې او څرګندې دي چې پښتو ژبه دې لیکلو، لوستلو او یادولو ژبه په خپل ټاټوبي کې وي. اړینه ده چې د وړتیا ډول بوړوني او د وړتیا غوښتني په لوی اند سره لید و لرو او واکمني پر خپلو وګړو په خپله و کړو، د بلواګری، بدلون او لویې غمیزې په وړاندې بشپړه وړتیا و لرو، چې په ټاټوبي کې تلپاتې، ځای پر ځای واکمني لید له لیدلوري سره شتون و لري، چې د وګړو او وګړې د ښوني، روزنې، علم، پوهې، لوړو زده کړو، ټکنالوژی په ځانګړې ډول د نوې ټکنالوژی په مټه ولاړولی، ننه او پرمخ بیولی شو. یوازې دې ۳۵ کالونو په اوږدو کې موږ د امریکا له ښاري پرمختګ او وګړو د ژوند، هوساینې، بډاینې او ودنې څخه ۳۵۰۰ کاله ورسته کړې یو.

د ټاټوبي سیاسي تړ (وضعیت، د یو شي د پیدا کېدو له پاره په زړه پورې فضا: د حالاتو څرنګوالی، وړ شرایط) په لوی اند (تصور) کې و ګورو او بیا یې شننه کړو، چې دا زموږ د سیاسي ژوند په پرېکړو کې ګټور راځي. د کړکېچ او لویې غمیزې په پېر کې موږ زده کړه تر لاسه کو چې څنګه ګټورې اوسبلې و لرو، وړاندې له دې چې هره اوږدپېرې پرېکړه او لنډپېرې پرېکړه کوو. له هغې څخه وړاندې، وړاندې، بیا هم وړاندې، بیا هم ترې وړاندې او لومړی د هغې پرېکړو پایله یا په پای کې ترلاسه کېدونکې پایله ( نتیجه) بڼه په غور پلټلې ده چې ګټه لري که تاوان. ګټې لري که تاوانونه، که تاوان، تاوانونه، درانه تاوانونه یې لرل او یا ترې ترلاس کېږي یا لاسته راځي، له دې څخه زر ځله غوره ده چې هغه پرېکړه و نه کوو او نه یې سرته و رسو. دا موږ ته په لاس راکوي او سپینې ته راوباسي چې د پرېکړې او ترې پایله لومړی ښه و ارزو او پرتله یې و کړو، بیا هغه پرېکړه و کړو او و نه کړو، د هغې پرېکړې او ترې پوهه به مو ترلاس کړې وي. ټاټوبي میلي (ملي) پېیلې له ځان سره د ژوند لارو چارو هر اړخېزې انګېزې، پرېکړې، ترې، ژبه، پښتو، پښتونواله، ښوونه، روزنه، پوه، زدهکړې او ځېرکتیا لېږد وي.

په لرغون پېر کې نوموړې پېیلې لیک او لوست په ټاټوبي کې شتون درلود، په لغمان کې ارامي لیک په ۴۲۳ مخزیږدی کې په درز کې روان وو. مکیدانسکي، یا اسکندر یا اسکندر مقدوني یا الګزاندر ګرېډ، خپله ویلي دي، د ارامي لیک ډول. ل ع م ا ن س ی ن د ی ، ک و ر ب ا ر ک و ر و ی - ح ا ن پ و ک ر ه

,, اېسکندر مقدوني، ویلي دي چې زه د خپلو حملو په لړی کې یوې سیمې ته لاړم چې نوم یې لمپاکا و او ارامي لیک په کې په درز کې روان وو،،
په روان پېر کې زموږ د وګړو لیکلو او لوستل کچه څومره ده، که له جاپانیان له ټاټوبي سره یې پر تله و کړو دوی په منځنۍ کچه په کال کې اتیا کښلې بشپړې لولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېپلې ١٤ چوپړې

او عربان له ټاټوبي سره يې پر تله و کړ دوی په منځنۍ کچه په کال کې دوې کښلې بشپړې لولي موږ او زه هېڅ نه لولو او نه يې ليکو.

په ټاټوبي راوړلشويو شخړو او جګړو زموږ او زما پېيلي هم را ټوکه ولې دي، چې په کې له داسې ناګڼلو بوی را پور ته کېږي. په دې ټولګې کې له سلو ۹۸٪ او زما په وګړنې پېيلو کې د لغمان ادبي چارپېريال د اثر زېږنده ده. د سيمې انځور، اخذ او اغېزه شته، هم په کې د خنډ، ودرېدوکې کړنلاره او د خوی تګلاره شته. زموږ او زما ځيني زېږه، بېباک، له تبکې وېستلي، لوڅې، بربنډ پېيلي او ټکي، جوړښتونه او خبرې که له يوې خوا زما د جرې، ازاد او بېباک ذهن ژباړه کوي، له بل لوري په پنځوني عمل کې زما د خنډ کړو وړو زورنه، د برلاسې پوړۍ له سولوکو زما د نه منلو او د ژوند د پېښوني او پرمختګ په چارو کې زما د کړنو ځرګندوالی کوي.

هره يوه کنځا، له تبکې باستلې ځان ته په ځانګړي ځای کې ځانګړې مانا لري او هر لورې مسلې او کونجونه (زاويې) لري، په بله وينا يوه سلو او شپږوېش ۱۲۶ کونجونه (زاويه) څوارلس ۱۴ بنستې يا ورکې (مجهوله) معادلې لري. ځوابونه د خبرو او پوهاوي په لاس ورکوي. که زموږ لرغونو نيکونو او اناوو؛ علين مکان (خوشحال خان ختک)، فضل رحيم ( خان عبدالغني خان)، عبدالرحمان مومند، مولوي عبدالحميد مومند (موشګاپ) يا ما صفي الله فردوس خان له ژبو څخه له تبکې باستلي، کنځاوې ( سپکې، سپورې، ژېړې، زېږې، ستغې) چې راوتي په پېيلو کې نو ژبه نيولې شوي ورته نه يو.

که ادب: پوهې، زيرکۍ، ښه سلوکو کړه وړو او لوړوالي ته ويل کېږي.
يا په اصل کې ادب هغه پوهه او ګړنه ده، چې انسان ته لوړوالی ور په برخه کوي، په خپلو کړو وړو کې يې له سهوې او ښوېيدنې څخه ژغوري.
زموږ او زما پېيلي زما احساس کټ مټ لېږدوي، ستاسو لوستونکو او اورېدونکو پرعواطفو اغېزه کوی شي. ځکه ما له رښت څخه خپل برداښت په ولوليز ښه انځور کړي دي. همدې ته ادبيات ( ليټريچر) هم وايي چې لوېديځوال بيا د ټولو له چاپه راوتو اثارو ټولګې ته وايي.
ځکه دې برخې ته ښوېيدنې نه وايي چې زما له پامه په نوموړي برخه کې کښل شوي دي. بويمه چې پېيلن او پېيلنه د وګړو اېنداره وي، اېنداره اړېينه ده چې پاکه او ښکلې وي، اېنداره اړېينه ده چې چټله، خېرنه، پرې، ماته، لوخه نه وي چې بيا په کې هرڅه د وګړو له تبکې وېستلي ځرګندېږي. خو ځيني پېيلي په دې کښلي کې چې هغه د سکالو له مخې له تبکې وېستلي دي، هغه د نړۍ والو نورو هېوادونو ميلي پېيلو په ډول په ټول ټاټوبي کې يوازې زما پېيلن په دې کښلې چې نوم يې د ټاټوبي ميلي پېيلې دې په کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلې ۱۵ چوپړی

زما موخه په هېڅ بڼه داسې نه ده پاتې شوې چې د لوستونکو ذهني سويې ته خپل د مېچې کچه (معيار) راټيټ کړم، بلکې جغات مې داسې څرګند پاتې شوی چې د لوستونکو اند او وند مېچې کچه را لوړ کړم. زما پېيړانی (شاعری) د پېيلو پر بېلا بېلو کالبونه د غړيز او څپيز خجيز جوړښت عملي کېږي.
دېری يې د پښتو ژبې د غړيز او اهنګين جوړښت پر بنسټ رامنځ ته شوي. خوند يې په بډايه پښتو ژبه کې دی چې دېری يې پښېله (قافيه) او ان لړونه (رديفونه) نه لري، ځنې يې بيا له دې رښت څخه هم ازاد دي.
دا سمه خبره ده، تر اوسه پورې د پښتو پېيلو ټول کالبونه (ژانرې يا فورمونه) دې څرګند شوي وي.
د دارنګه کالبونو مجموعه به له دوې سوو او څلوېښتو بېلابېلو جوړښتو ته ورسيږي. چې دا کالبونه د پښتو لحجې له منځه وړي او يوه ټاکلې پښتو ژبه له کټورې انګېزې سره د وګړو زهن پوهې ته رسوي.

د پښتو وګړې (ولسي) او ګړنې (لوستې) پېيړانی ځينې سرغندوي (مشهور) ژانرونه (کالبونه، فورمونه ) له بېلګو سره په کتابونو کې شتون لري.
په دې کښلې ( ليکي، کتاب، ټولګه) کې به داسې څه و وينئ چې په هغه کښلو کې نه وي، لکه د پښتو وکړنې پېيلې لمن چې دېره پراخه ده او تر اوسه لا د هر کالب (فورم) ټول ډولونه او د هغه بشپړې بېلګې نه دي پيژندل شوي. کومې چې پيژندل شوي له هغه پرته نور داسې پېيلو کالبونه شتون لري چې په پورتنۍيو کالبونو کې نه راځي ما د خپل فکر او ژوند د اړتيا له مخې د نورو پېيلنو (شاعرانو) پېيلو (شېري ، شعري ) کالبونو له پام کې نيولو پرته رامنځ ته کړي چې ځانګړې نومونه هم نه لري.
هر تن د خپل ذکاوت په اندول له دېرو ويکو پېيلې څخه په بشپړ بڼه اشنايي پيدا کوی شي په کې. د دېرو ويکو پېيلې چې ويکو ګڼه يې په پايليک کې ( په هم هغه مخ کې) يې مانا او څرګندونه ليکلي وی نه ځايي ده، چې ځينو ويوکيو لا يوه يا دوې مخ پانې يا چوپړي ځای نيوه.

نو د همدې له پاره مې لکه د نړۍوالو ژبو په شان د هر سخت او پېچلي وی ( وييکي، ويکو يا لغاتونو) چې په غونډله (جمله ) کې يا د پېيلې (شعر) په کوم دوې مسرو ( بيت ) کې راغلې وي.
هغه په پای کې له پايلې وروسته په وييزبرمه يا د ټاټوبي ملي پېيلې ټولګې د پښتو په پښتو تشريحي وييکو چوپړي کې د چوپړو (، مخو، صفحوستو) له شمېر سره په کې ياده ونه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه اړخه وګړنې پښیلې موږ ته له لرغون پېر څخه خوله په خوله، لور را لور، کور را کور، سینه په سینه او د سندرغاړو له خولې را رسېدلي دي.

له بل اړخه ګړنې ادب (کتابي ادب، د لوستو وګړو پورکړې پېیرانی بڼه) ادبي فنونونه (مهارتونه) له عربی ژبې څخه زموږ ژبې ته په زوره رامنډل شوي دي او د عربي ژبې ادب څخه موږ ته راغلي دي. ځکه د ډېرو پښیلنو او پښیلنې ( شاعرانو او شاعرانې) په پښیلو (شېرونو یا شعرونو) کې نیمګړتیاوې شته.
لکه د حمید مومند په باره کې د پښېلې (کاپیې، قافیې) عیبونه، د رحمان بابا په باره کې د لړ، څپېزو او زورنې (ردیف، سیلاب او خجونو) عیبونه شتون لري.
له بل اړخه په ټوله نړۍ کې به په شمېر داسې پښیلنو (شاعران) وي، چې له شل کلنۍ نه په کوز عمر کې دې پښیلن (شاعر) ټولګه کښلې وي، زما پښیلې او پېیرانۍ (شاعري) د شل کالونو څخه په کم عمر کې د ,, څلېر کې د دود دود،، په نوم شوې ده. چې ځینې او ځنې پاتېشونې پښیلې یې د لمپاکا (لغمان) چارپېریال راټولې شوې وګړنې پښیلې (لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ) دي چې په دې ټولګه کې شتون لري.

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ څرګندونه، تعریفونه، بېلونکې نخښې، د اوازټېټوالی او لوړوالی، د کچې اندازې، د لیکوالو په څېړنه کې زما څېړل او څرګندول چې روښوي کتنه داسې، عیبونه او کمتونونه، د رنګونو ښکاروندي، په ولسي ادب کې ځای او بېلګې؛ د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ بېرته یې خپل د اصلي ځای استعمال ته راوړۍ؛ د نورو نویو جوړولو تکل یې؛ آړوتي غني کول او خپرول یې؛ موندل او د ولس له منځه یې ټولول؛ اوسمهال یې د ډېرولو تګلاره؛ دې پښتو ګړنې پښیلو ته د ادبي ښکېلاک ګرو ارزښت ټاکل؛ ځای؛ آړوتی (شرط)؛ آر (اصل)؛ د پیل پېر، لرغون پېر، زوړ پېر او روان پېر پېخلیک (تاریخ) د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو؛ پېر (وخت) یې؛ ستر تاثیر لرونکی او وېشونکی لوری یې؛ د کره پښتو لیکلارې ابېځو غږېزلیک ( غږ) په سټه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ؛ د صفي الله فردوس په لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کې تشبې؛ د ختېځ لومړي نمبر څېړونکي په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې له بېلګو سره مشبه، مشبه به، تشبې وجه، د تشبې توري، تشبې پټه، وتلې تشبې، نغاړلې تشبې، نادره تشبې، مبتزله تشبې، لسپانۍ تشبې (مرسله تشبې)، ټینګاره تشبې (موکده تشبې)، ډېرښته ټینګاره تشبې (اضافي مؤکده تشبه)، ستاینوړه ټینګاره تشبې (توصیفي مؤکده تشبه)، مازې ټینګاره تشبې (مؤکده محض تشبه)، ګډېغونډلې، د پښیلو نګېرګډون ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری یې؛ رښتنی وېش د دوی د منځپانګې او سکالو له مخې؛ د (دیني؛ بډاینې؛ غنایي یا بزمي؛ حماسي یا رزمي؛ ښوونېزې یا تعلیمي؛ مدحي او ستاین؛ انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي یا ټوکیزې؛ ویرنه یا مرثیه، ساندې؛ مبارکی، هرکلي یا د تهنیت؛ د ګیلو، ګیله من او شکایتونو؛ وړتوب یا وصفي؛ هېوادپالنې؛ دوستي باورکولو؛ ځیرکې؛ پوهګړې؛ کورنۍ ته د غاړې اینودنې؛ ورکړ د ډالۍ ورکولو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېيلی ۱۷ چوپړی

دندې کې د ټېټوالي؛ ټکرکولو مېراني؛ د ژوند لارې لوړې ارزو؛ زړه سوی او رښتې ټولوالي؛ لیدل او رهبری؛ مېلمه پالنې؛ ژبې نښتېځونکې؛ وراشې یا وجیزې یا متل؛ ورمي او لوښي) لنډیو، ټپې، ټیکی‌یو او مصرۍیو بوړول؛ څرګندول، له پښتو يې په اینګلیسي ژبه کې بوړول او د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې؛ د دوی انګړ او یېبره (حاصل یا ثمره)؛ د دې هر یوه څېړلو ته زما اوړدېپری (اوږد پړاوی) او اوږدمنګی (اوږد عمری) لید لوری زما په تېرو کښلو کې,, د لنډیو، ټپو، ټیکی‌یو او مصرۍیو انګړ څېړنچوپړو ( ریسرچ پانو) – لومړي، دوېیم او درېیم ټوک کې و ګورئ.

په دې کښلې کې یوازې يې بېلګې د رنګونو ښکاروندي، لکه:. لنډیو د رنګونو ښکاروندی: ګڼ تورځکی شین رنګ دی. اسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده؛ د ټپې د رنګونو ښکاروندی: ځیګري رنګ دی. آسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده؛ د ټیکی د رنګونو ښکاروندی: بادامي رنګ دی. ګلابي رنګی هرم يې میرمنو ته د منسوبتیا نښه ده؛ د مصرۍ د رنګونو ښکاروندی: تت نصواري رنګ دی. آسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتیا نښه ده. ګڼ تورځکی شین د لنډۍ، ځیګري ټپې، بادامي د ټیکی او تت نصواري رنګ د مصرۍ دی، اسماني رنګی هېرم يې د نر نوري اړوند یا منسوبې چې د نرانو له لوري ویل شوې وي؛ ګلابي رنګه هېرم يې د ښځې نوري اړوند یا منسوبې چې د ښځو له لوري ویل شوې وي، په ګوته شوې دي.

درنو لوستونکو نه هېله لرم چې په هره بڼه یادونې او وړاندېزونه لرئ راته يې په ګوته او رابرېښلیککړئ.
له دې سره به نوی پښت دا کابو و مومي چې تر دغه منځ یوه پرتله و کړي او یوه پایلنیوي ته خپله ورسي!

ټولو لوستونکو ته روغتیا او سوکاله هوساینه، اوږد نېکمرغه ژوند، سرلوړي او بریالیتوبونه غواړم!!، بریا مو تل په برخه!، د بر ښځه په ژوندوني او مړوني کې ورته د خوشحالۍ، سوکالۍ، بډاینې او وداني هیله کوم!!!

**په درنښت**
ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس
**د وټساپ نرمکالي اړیکه:** ۰۰۹۳۷۸۶۹۰٤۷۹۹+
**بربېښنالیک:** Safiullah_firdows@yahoo.com
Safiullah.janan@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦. ننه توزې (پېليزه، پيله، سريزه، مخکې وينا، مقدمه)

زه به په لنډو ټکو کې په ننه توزې کې و کاږم، چې د ټاټوبي ميلي پېيلې، د ټول پښتون پښت له پاره دی، د وګړو له خولې مې ډېرې راټولې کړي دي، چې د وګړو تر منځ په ناستو، مجلسونو، پسپسونو، د کرارې مېلو، سيلونو او ودونو کې يې وګړي وايي.

د ټاټوبي ميلي پېيلې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ په نوم يادېږي. دا پېيلې د دې ټاټوبي د وګړو له پاره لرغون ټاکلی ربښت (قانون) دی. هره يوه يې د وګړو د ژوند هرې بېلابېلې برخې او ګټوره ښکاروندی (سټنډرډ) ربښت بوږوي.

د دې پېيلو چې په څېره کې يوه بنه لري خو د دننۍ برخې او سکالو له مخې بېلوالی لري؛ د يوې کره پښتو بشپړ هر اړخيز مانا لرونکی له مانا ډک انګېزه کونکې مانا لېږدوي چې وګړي پرې د ربښت منلو او غاړه ايښښودلو لور ته په تګ راولي.
ځينې کړنو د کولو او ځينې کړنو د نه کولو ښوونه او روزنه ورکوي له هر اړخيز ګور (کټلو) کونج ( زاويې) سره.

د ټاټوبي ميلي پېيلې ( لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ) چې لرغون ربښت دی. نوموړی ربښت پېښې ( غبر، مادې، توکي، مواد، جوهر، اندازې، جسم، سکالو، موضوع، پوستې، اهميت لرل يا غوراوی) ۲۱۹،۵۶۴.۰۰ دوې سوه او نولس زره او پينځه سوه او څلور شپېته دانې دي يا قانونه يا د قانون مادې لري. چې سينه په سينه د وګړو له لوري خوله په خوله، د پيل پېر له پېر څخه راغلي دي او ځينې يې نوې پنځوني دي چې له زېږدي پېر څخه دلته په ۱۷ زېږمو څخه ما راټولې کړي دي، زما کښلی د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو څېړنچوپړو انګړ لومړي ټوک کې د دوی ټولې سره ګډې د ټول ټال د کچې ګڼه سپينې ته را و باسي.

د ټاټوبي د ختيځ لومړي نمبر څېړنکي په ډول زما صفي الله فردوس له اند، وند او پند څخه د ټاټوبي ميلي پېيلې هره يوه لاندې ۱۴ بنسټه او دا بنسټونه ټول ټال ۱۲۶ډوله کونجونه (زاويې) لري.

١. نوموړي ربښت ځانته ټاکلي څلور نومه ( لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ) لري؛
٢. څلور رنګه لري:. لنډيو د رنګونو ښکاروندی: ګڼ تورڅکی شين رنګ دی او اسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتيا نښه ده او ګولابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ښځو ته؛ د ټېپې د رنګونو ښکاروندی: ځيګري رنګ دی او آسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتيا نښه ده او ګولابي يې ښځو ته.؛ د ټيکې د رنګونو ښکاروندی: بادامي رنګ دی او آسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتيا نښه ده او ګلابي رنګی هرم يې مېرمنو ته د منسوبتيا نښه ده؛ د مصرۍ د رنګونو ښکاروندی: تت نصواري رنګ دی او آسماني رنګی هرم يې نرانو ته د منسوبتيا نښه ده او ګلابي رنګی هرم يې مېرمنو ته د منسوبتيا نښه ده. ( د پښتو پېيلو پينځه ځلوېښتو او يوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو پېيلو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ) مې په ۱۳۹۵لېږدي کې وندی بوږولی او په راتلونکي پېر کې د پښتو ژبې د ټولو پېلو رښت ځرګندونه کوي.)

۳. هره يوه يې دوې مسرې ( نيمه کړۍ، نيم بند، يوه پټ، نيم بيت) لري؛

٤. هر يوه يې لږ تر لږه ځلور غونډلې لري يا دوې غبرګغونډلې يا ګډېغونډلې لري؛

٥. يوه لړ (رديف ) د هې (ه) ابېځه په اوږدې مسرې په پای کې لري؛

٦. يوه رښتې پښېله ( پينۍواله کاپيه، حکمي قافيه يا عالميه کاپيه) په اوږدې مسرې په پای کې لري؛

٧. يوه ترنګټوک د اوږدې مسرې په پای کې يا په ځوړ ( پربوتلو خوږ غږي غږ) يا په لوړ ( پورته تلو خوږ غږي غږ) د ( وه، يينه، نه، مه، له، ره، ړه، يه، که، وه، شه، ښه، ده، ډه، ... .) لري؛

٨. د پښتو ژبې پېيلو د ځپېزې او زورنې ټولوالې ( سيستم ) په بنسټ د پيلنۍ مسرې ( اولې، لومړۍ يا لنډې مسرې) ۹ ځپې وي له سرباري، منځباري او بېځباري ديفتنګونو او پارنويکو پرته لري او د پايلنۍ مسرې ( اخيرۍ، دوېيمې يا اوږدې مسرې) ۱۳ ځپې وي له سرباري، منځباري او بېځباري ديفتنګونو او پارنويکو پرته لري. هرګوره چې ورسره دا توکي ګډ شي د ځپو(سيلابونو) په ګڼه کې ډېروالی راځي، هغه که په هره کچه وي، همغه کچه ور سره ډېروالی مومي؛ زورنې ( فشار، خج) د پيلنۍ مسرې په ځلورمه او اتمه ځپه زورنه وي او د پايلنۍ مسرې په ځلورمه، اتمه او دولسمه ځپه زورنه وي. يا يې د هرې ځلورو ځلورو ځپو ځخه په اوله، اوله ځپه، يا دوېيمه، دوېيمه ځپه، يا درېيمه، درېيمه ځپه او يا په ځلورمه، ځلورمه ځپه زورنه وي. خو پينځه، شپږ، اووه ځپيز غونډ او وی ډېرې لږ په پښتو ژبه کې شتون لري ( لکه: ، پنځهونېواله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکاراګووا، تورکمېنېستان، کېرغېزېستان، ګواتیمالا، انتهرکنیکا) په پاینۍ څپه یې ډېرې پېر او لږ پېر یې ځانته، ځانته په یوه ابېڅه زورنه وي؛

۹. د بې سروبوله انګېرنې له مخې زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې ۵۴ شمېرې لري؛

۱۰. څلور ډوله پېخلیک (د پېل پېر پېخلیک، لرغون پېر پېخلیک، نوي پېر پېخلیک او روانپېر پېخلیک یا تاریخ) لري؛

۱۱. د پښتون پښت د پېل پېر پېیلنو (شاعرانو) پېیلنې (شاعرانې) په پنځې ډول کبنلې دي چې یا به نر نوږې له لوري لیکل شوې (اړوند، منسوبې) وي او یا به ښځې نوږې (جنس) له لوري لیکل شوې (اړوند، منسوبې) وي. د نومړو پښتنو پېیلنو او پېیلنې پېیلې ( پېړان، اشلوک، شېرونه، شعرونه یا اشعار) چې یوه له بل سره پرې خبرې کړې دي، ویلې دي، یوه بل ته یې غږ کړی دی.

کچه یې ۶۰۰۰۰۰ زرو ویکیو، وی یا لغاتونو ته رسېږي. د کوم تن چې څومره ډېر له یادو یاد وي په نورمال بڼه هر پښتون له ۳۰۰۰۰ څخه ډېر پنځې بڼه پښتو ویکي یاد لري چې د پښتنو په چارپېریال کې زوکړه شوی او ژونګړ وي، له پاتې شویو ۵۷۰۰۰۰ ویکیو هر وګړي یادکړي نه دي، ښوونه، زدهکړې، په په پرې چارپېریال کې پاتې شوي چې په هغه چارپرپېریال کې د کور په دننه په خپله ژبه خبرې نه کوي له خپل کهول سره، په داسې کړنه اړینه ده چې د پښتو ژبې ویکیو ته مو شا شي، د دې له پاره د پښتو ژبې ویکیو څخه نټه (انګار) سپین سترکي ناپوهي ده. د دې له پاره چې یوه ژبه د هغې په ویکیو یا وییزېرمو یادولو، لیکلو او لوستلو زده کېږي. چې دا درې نه وي له کومه به زده شي.

د نورو ژبو پرته له تکنالوژیکه او نېه وی (لغاتونو) څخه پښتو ته پور ویکیي رامنډل شین کوپر (کفر) دی یا له بر یوه الله څخه نټه ده، نټیالي داسې پام کوي په ناپوهۍ او تیارو کې چې الله مه کړه الله په پښتو ژبه پوهېږي نه، او وګړي یې چې ترې بخښنې غواړي هغه اوري او منې نه. له پښتون څخه هېڅ باندنی او پردی تن په پښتو کې ډېره پوهه نه لري لکه زما په ډول.

پښتانه چې څه په خولې وایي همغه بڼه یې لیکي، پرته له ناسمو لهجو څخه لیکل، یوه پښتو کره پښتو دوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پېل پېر پېخلیک څخه په ټوله پېنۍ کې پښتو ژبه د جګړې ژبه ده، یوه څه په کې شته دي چې د لمک له پېر څخه نیولي تر روان پېره پورې پرې تړاکګر حملې روړې لمپاکاته ( لغمان ته).

هر غړ یې یا وی یا غونډ یې چې میلي پېیلې کې شتون لری ۷،۵۶۷ کاله زوړ پېیخلیک لرغونوالی لري. د دې پښتو ویکیو ( پېخلیک یا تاریخ) یې له نن ۲۰۲۴ زېږدي څخه ۷،۵۶۷ کاله وړاندې تېر پېر ته رسېږي. چې ښېیګه یې په لاندې ډول ده. لکه:
مور(ادې)، توړی (خاله)، توړی زوی (خاله زوی)، توړی لور(خاله لور)، ترور(عمه)، تروړزیه ( تروزوی)، ترورلور، خور، خوریه، خورزه، اښشی(اندېښنه کونکی، ریوهونکی، مشورهکونکی، ځېرکېدلی، اوښی، د خور مېړه یا د ښځې ورور)، ورور، ورېره، وراره، ورېندار، لور، زوی، مسی، مسی، کړوسی، کړوسی، کودی، کود، اودی، اودی، پردی، پردی، تره (کاکا)، ترله (کاکی)، ترهزوی، تره لور، تره مسی، تره مسی (کړوسی، کړوسی، کودی، کود، اودی، اودی، پردی، پردی)، تربوران (د تره پښت)، ماما، موانې، مامازوی، ماما لور، مامامسی، ماما مسی (کړوسی، کړوسی، کودی، کود، اودی، اودی، پردی، پردی)، ماماخېل(د ماما پښت)، اېنګور، اېندرور، ښځه (مېرمن، مندینه، ارتینه، مینا یا ښاروګی)، بن، برکتی، برکتی، بډه (کوشنیوالي مل یا ملګری)، بډی (کوشنیوالي مله یا ملګرې)، پلار(ابا)، پلندر(د مور بنی یا د مور بل مېړه)، بنی (د مور بنه)، نیکه (د پلار، پلار)، لوی نیکه (د نیکه، پلار)، ستر نیکه (د لوی نیکه، پلار)، غورنیکه (د ستر نیکه، پلار)، ټرنیکه (د غور نیکه، پلار یا پښت غځېدونکې پلارنی یا مورنی نیکه)، نیا ( د پلار مور)، انا ( د نیکه مور)، لویه انا (د انا، مور)، ستره انا (د لوې انا، مور)، غوره نیا (د سترې انا، مور)، ټره انا (د غورې انا، مور یا پښت غځېدونکې پلارنی یا مورنی انا)، لویه ادې (د مورنی نیا ادې یا مور)، اکه (مشره ورور)، کوکی (مشره خور)، ښېنه ( د ښځې خور)، ښېنې لور، ښېنې مسی، ښېنې مسی (کړوسی، کړوسی، کودی، کود، اودی، اودی، پردی، پردی)، باجه ( د ښېنې مېړه)، خوسر (د ښځې پلار)، خواښې (د ښځې مور)، کاکاخسر(د ښځې تره)، ماما خسر (د ښځې ماما)، نانی (هغه تن

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له ۱۴ کلونو يې د عمر کچه کمه وي او ته يې پېژند نه پېژنې چې څوک دی نوموړی، او په عمر کې يې عمر له تاڅخه لږ وي، د خبرو اترو له پاره پرې غږ کوې، نانی يې ښځينه نوږی دی)، نيمنانی(نيمچه ځوان)، نيمنانی (نيمچه پېغله)، کاکو (هغه تن چې له ۱۴ کلونو يې د عمر کچه لوړه وي او ته يې پېژند نه پېژنې چې څوک دی نوموړی، او په عمر کې يې عمر له تا څخه لوړ وي، د خبرو اترو له پاره پرې غږ کوې، کاکی يې ښځينه نوږی دی)، کونډ ( چې مېرمن يې مړه شوې وي)، کونډه (چې مېړه يې مړ شوی وي)، ورورنډه (چې ورور يې مړ شوی وي)، خورنډه (چې خور يې مړه شوې وي)، بوره (چې زوی يې مړ شوی وي يا لور يې مړه شوې وي)، خپل، دوست، هډ (اډوکی يا د پلار پښت)، سلوک (اخلاق)، يې، د، و، ده، وو، ځکه، درې، منی، وېشتل، کوي، نه، زه، زمری، اتل، نرۍ، پينۍ، وګړي، ژوی، سړی، ښځه، نوږی، لمپاکا، لمک، ټاټوبی، پښت، پخت، ځای، پکتون، پنه، وار، نه شته، شته، درناوی، مېړانه، اتل، ودنه، لولي، کوي، ځه، ځي، راځه، مه ځه، کوه، مه کوه، کړئ، کې، بې، دې، چې، دی، ځی (ځای)، اړي، شمله، مېړانه، ناوې، شا، لاس، سر، غوږ، ژبه سترګې، هډ، نس، کړنه، لوړ، دنګ، اس، غوايی، سپرلی، سمڅه، غر، سين، ډبره، زمکه، پرخه، پول، غرګی، نری، غټ، چاغ، پېر، پنډ، وندی، ځغ، غږ، منه، بڼ، ننه، ننکی، بيانکی، کټی، کيسکی، سپی، سپۍ، چرګه، بانګی، چرګوړی، پيشو، لېوه، لېوګۍ، لېوانی، بړ، باز، باښه، سپينوزری، توروزری، الوتنکی، ... . دا ټول ويکي ( وۍ، يا لغاتونه زاړه دي، او پېل پېر، لرغون پېر پېخليک لري. بل لورې ته د پښتو ژبې نړه او کره وييزېرمه ځکه ډېره ده چې په نورو ژبو کې هرې اړېکې او لوري ته ځانته وۍ نه شته. يو نادره سپينسترګي د پرديژبو دا همده چې د دغه لاندې د دوې لېنډيو په منځ کې بېلګو په بڼه وۍ يې له عربی او دري څخه زموږ خپلې پښتو کره وۍ چې له دوې لېنډۍيو څخه باندې دي لرغونې دي خو پر موږ يې په خبرو اترو کې په زوره رادود او منډلې دي لکه:

[ وټه ( اقتصاد)، وټيزه (اقتصادي)، هاميانی ( پيسې)، منډهۍ (مارکيټينګ)، منډهی (مارکيټ)، ځغاستی (دهلېز)، پلغاړی (زينه)، پوړ(منزل)، غولی (فرش)، بام (چت)، تمځای ( استګاه)، ودرېدوکه ( ايستاندن، قوف، سټاپ)، ښار (بازار)، پلورل ( خرسول، خرسلو)، پېرودل ( اخستل، خريد)، راکړه ورکړه ( پلور او پېرود، پلورل او پېرودل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستل او خرسول، د دري ژبې فروش او خرید وی)، راکړې ورکړې (تجارت)، کونج (زاویه)، درې انګلی (درې څنډی یا مثلث)، څلور انګلی (څلورڅنډی یا مربع)، درې انګلی ( مکعب)، ګردی (دیره)، نیمی ( قطر)، وړانګه ( شعاع)، اواره (سطحه)، چارپېریال ( محیط)، وبی ( محلول)، مالګوبی ( د مالګې محلول)، ګړووبی ( د ګوړې محلول)، ټینګوبی ( غلیض محلول)، نری‌وبی ( رقیق محلول)، ټوټونی ( قطاع)، پرېکونه ( پر لنډوپړې ، پر اوږدوپړې قطعه)، پرېکونه یا غوځونه (عملیات)، پرېکونې یا غوځونې (عملیاتونه)، کیڼ لیدل، ښی لیدل، له ښکې لیدل، له سر لیدل ( لیفت ویو، رایټ ویو، باټم ویو او ټاپ ویو د اېنګلېسي وی، لیک ( مکتوب)، ور (دروازه)، کړکی ( اشداره)، زنځیر (پاټک)، چړچوبی ( تشناب، خاکانداز)، وریا (شاور)، څلی(برج)، چوړګه مېنه (ګاردهوس)، شپه میری (پولیس)، ساتونکی (اوردو)، کلیوال شپه میری (اربکی)، چوپړی (مخ)، ژی (کناره)، ... . ]. د پښتنو له ژبې را وتلي خپل نړه وی نړه دي، له رېښې سره یې د لرغونو ژبو هر څېړونکی چې د هرې ژبې تر نیمه یې وی یې یادې نه وي، هغه د دې رښت نه لري چې دا ناګڼلي و مني او په ګوته یې کړي.
چې د پښتو ژبه ناګڼلي ګڼې، په سې بدې وایي که هغه د پښتون له پښته وي، هر هغه تن چې په دې بڼه وي هغه پردي دي، پردي سوسیسان، میرڅي او دښن دي. د پښتو ژبې نتیالي دي.
ځان ته به پوهان وایي خو د پښتو ژبې یوه غونډله به کره نه شي لیکلی.
د پښتو په ابېڅو (الفابا) په کچې به نه پوهېږي چې څومره ابېڅې لري.
دوی داوې به د ډاکتری د دې ژبې کوي. چې وې پلټې په ویڅکې څښلو کې به یې ډاکتري اخستې وي، دښنو به روزلی وي، هغه څه کوي او لیکي چې زموږ د پښتو دښمنانو زموږ تاریخونه کښلي دي. که په ژوندۍ بڼه په هېندارو کې د تلویزیون په پرده ورته و وایې چې دا یوه پښتو غونډله په لیکانې (قلم) په خپل لاس و لیکه.
لکه: څرګند د سېرلي غوښه پېنځه ټوټې کړه او نړه، نړه یې په نڼه و وېشله.
په دې غونډله کې به له شلو ډېر عیبونه او تېر وتنې و کړي.
دري ژبي خو پرېږده، پرېږده، د ټاټوبي ۳۰ ژبو وګړو پښتو میلي ژبه ده او دا یې میلي ژبه ده، دوی په ناپوهۍ او ناکامۍ یې ښوونځی لوستلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. د پښتنو ژبې درې وې لکه:. ډم، ټول، ډول. نه ويلی او نه ليکلی شي. دوی خپل ویکيي زموږ ژبې ته له نوي پیړ څخه په زوره را منډلي دي.

د پردی نړیوالو ژبو په ليکلو، لوستلو او ويلو کې به يوه ټکی، يوه وټ (واټن، فاصله يا سپيس)، يوه ابېڅی غلتي نه کوي، لکه د اېنګلېسي ژبې نيم وی (نوم Name ) نامي نه وايي او نه به يې, ناسم ( Nem) کښني کره به يې ( نيم) وايي او کره به يې ( Name ) کښني. د پردیو ژبه به يې له ټولو رښت (قانون) او دود سره زده وي، د خپلې ژبې ويکي (وی ، لغاتونه ) به زموږ په ژبه رامنډي، خو خپلې د ټاټوبي ژبې ته بيا وايي چې موږ ورته اړتيا نه لرو، که ورته ته وايې ښه اړتيا اړينه د دې ټاټوبي لري، اړينه به پرې غږېږي او ليکي به يې هم په دندو کې. که ته ورته د دوی په ژبه خبرې و نه کړې تاته متعصب وايي خو چې هغه ستا ژبه نه وايي بيا هغه متعصب ( يا بېلونکی د پوست، رنګ، ژبې او ټبر) ځان ته نه وايي. زموږ لرغوني اثار تراکګرو ۲۳٤۱ کاله وړاندې سوزولي، له ځان سره وړي دي چې لرغونتونو کې يې پراته دي، چې د کلونه د شمارلو ګڼه يې ناشونې نه ده، يوازې په خوله ويل کېږي ۲۳٤۱ کاله وړاندې، يونانيان او اسکندر مقدوني له ميلاده څخه مخکې په لمپاکا کې ماته خوړلې. زموږ له پښت څخه يې د پښتو ژبې ليکل له منځه وړي دي. چې دا د ښن ترټولو برلاسی کړنه ده، موږ پرې پوهېږي، خو د مخې ډېکولو وړتيا يې نه لرو، لکه امريکا له دوی څخه موږ ۳۵۰ کاله ورسته يو. ما تاسو ته په ګوته کړه او په راتلونکي پیړ کې په لوړو علمي څېړنو، منولو د تولندي (موټرو)، پنځونو، ليکدړو، نخښو، لويو لارو، وټيزو برخو کې ترې په کره ښه ګټنه واخلئ او پښت کې د خپلې ژبې يوه رښت کره پښتو ليکل ياد کړئ.

١٢. د پښتو ژبې ميلي پېيلو د علمي ليکلو، لوستلو او ويلو خپل پښت ته په لاس ورکئ او تر ټولو غوره د پښتو ليکلو کړنه په کې پنځه کړئ؛

١٣. ١٥ بڼې تشبې لري؛

١٤. رښتنی وېش د دوی د منځپانګې او سکالو له مخې ۲۶ ډوله دی.

د هر پښتون لږ تر لږه يوې يا دوې داني لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصری له يادو يادې وي. له همدې اړخه د ټاټوبي هر وګړی او وګړې دا ملي پېيلې کښلې، ويلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلې ۲۵ چوپړی

لوستلې دي چې د پښتونوالي دود ربښت، د پښتنو د ژوند کړنلاره، سلوک، مېړانه، پت، عزت، غيرت، توري، سپرې، اړي، پند، اند، وند، ژبې د عمر غځېدو تړغر خوروي. ليکل، لوستل او ويل يې زموږ په زوزات کې زيرکتيا، رمټيا، وېختيا او غښتلتوب او ځرګندوالی پيدا وي.

د ټاټوبي ميلي پېيلي لکه زموږ د ميلي يوالي (۳۰ بېلابېلې ژبې او ولسونه چې ډېرګڼه يې پښتانه دي او د مشر ورور په ډول په ټولو مهربانه او زړه سونده دي).

په پينۍ واله پنډوسکه کې ټول هېوادونه ځانته ميلي توکي يا شيان لري، په ورته بڼه له هغوی وړاندې موږ ميلي توکي درلودل. لکه:

ميلي نخښې (دريځ، غنمو وږی، توري، هاميانی، توپونه، کليمه، د روښنايی وړانګې روسولو ليد چې د ميلي بيرغ په منځ کې په ژېړ رنګ شتون لري دی.)، ميلي بيرغ (تور، سور او زرغون رنګ څخه جوړ شوی دی، د زمري اوومه يې ورځ ده.)، ميلي اله (رباب چې لنډ رباب يا ننګرهاری رباب يې بولي)، ميلي توکي (ځغ)، ميلي الوتونکي(باز)، ميلي نڅا(اتڼ)، ميلي ختې (څادر، واڅکټ، خولی، لونګی او څپلی)، ميلي کالي (غالی، کټ، منګی، پياله، کاسه) او ميلي خواړ (د شپانه وريته کړې غوښه يا د شپانه کباب)، ميلي لوبه ( وزلوبه)، ميلي ساز (چارباغی)، ميلي تړې ( د هوتکو)، ميلي جرګې ( د غرغښتو)، ميلي ورځ ( شاه امان الله خان غازي د زمري په ۲۸، ۱۲۹۸ لېږدي يا د اګست ۱۹، ۱۹۱۹ زېږدي کې د افغانانو په پراخ ملاتړ او مرسته له انګلېسانو سره له سختې جګړې وروسته د افغانستان خپلواکي اعلان کړه. غازی امان الله خان په خلکو غږ و کړ چې ۲۸ د زمري د ميلي خپلواکی ورځې په نوم و لمانځي.)، ميلي پارک ( بلخ کلا، لغمان ګټې څنګ، د غور او لغمان ميخې ليکونه، سمڅې، نورستان کاپرکلاوې، پامير واخان ځغاستی، باميان بودا، د امير ډنډ او د مېسو چينه يا د عينک مېسو کان خاورې لاندې ښار)، ميلي پېيلي يا اشلوک، پېيرن، شېرونه، شعرونه يا اشعار ( لنډی، ټپې، ټيکی او مصری) په بڼه چې له لرغونپېر څخه وګړي په ډېری بڼه ترې ګټنې اخلي او لرغون دود دی. نوموړې پېيلې هم ميليي لرغون دود او مخينه لري.

زه په پرېکړې بڼه خپل اند خپلو وګړو او لوستونکو ته پرېږدم چې.

۱. پوښتنه کول هېڅ ويار (عيب) نه دی، نه پوهېدل ويار او عيب دی.

۲. لس واري پوښتنه و کړه، په يوې پوښتنه تاسو ته سم او روغ ځواب په لاس نه درځي، په لسو پښتنو تاسو ته سم او روغ ځواب په لاس درځي په هغه څه پسې چې ګرځئ.

۳. د خپلې ژبې کره ليکل تاسو ته دومره څه په لاس در کوي چې اړتيا يې لرئ، له سيالانو سره مو سيال کوي، د ژوند د لارو روزنه در په برخه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلي ۲٦ چوپړی

له الله نه تمه لرم چې زما له مرګه ورسته نه، بلکې په ژوندوني د پښتون پښت د دې ,, د ټاټوبي ميلي پېيلې ،، ټولګې لوستونکي و زېږوي، په اخځوک او بيبلوګراپي کې تر ګټنې واخلي. د ټاټوبي ميلي پېيلې ( لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ) د تعريفونو او څرګندولو له پاره په وييزېرمه کې د ابېڅو په ويکيو کې راغلی دی وې وينئ.
يوازې د مصرۍ تعريف ( څرګندونه، ښکارونه، دوی د يوه توري يا سکالو تشريح کول) څخه دلته يادونه کوم چې ننه توزې پرې را لنډه کړم.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نيکونو خپل د ژبې يوه دوې سرې پېيله ( پېړان، اشلوک، شېر يا شعر) يې د مصرۍ په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو دوې سرې پېيلې له مصرۍ تورې او مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه: د مصرۍ ځانګړې ځانګېړنې

۱:- ډېرې ښايسته وي، ۲:- ښه نادره توازن لري. ( چې لومړی د لاستې برخه يې لنډه او دوېيمه برخه يې چې تېره وي اوږده، د مېچې منځه ( ثکل مرکز) يې د مصرۍ دواړو مسرو ته ورته وي.)، ۳:- ډېر ژر تاثير کوي، ۴:- انسان په يوه وار له منځه وړي، ۵:- يوه وار يې سړي ته بس دی، ۶:- بېلابېلې بڼې لري، ۷:- درې خواوې يې سړی پرې کوي، ۸:- په پام او ناپامۍ کې انسان نه کړېکې باسي، ۹:- ډېرې لرغونې دي او لرغون روغ رښتي (دودي، قوانين) دي، ۱۰:- لرغونې اندازه کړل شوي، ۱۱:- لرغونې څېړل شوي، ۱۲:- د مصر هرمو غوندې جوړونکی يې معلوم نه دی، ۱۳:- لکه هرم پوره برابر شکل لري چې د الله کوم مخلوق رغولې دي، ۱۵:- زوروري دي، ۱۶:- په هر ځای کې ترې ګټه اخستل کېږي، ۱۷:- د ننداړو شيان دي، ۱۸:- وهم لري، ۱۹:- زور دی، ۲۰:- په مينه ساتل کېږي، ۲۱:- تل انسان سره وي، ۲۲:- مکارې وي لکه لنډې مصرۍ تورې، ۲۳:- د مېرمنو د مستۍ او د سړو د سرلوړۍ توکي دي، ۲۴:- درندې دي، ۲۵:- سختې دي، ۲۶:- جوړول يې ګران دی، ۲۷:- ډېر ارزښت لري، ۲۸:- ننداړ چيانو ته يوه ابلاغ وي، ۲۹:- مينه ناکې وي، انسان مينه پرې راځي، ۳۰:- په ډېره باريکۍ او مينه جوړېږي، ۳۱:- په خپل ځای کې کارول کېږي، ۳۲:- ډېرې لنډې دي.

موږ ته يې دا همداسې را پرېښې دي او په همدې بڼه يې پوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ چې دغه پورته ۳۲ ځانګېړنې و درلودلې. ښه غوږ ورته و نيسئ، پام ورته و کړئ، نو بيا يې پېژنئ. چې دا مصرۍ دي چې د مصرۍ تورو او مصرۍ خصوصيات لري. لنډۍ، ټپې، ټيکۍ نه دي، ښلوالی يې پر همدې ځانګړو ځانګېړنو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, لکه دا لانديې زما مصرۍ چې د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پېنځم بلاک، لومړي پوړ، دوېيمه کوټه کې مې د لېږدي کال pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ E۱۰۲ ,۱۰:۰۰ کې کښلې وه:

▲ په سپينه ږيره سودايي يې
جومات کې کې نه عبادت و کړه ږبنه ،،
(صفي الله، ۱۳۸۸ ل ل کال، ۲۲۸ چوپړی).

د دې مصرۍ تاثير همدومره ډېر دی. چې سړی يې پرې غوڅ کړی هم وي، خو توره لا په وينو نه وي شوې. خو دی وروسته پرې پوهېږي، چې ترې وينې څي، دی خبر هم نه وي. د دې مصرۍ به ايله لس کاله کېږي، چې زما له پښتنه پښت جنتيک زهن زوکړه وي، خو پورتنۍ ټولي ځاګيړني د مصرۍ لري، نو ځکه ورته مصرۍ وايو او مصرۍ يې بولو. انسان چې زوړ شي بايد د هر څه نه د کورنۍ ژغورونکی وي، له تېرو سرو او تودو څه و لري، په دومره عمر ناوړې و نه کړي، له سپين ږېرې څخه الله ج حيا کوي، ځکه ټول عمر يې اسلام دين کې تېر کړی وي، په سپين ږيريتوب کې بايد ګناهو نه توبه و کړي، نور پرې کړ نه شي، د هر انسان د سرلوړی ځای مسجد دی، د مصرۍ په بڼه شلخي (دېسي، مصنوي، سويي پنځي ) جوړېږي، په مسجد کې ناسته د دنيا او اخيرت بريا ده، غوره ځی مسجد دی، په مسجد کې ناسته، صبر، انتظار د الله ج په ثنا کې په ټول مخلوق کې د مينې ارتباط پيدا کوي، يوازې عبادت په جومات کې خوند کوي، په نه کړو يې تن لېږجن، لاړجن، ناولی، چې له خولې يې لېږ څي، همغه وي او ږبن وي.

د وی يا وييکي له پامه مصرۍ هغه دوې سرې پېيلې ته وايي چې د لرغون مصرۍ توري، مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړني، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، د مصرۍ لرغون اهرمو غوندې چې ترننه يې نه جوړونکو او نه د هغوی نومونه معلوم دي څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پيداښت سره جوښت يې جوت کړي دي.
پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، Plagiarism) د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، کښلی شي.

مصرۍ د مسرو شمېر يې ۲، د څپو شمېر يې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته. ( دفتنګونه د مصرۍ توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، په، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، په کربانه!، وروره!، کنه!، ولې اواسې نور ... .)، د پښېلې (قافيې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډلې (کلمې) نه لري. خو د دوپيمې مسرې په پای کې ترنګټوک ځپه(اهنګينه ځپه) لري، چې دوی ټول ترنګټوک بشپړوي. هره مصرۍ  بايد د ه ( زموږ خپله ,,ه،، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېڅې ده.

په واول يا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکې (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېيلې ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د مصرۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرتولو مصرۍيو، باندې يوه ربنت (دودی يا قانون) د پلې (تطبيق) وړ دی، ياني دا چې د هرې مصرۍ لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوپيمه ۱۳ ځپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصرۍ، د لومړۍ څلورمه او اتهمه ځپه؛ د دوپيمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه ځپه، زورنه (خجنه) وي. ډېری وخت په کې کومه ځپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم ځپه په خپل څه رنګوالي (کيفيت) نه پاتې کيږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. لکه:

▲ په کربانه!؛ ځان نه د غټ ساګر جوړ کړی؛ کنه
وه!؛ ټول شيطانان دې دوې لاسي سلام کوينه

د پورتنۍ مصرۍ ځپېز ( ځپه، سېلاب، هجا ,, سيليبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - خجيز ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسيقي نوټ: د خج نښنه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او تېټوالي زور، اوږدوالی، څه رنګوالی يا کيفيت ښه يي،: ټينګه , لهجه ،: تاکيد: بېلوونکې نښه: د وينا , ځانګړی، خاص او بېل، ډول. :Accent, Morphemel ،، ) جوړښت په دې ډول دی:

په پورتنۍ مصرۍ کې د تشبې ډول داسې دی: زما ( ليکوال يا صفي الله فردوس ) په پورتنۍ مصرۍ کې چې ښځو ته منسوبه ده، په پيلنۍ مسره کې ستاينوږه ټينګاره تشبې د غټ ساګر په جوړښت کې بوږولې ده چې غټ (ستر، لوی) مشبه او ستاين شوی؛ ساګر (بې واکه سا ګرځونکی، جادوګر، پېريانو او شيطانانو ملګری، کوډګر) مشبه به او ستاين دی. په همدې سته يې  ستاينوږه ټينګاره تشبې لرونکې مصرۍ ګڼم.  چې په دې مصرۍ کې يه کربانه! بلنويکی، کنه! چارټاکی ګړ ( باور و که، يا ومنه) او  وه! پارنويکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنۍ مصرۍ د منځپانګې، سکالو، محتوا، موضوع يا مسلې له مخې لاندې ډول لري، له اليده بسپنې ورکولو سره.
انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې مصرۍ په دې ډول مصرۍ کې د فرد يا ټولنې اخلاقي نيمګړتياوې، ناوړه اعمالو ته د انتقاد ګوته نيول کيږي، مسايل د هجو يا طنز په ژبه بيانيږي او يوه ډول ټوکيزې پېبيلي دي.
پورتنۍ انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې مصرۍ، بېلګې يې لکه:

په لويه کې د مصرۍ څمککچپوهنې (هندسې) رغښت يې داسې دی:.

اې ( ا ).

(- - - -)؛ ———— پ يا ل؛ (- - - -)

(- - - -)؛ ———————— ل؛ (- - - -)

بې (ب). (- - - -)؛ —— پ يا ل؛ (- - - -) (- - - -)؛ ———— ل؛ (- - - -)

څمککچپوهنې رغښت کې يې سپړنه داسې دی:.

۱. اې ( الف) د يوې لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ د کښلو (ليکو) ډول چې په ولاړه يا پورته کېدو ( اوفکي يا افقي، ويرتيکل ) بڼه روښانه کوي او بې ( ب) د يوې لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ د کښلو (ليکو) ډول چې په پرتو ( اومودي يا عمودي، ويرتيکل ) بڼه روښانه کوي.
۲. کوشنۍ ليکه (خت يا خط) ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټروييکي، ټروييکي، سټربل، اوسټربل، پارنوييکي، بلنوييکي، اندېښنې، هيېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، څانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، راځه!، کنه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، په کربانه!، په پښتيانه!، په ځلميه!، هه بچيه!، فردوس خانه!، لغمانيه!، يه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته ميره!، وی اه!، دغه راز هو، نه، ښه، ښګه، ولې...)، نومړي ټول د لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ توکي دي، چې کله هرې مسرې پيل کې، کله منځ او ډېرې وخت په پای کې ويل کيږي او د ځپو په شمېر کې ډېروالی را ولي. چې په دې بڼه کې د پيلنۍ مسرې ( نيم بند، نيمه کړۍ) په سر (پيل) کې ,, يه کربانه!،، او پای کې يې ,, کنه ،، راغلي او د دوبيمې مسر يا اوږدې مسرې په پيل کې ,, وه!) راغلی دی، په همدې بڼه کله يوه، دوې، درې او يا خلور ځپيزه راځي.
۳. منځني واټن ليکې يا يوه ۹ ځپيزه مسره ده، دوې غونډلې يا غبرګغونډلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. پې ( پ) پښپله ( کاپيه، قافيه) ده او لې (ل) لړ ( رديف) دی، چې د ۹ څپيزې مسرې په پای کې راځي او په ۱۳ څپيزه مسره کې د ـه ( هې) ابېڅې تل او اړين بنه لړ وي.
٥. اوږد واټن ليکه يا يوه ۱۳ څپيزه مسره ده، دوې غونډلې يا غبرګونډلې دي.

د مصرۍ څپيزې او زورنې

په لويه کې د مصرۍ څپيز او زورنې يې داسې دی:.

**UUUU** ;U-**UUUU**-UUUU ;**UUUU**
**UUUU** ; U-**UUUU**-**UUUU**-UUUU;**UUUU**

د مصرۍ څپيز او زورنې د لاتيني ( يو) ابېڅو لښتېوندي.

يه- کر- با **نه**؛ ځان - نه- د - **غټ** + سا - ګر - جوړ - **که** + ړی؛ **کنه!**
وه!؛ ټول- شی- طا- **نان** + دې - دوې- لا- **سي** + سه - لام - که- **وي** + نه

د دغې مصرۍ څپيز او زورنې پښتو ابېڅو لښتېوندي.

۴؛ ۱ـ ۲ـ ۳ـ ۴ـ ۵ـ ۶ـ ۷ـ ۸ـ ۹ ۲؛
۱ ؛۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲ـ ۱۳ـ ۱۴ـ ۱۵ـ ۱۶ـ ۱۷ـ ۱۸ـ ۱۹ـ ۲۰ـ ۲۱ـ ۲۲

د مصرۍ څپيز او زورنې د شمېرنوم لښتبوندي.

يه کربانه!؛ ځان نه د غټ ساګر جوړ کړی؛ کنه!
وه!؛ ټول شيطانان دې دوې لاسي سلام کوينه

څېړونکي د مصرۍ کښل (ليکل) شوې بڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصرۍ سپړنه

د دې مصرۍ سپړنه
لومړۍ مسره ۴ + ۹+ ۱ = ۱۴ څپې چې ,, یه کربان! بلنويکی او کنه چارټاکی،، دفتنګونه دي په لومړۍ مسره کي شتون لري.
دوېیمه مسره ۱+ ۱۳+۰ = ۱۴ څپې چې ,, وه! پارنويکی ،، دی. دلته ټوله ټپه ۲۸ سیلابه یا څپې شوي ده، او ولس کې دفتنګونه لرغن دود دي. دلته ټوله مصرۍ ۲۸ څپې ده، دا پنځي مصرۍ چارټاکی کړ کنه (ومنه، باور وکړه) لري چې خپله یوه ترلې څپه ده، لکه کال، مور، خور، کور، کټ او خپل یوه څپه دی او یوه وازه څپه لکه اکا ، ابا، زه، ته، بیا نه ده، ورسره دوې څپې هم نه دی، د څپې په ګڼه کې ډېروالی راوړی ولس کې دا غبرګغږونه، بلنويکي او پارنويکي... . لرغن دود دی او د نیمکی ټپې برخه ده.

١. لومړۍ مسره
٢. دوېیمه مسره
٣. ١. او ٢ . یوه مصرۍ
٤. څپې ( سیلابونه)
1 . مسره ١۴
2 . مسره ١۴
٥. زورنه (خجنه) **بولډ**
٦. تت نصواري یې د رنګ ښکاروندی دی.
٧. د اوازټېوالي او لوړوالي خطونه
٨. نرانو ته منسوبي (اړوند)
٩. دفتنګونه ,, یه کربانه!، کنه! او وه!،، دي.




د مصرۍ پېر یا وخت: (وخت ټاکل، نېټه اینبودل: پر سور برابرول: وخت اندازه کول، وخت، دوران، نېټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موقع: دم، وار، ځل: ګړی، ساعت، شېبه، غوټه: مهال: د موسیکي شېبه: پروخت، پرټاکلي وخت.) سره بېلوالی لري.

نوموړې پېیلي چې د هر پېیلن او پېیلني له خولې څخه را وځي. د پېر، ځای، د دوی دواړو بېلابېلو ډول او بنو تابع ده. چې د پېر په څومره واټن سره یې بشپړولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلې ۳۲ چوپړی

د خوښۍ په پېر کې يوه ټاکلې شېبه د پېر په مېچه پښتون پښت مصرۍ وايي. د اندېښنې، مستۍ، سوکالۍ، غم په پېر کې په بېلا بېلو کچو د پېر کې وايو او بېلې ټاکلې مودې په لاس را کوي.

د يوې پېيلې د ويلو له پاره که د روان پېر پېخليک مصرۍ پېر مېچه کړم (مصرۍ پېر مېچه کړم).

۱. په کراره ويل يې يوه بنه پېر ټاکي؛
۲. ګړندی يې بل بنه پېر ټاکي؛
۳. په اواز کې يې بل بنه پېر ټاکي؛

لکه يو ازادن دی خو ازان په کراره ناسته، مجلس کې په خبرو اترو يا نارمل خبرو کې په يوه بنه پېر کې ويل کېږي؛ ازان په اقامت کې په يوه ګړندی بنه پېر کې ويل کېږي؛ په ازان کې بيا په ډېر خوند او اواز سره اوږد بنه ويل کېږي. چې په ګيځ کې په يوه واټن او خوند؛ په ماسپښين کې بل ډول او د پېر په واټن؛ مازيګر، ماښام او ماسخوتن په بل ډول په ټاکلي پېرمېچه لوستل کېږي؛ او ما کړی دی.

په همدې بنه په ټنګټکور (موسيکۍ يا موسيقي) کې او پرته له ټنګټکوره بېلابېل واټن د پېر په لاس را کوي. که يوه لېواله خپل لېوال ته دا مصرۍ وايي په ويلو کې به په لاندې ډول د پېر وخت په پېرمېچه و ټاکو:.

**په ساده بڼه:** ۰۰:۰۰:۰۷:۱۲ (رپه: ثانيې: د کيکې: ساعته) په وخت کې وايي.
**په اواز بڼه:** ۰۰:۰۰:۱۲:۷۹ (رپه: ثانيې: د کيکې: ساعته) په وخت کې وايي.
**په خواږه غږ بڼه:** ۰۰:۰۰:۲۱:۸۲ (رپه: ثانيې: د کيکې: ساعته) په وخت کې وايي.

ځېره ۶. د ختېځ لومړي نمبر ځېرونکي په پورتنۍ مصرۍ کچه، ۱۳۸۸ لېږدی، ( ګڼه يې په: دانې)

زما پلټنه داسې په ډاګه شوې يا زما ځېرنه داسې ښودل شوې ده په ځېره ۶. کې:

۱. ځېره ۶. ماستر اېنجينېر صفي الله فردوس ,, د ټاټوبي ميلي پېيلې ،، په دې ليکي کې د دې مصرۍ کچه، ۱۳۸۸ لېږدی، ( ګڼه يې په: دانې)
۲. ګڼه: ۱
۳. راټولونکي / ليکونکي نوم: ماسټر اېنجينېر صفي الله فردوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤. ليکی: د ټاټوبي ميلي پېيلي
٥. چاپ کال: وری، ٢٨، ١٤٠٣ لېږدی
٦. تول ټال لنډی، ټپې، ټيکی او مصری (يوازې پورتنی ښخه يادونه شوې): ١
٧. لنډی Lánḍéy:
٨. ټپې Ṭapé:
٩. ټيکی Ṭikéy:
١٠. مصری Mésréy: ١
١١. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ لنډی Lánḍéy:
١٢. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ ټپې Ṭapé:
١٣. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ ټيکی Ṭikéy:
١٤. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ مصری Mésréy:
١٥. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ لنډی Lánḍéy:
١٦. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ ټپې Ṭapé:
١٧. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ ټيکی Ṭikéy:
١٨. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ مصری Mésréy: ١
١٩. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - wanâ: (ښرګند واو يا وې ښپواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢٠. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ينه - iná: ( ښرګنده يې يا لنډه يې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) يينه او ينه؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢١. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - ná: (نون زور ولري يا ربنتي پينبلي هې ,, ه ،، ښخه مخکې ابېښه نې ,, ن ،، زور و لري) نه؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢٢. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( manâ منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢٣. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه يا ـه ،: maɣolə, xwalə, xpalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢٤. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه يا ـه ،: ará, ar, baxtawará konatawará, zargará, kaftará (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې لنډی Lánḍéy:
٢٥. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - wanâ: (ښرګند واو يا وې ښپواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé:
٢٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ينه - iná: ( ښرګنده يې يا لنډه يې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) يينه او ينه ؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور و لري) نه؛ سره بشپړېږي شوي ټپي Ṭapé:
۲۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړي شوې ټپي Ṭapé:
۲۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی ، ه یا ــه ،: mayolə, xwalə, ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېري لړېږي شتون لري؛ سره xpalə, tralə بشپړېږي شوي ټپي Ṭapé:
۳۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هي (زور) ، ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftará
(کفتره، زرگره، کوناټوره، بختوره، اړه، اره) ډېري لړېږي ará, aṛ, baxtawará, شتون لري؛ سره بشپړېږي شوي ټپي Ṭapé:
۳۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :waná (څرگند واو یا وي بېواک ,,و،، په غږ کلمي سره راشي) ونه؛ سره بشپړېږي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( څرگنده یي یا لنډه یي ,, ي،، په غږ جملي، غونډلي سره راشي ) بینه او ینه؛ سره بشپړېږي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳۳. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳٤. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳۵. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی ، ه یا ــه ،: mayolə, xwalə, ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېري لړېږي شتون لري؛ سره xpalə, tralə بشپړي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هي (زور) ، ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftar
(کفتره، زرگره، کوناټوره، بختوره، اړه، اره) ډېري لړېږي ará, aṛ, baxtawará, شتون لري؛ سره بشپړېږي شوي ټیکی Ṭikéy:
۳۷. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :waná (څرگند واو یا وي بېواک ,,و،، په غږ کلمي سره راشي) ونه؛ سره بشپړېږي شوي مصری Mésréy:
۳۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( څرگنده یي یا لنډه یي ,, ي،، په غږ جملي، غونډلي سره راشي ) بینه او ینه؛ سره بشپړېږي شوي مصری Mésréy:
۳۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړي شوي مصری Mésréy: ۱
٤۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړي شوي مصری Mésréy:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی , ه یا ــه ،: maɣolə, xwalə, tralə, daṛə, xpalə ( ترله، خوله، مغوله، خپله، دړه) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:

۴۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه یا ــه ،: ará, aṛ, baxtawará, konatawará, zargará, kaftará (کفتره، زرگره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:

۴۳. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د مسرو ( پټ، نیم بیتۍ، نیمه کړۍ، نیم بند یا مسره، د پېبلې نیمه کړۍ، نیم بند یا نیم بیت) کچه: ۲

۴۴. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د لړونو ( چې یکړ، یوون، مفرده وی یې لړ یا ردیف دی؛ د هې ,, ــه ،، ابېڅه ) کچه: ۱

۴۵. د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د نه ماتیدونکي پېنېله (حکمي قافیه) کچه: ۱

۴۶. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د څپو ( څپیزو، څپې، سپلابو، هجاوو ,, سیلیبلس Syllables،، د ابېڅو شمېرلو) کچه: ۲۸

۴۷. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د زورنو( خجیزو، خجونو، اکسنټو ,, لفظ، د موسیقي نوټونه: د خج نښې: د توري په سرنښې , چې د تلفظ د جګوالي او ټیټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښیي،: ټینګې , لهجې ،: تاکیدي: بیلوونکی نښې: د وینا , ځانګړي، خاص او بیل ، ډولونه. Accents, Morphemels: ،، ) کچه: ۸

۴۸. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د ترنګټوک مېچې کچه: ۱

۴۹. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د لوړ ترنګټوک (د پاینۍ مسرۍ پاینۍ څپه یا خوره غږي اواز په لوړه وي چې ډېرۍ یې په ینه، او نه سره راځي چارباغۍ لغمانۍ یې بولي یا د کیسو (داستاني) لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ یې بولي او پاتیشوني نورې چې وروستاړي غږ په ځوړ راځي دي ) مېچې کچه: ۱

۵۰. د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د ځوړ ترنګټوک مېچې کچه:

۵۱. دیفتنګونه (غبرګغږون)، ناټرویيکي، ټرویيکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني او هیېجاني چغې لکه: وی، وه!، وا، نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، کنه!، وه! چې له دوی سره سر باري، منځباري او بېځباري ... راځي: ۳

۵۲. کره شوې Action Req'ed ( ویار (عیبونه) او تېروتنې سمې شوې) 🟥 :

۵۳. خبرداری (Caution) 🟡 :

۵۴. کنټرول کې (In control) ✓ : ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلي ٣٦ چوپړی

د ختیځ لومړي نمبر څېړونکي څرګندول چې رونوم کتنه داسې، د پورتنی مصری ستر تاثیرلرونکی او وېشونکی لوری په لاندې ډول د لیکوال پېیلې د ټاټوبي میلي پېیلي له پاره موږ ته په لاس راکوي لکه:

١. لنډی پېیله له لنډی څخه؛ ټپه پېیله له ټپ څخه؛ ټیکی پېیله له ټیک څخه او مصری پېیله له مصری څخه رغښت مومي.

٢. لنډی پېیله د لنډی پیلنی او پاینی څېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټپه پېیله د ټپ پیلنی او پاینی څېرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ کوښښ دی؛ ټیکی پېیله د ټیک پیلنی او پاینی څېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او مصری پېیله د مصری پیلنی او پاینی څېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ کوښښ دی.

٣. تر ټولو غوره بڼې د وګړني پېیلې موږ ته په پوخ کې کوي چې لنډی، ټپې، ټیکی او مصری د پښتون پښت غږونو پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او دوې سره لري.

٤. څومره والی د وګړني پېیلې موږ ته په پوخ کې کوي چې یوه دانه مصری ده او دوې مسرې لري.

٥. زورنې یې په څلورمه، څلورمه څپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې ده او د مخنۍیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستی غونډلې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي دي.

٦. د څلورګونو څپو ټولوالي څخه یې په هرې څلورو څپو کې په څلورمه څپه زورنه ده او بلنویکی او پارنونکي ځانته، ځانته څپې باندې زورنه لري. ټوله پېیله مصری ده. د دې مصری پیلنی مسره یا لومړی مسره کې په نه!، غټ، که او نه!، د لنډی پاینی مسره یا دوېیمه مسره کې په وه!؛ نان، سي او وي زورنه راغلې ده.

په لنډی کې ترنګتوک په لوړ دی چې په ,, نه ،، یې ترنګتوک راغلی دی.

٧. د لنډی، ټپه، ټیکی او مصری پېیلې پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په مصری بڼه شتون لري.

٨. لنډی مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربښوده مخبېلګه ده، له ژبني پلوه لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لږه دوې یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو ښځې یې له ټاکلي شمېر ۹ او ۱۳ څخه تیری کړی دی او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېری کړی دی.

دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، کنه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه که ځار!، ځار شمه!، راځه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، چې په دې مصرۍ کې شتون لري او په پام کې یې هم راولو، دا چې په کې شتون لري، پام کې یې نیسو چې ځېو په کچه کې ډېروالی راوستلی دی چې دا هېڅ باکه نه کوي. نوموړی د دوی لغمانی ربښت دی. له لرغون پېر څخه د تاتوبي میلي پېیلو کې شتون لري؛ پیرروښان یا میاروښان یا بایزید روښان د روښاني غورځنګ مشر به دا خبره نه منله پرې نټیالی و؛ خو اخون درویزه چې په ټبر تورک و، لغمان کې زوکړه شوی و، لغمان کې یې د پښتو پوهه زده کړې او زده کړې یې لغمان کې کړې وې. بیا د پیروښان د مقابلې له پاره لومړی ننګرهار ته لاړه او بیا له ننګرهار څخه پېښور ته لاړه، د پیر روښان غورځنګ یې له منځه وې وړه، د هغه خیرالبیان په وړاندې یې ډېر کتابونه لکه: شرالبیان، مخزن، و لیکل، لکه یه کربانه!، کنه!، وه!... . چې له د تاتوبي میلي پېیلو کې سرباري، منځ باري او ښخباري راځي هغه ته ویل هغه به نه منل چې دایې برخه ده خو هغه به نه منل او سترګې یې پرې پټولې. خو له لرغون پېر څخه پېیلن، پېیلنې، سندرغاړې د تاتوبي میلي پېیلو کې نوموړي توکي دیفتنګونه، پارنویکي وایي او روان پېر کې یې هم وای.

اخوندرویزه پېښور کې مړ شو او زیارت یې الته دی، سرغنوی زیارت یې دی د کاکا صیب په نوم باندې یادېږي او د پیر روښان زیارت الته د پیربابا په نوم یا دېږي. د هغوی د پیر مصری ده چې وایي:.

,, پیره بابا په ډانګ یې وله  له تا تیرېږي کاکاصیب زیارت ته ځینه ،،

د پېخلیک په اوږدو کې روښانیان هم ډېر وران دي، د ده هسو له کسده یې په زوره باندې د ده د زوکړې ځای ( لغمان) کې په ښونیز مرکز باندې د روښان نوم کېښوده، چې په تاتوبي کې یوه له زړو لومړنۍیو لېسو څخه ده. چې د روښان عالي لېسه (روښان ستر ښوونځی) ورته وایي. دوی د نیتونو جګړې همداسې ساتلې او پاللي دي خو ربښت، ربښت دی هغه هېڅ نه په ټېرېږي. زه یې د یوه نږه او سوچه لغماني په ښه وایم چې نوموړې مصری پیلنۍ مسره

( لومړی، لنډه، یا کوشنۍ مسره) ۹ ښځې نه ده، په پیل کې یې یه کربانه!؛ بلنویکی سرباري ۴ ښځې ده او په پای کې یې کنه! چارټاکی کړ ( وګنه، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر و کړه، یا و منه یې مانا ده) وازه څپه ۱ څپې بېخباري راغلی دی چې کوشنۍ مسره ۴+۹+۱ = ۱۴ څپې ده. او پاینۍ مسره ( دوېیمه، اوږده یا لویه مسره) ۱۳ څپې نه ده، په پیل کې یې وه!؛ پارنویکی سرباري ۱ څپې راغلی ده چې اوږده مسره ۱+۱۳+۰= ۱۴ څپې ده. چې په رښت کې ټوله مصرۍ ۲۸ څپې ده.

دا چې د مصرۍ لومړۍ غبرګغونډلې دواړه ملې سره په یوې لارغې تړل شوي یا عطف شوي دي نو یوه تړ غبرګغونډله رغوي. اوډوون ( ترتیب) د غونډلې په بنه نه چې اېښی ( پیل، مبتدا، شروع) وي یا، اېښونی ( پای، خبر) وي. دا مانا ښندي چې هره پټلیزه و ویل شي؛ بویه، اړېنه ده، په چار ده چې په ټینګاري بنه و ویل شي. لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) او بې لارغې ( بې مکثه، بېلتون)، توسني اړېکه چې په لارغه څرګندېږي- یوه ګډه غونډله جوړوي. چې په رښت کې نومړې مسره ۱۴ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کېږي.

بل لورې ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي؛ چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوشنۍ ډله،، (Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation، مطلع ( Opening) او وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, Break, Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus) ته وایو، په لومړۍ مسرې کې یه!؛ له ځان، د له غټ او ړی له که سره لارغه دی. نه! له وه!؛ سره کسر دی، ۱۳ دانې وته ( واټنه دي لکه یه له کربانانه! یوه وت لري، ځان له نه سره، نه له د سره، غټ له ساګر سره، ساګر جوړ سره، جوړ له که سره، وه!؛ له ټول سره، ټول له شیطانانو سره، شیطانانو له دې سره، دې له دوې سره، دوې له لاسي سره، لاسي له سلام سره، سلام له کوي سره وت یا واټن یا سپیس) لري. او پاینۍ مسرې نه (مطلع یا خلاصه) ده چې بله پېیله یا د مصرۍ پیلنۍ مسره ور پسې راتلی شي.

بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د مصرۍ له پیلنۍ او پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي.
پورتنۍ پېیلې کې ,, مصرۍ ښځې نوږې ته منسوبه ده یا اړوند ده ،،.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې مصرۍ، په ۱ چوپړو (Pages) کې ده؛ ۱۸ ویکي (Words) لري؛ ۶۴ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقوور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانټ.،، (,, no Spaces،، Characters )؛ ۸۷ دانې منشوره یې له وت سره دي (,, with Spaces،، Characters )؛ ۲ پراګرافه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Paragraphs) دي او ۵ لينو (lines) کې کښل شوي دي له ليکي هرپی، لاندنی يادونې او پاينی يادونې سره، سره ( Footnotes and Endnotes , Include Textbox).

۹. د رنګونو ښکاروندی يې د مصری تت نصواري رنګ ( Color model: RGB, Red: ۱۰۳, Green: ۱۰۹, Blue:٤۱) دی. د لښتيليک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو پېيلو او يو سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو پېيلو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدي په سته ۲۹ ګڼه دی.

۱۰. د لنډی، ټپي، ټيکی، او مصری پنځه له هغې لنډی، ټپي، ټيکی، او مصری له پاينی مسرې کېږي چې منځه ( هسته) وي؛ چې ځانګړې ځانګړنې يې لنډی، ټپي، ټيکی او يا مصری ته ورته وي، د نوموړې منځه موږ په خپل رنګ يې چې د مصری رنګ ښکاروندی يې تت نصواري دی. ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې يا لنډی ته منسوبې وي، يا ټپي ته منسوبې وي، يا ټيکی ته منسوبې وي او يا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شويو رنګ باندې کښنو؛ له دې څخه يې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا لنډی ده، که ټپه ده، که ټيکی ده او که مصری ده. له دې سره سم دا مصری ده.

۱۱. د دې مصری پېيلن ليکوال م. اينج. ص. ف ټولې په ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړې کړي ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، ترکيبي، يوه ځای کول: فيصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافکې ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې ده. دا يې نوې ګډوله رغولې چې د نوې مصری سکالو ځانګړنې او نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره کړی دی.

هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوې او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له مصری يې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغه ګډوله شوې نه ده. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبيعي، ده او مصنوعي, ديسي او شلخي، نه ده.

۱۲. د دې مصری پېيلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېک تن دی، د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی دی چې ډېری پېيلې (پېيران، اشلوک، شېرونه، شعرونه) يې په پښتو ادب پنځي, طبيعي، او يوه دمي پوښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذهن د مصری ذېږندې يې له لېوالې سره سوېې لوړه د لېوالتيا حس ساتل، لېوالې (خپلې معشقي، مېرمني، ښځې) ته د ودنې چمتوالی، خوشحالی رېښې رغولو، خوړ ژوند ګالنه، لېوالتيا ته درناوی لوری په لاس ورکول، يوازې او يوازې لېوال خپلې لېواله او لېواله خپل لېوال ته د کوروالي اتلان جوړېدل چې دا ترټول غوره پښتونواله په ډانګپېيلې رښت دی او اسلامي رښت هم دی؛ چې چارپېريال له خنډونو څخه لرې ساتي، د لېواليتا ښه سلوکو يا کړو وړو ته پام، بدي، ځل، ټګي، غلتي، ورانی، ټېټې کړنې نه لوړې کړنې کول، پښتونواله او دودواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمنې ستاين شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېيلنو د پېيلو له پاره ترې په لرليد ګټنې واخستل شي.

۱۳. د دې مصری يو د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وايم داسې ده:
کره موده يې راته معلومه نه ده، خو په پلاځمينه کابل، خوشال خان مېنه کې مې کښلې، ۲۵/۰۷/ ۱۳۸۵ لېږدې څخه مې مخکې کښلې دي.

د دې مصری چې سرليک يې ,, را ته نه دی ياد،، بدي، ځل، ټګي، غلتي، ورانی، ټېټې کړنې نه کولو، مينې او مېنې پالنې لوړ حس، ټاټوبي سوکاله او ودنې چارپېريال او هواويچې د تاثير پنځې ذېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۴. د دې مصری وخت موده چې باچاخان لغماني په پلازمېنه کابل کې، د ميوند تمځای کې (جاده ميوند) کې د ادېنې په ورځ د جون مياشت په ۲۱ د ۲۰۱۹ ذېږدې کې ورسته له وخته يا ماسپښين ۲۱:۸۲ :۰۰:۰۰ کې ثبت کړې ده، دوباره يې ويلې. وخت : (وخت ټاکل، نېټه اېښودل: پرسور برابرول: مهال: دموسيکي شيبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). :. ۴۰:۱۲ :۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

۱۵. د ليکوال دا مصری د ده له مصری يو څخه يوه ده، په دې بنه مصری يو کې د مصری وېشتلو، اچولو، وهلو او ويلو تسلسل کې خنډ، دمه، ودرېدوکه، بله لاره او بل لوری ته شوی وي. لکه په لرغونو وختونو کې به يې چې ځينې پښت لنډی، ټپې، ټيکی او مصری په اواز کې ويلې چې يوه درجن يا دولس دانې به پوره شوې، بيا به يې يوه بله لنډه پېيله وه يا کوم خبره، وينا او يا د پښتو په لرغوني پېيل مېجه څپېزه خجبزه ټولواله ( چې له څلورګونو څپو څخه به يې يا په هر څلور څپېز کې اوله څپه باندې زورنه وي، يا په هر څلور څپېز کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوېيمې څپه باندې زورنه وي، يا په هر څلور څپېز کې درېيمې څپه باندې زورنه وي، يا په هر څلور څپېز کې څلورمې څپه باندې زورنه وي) په سټه يوه پېيله به يې ويله بيا به بېرته په بل درځن د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرئ پيل و کوه. ځيني پېر به يې په نېغه لاره ټولې ويلې، يوه درځن ( Dozen, Douple)، دوې درجنه ان تر شل درجنو پورې ويلې.

ځينو په يوه سيټ څلور دانې يوه تن ويلې او څلور بل تن؛ ځيني وخت به يوه همبول دوې دانې ويلې او بل به دوې دانې ويلې؛ ځيني وخت چې څو دانې همبول به اوازونه سره جوړه کول چې هر څو تنه به وو، چې وار به يې پوره شو، بيا به يوه، يوه ويله. ځينې پېر په ويناوو، خبرو کې يوه دانه مصرئ وايي.

چې ځيني وخت بيا په ساز کې پورتنی برخې د ساز اسبابو او بولل ته دا په لاس ګټنه ورکوله چې کله په کې ډول خپل فارموله او غوره حالت وړاندې کړه له يوه درځن ورسته؛ کله به رباب خپل فارموله او غوره حالت (کوزې او بره پردې) وړاندې کړه له يوه درځن ورسته؛ کله به ارمونيې خپل فارموله (کوزې او بره پردې) او غوره حالت وړاندې کړه له يوه درځن ورسته؛ کله به ږغرئ (تولۍ) او ځينې وخت به يوې ګډې نغمې، سندرې، د موسيقۍ يوې پارچې، تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه خپل وار، تېر کړه ( ځينې وخت به يوې ګډې نغمې يا سندرې يا د موسيکۍ يوې پارچې يا تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه خپل وار تېر کړه)؛ ډېری پېر لېوال به يوه مصرئ و ويله او لېوالې به ورته بله يوه مصرئ ويله او ترله. لکه دا چې په ښځې نوږې (جنس) لومړی ويلې بله به نر نوږي ويله؛ په دې سره به په ساز کې خوند هم لاسته راغی او سندرغاړي يا بولل به هم دمه و کړه او بل سيټ يا درځن ته به چمتو شو.

له ۱۹۹۸ زېږدي را په دې خوا را باندې د لوی افغانستان د غرونو، درزنی سيمو، خړو کمرونو خړ پښتانه پيريان کې نه ناستل يا دې را باندې سره ښاپيرئ ناسته وي. بلکې د بر لويه لورينه راباندې و کړه چې د پښتو پېيلو بوږولو، څېړلو، شنلو، ونديولو لور او پړی يې داسې په لاس راکړ چې تر درې زره پورې تشې سپينې پاڼې يې راباندې ډکې کړې. زما پېيلې ډېره ساده ښکاري خو ساده توب يې ډېره پېچلتيا هم لري.

د پېچلتيا ډېر پوړونه لري او ځيني پېيلې مې دومره پېچلې برېښي چې له پېچلتيا سره يې پښتون پښت خپل ساده مانا اخستلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټاټوبي میلي پېیلې ٤٢ چوپړی**

دا چې د لوستونکو او اورېدونکو خپله یوه څرګندونې په هر پېر شتون لري، دا کښلی د ټاټوبي میلي پېیلې ستا سو درنو لوستونکو په لاس کې دی او په نوموړي نوم مې کښلی دی.
که زما دا کښلې ( لیکی، ټولګه، کیتاب یا کتاب) د یوه سوړ بخري ( الکترون) په کچه زما د پښتون پښت او پښتو ژبې د پرمختګ سبب شي زه پرې خورا ډېر ویاړم.!!

**په ټوله پښتني افغاني مینه او لورېینه**

ماستر اېنجینېر صفي الله فردوس
د وټساپ نرمکالي اړیکه: ۹۳۷۸٦۹۰٤۷۹۹+
برېښنالیک: Safiullah_firdows@yahoo.com
Safiullah.janan@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷. د تاتوبي ملي پېبيلې

▲ پیل یې په دې لنډۍ کومه
د پاک الله ملتیا دې تر را سره وینه

▲ په بسم الله به د اشنا کرم
په کلیمه به د یارۍ ته راضا کړمه

▲ په بسم الله کټ ته ورخېژه
د نجلۍ کټ د جنغوزي دی مات به شینه

▲ ضعیف ابلیس لعین شیطان دی
په بسم الله باندې یې مرګ لوخړه شینه

▲ ته پر کابل خوشحاله اوسه!
زه په لغمان کې ملریا نیولې یمه

▲ جانانه دومره پر ما ګران یې
د خوږلن اور دې ځکه کونې لاندې ږدمه

▲ ,, که د مرغۍ وزر ځما وی
زه د اشنا دیدن ته هر ساعت ورتلمه

▲ مرغۍ وزر خو به د سرو کړم
که د اشنا دیدن ته ما راوړي مینه

▲ عالم دې وایي تومتونه
زه د اشنا په غېږ کې چا لیدلې یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلې ٤٤ چوپړی

▲ عالم دې وايي تومتونه
ما د تهمت په ډنډ کې ډېر لمبلي دينه

▲ په غم کې تانه کمه نه يمه
کم عقله نه يم چې به کلی خبرومه،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي پينده محمد پيند له خپل پلار ګول محمد ګلکي سره په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ،، سر دې چوټې کړه خوله دې راکړه
که پرې اغېره شوې لنډی بوکه به دې کړمه

▲ د زنې کنډ يې خوله کې راکړه
قند او نبات مې کابل جان کې بدي شينه

▲ څنګه مې پاس په سينه پروت يې
د اخيرت سختی ته نه ګورې مينه

▲ چې خدای کوي هغه به وشي
جانانه مه ځانګه د فکر په ټالونه

▲ که جنت غواړې عبادت کړه
بې عبادته ياره نه شته جنتونه

▲ جنت د لارې په سر نه دی
چې هر سړی دې لنګ وهي ځان غورځوينه

▲ لاس په کسم راسره کې ده
که نازولې مې ساتې درسره ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټاټوبي میلي پېبیلې ٤٥ چوپړی**

▲ مینه روا که ناروا ده
په کومه مینه چې اخلاک ناولی شینه

▲ یوه د یارۍ مې ورته ویلې
کټوی یې باندې کلیمې راته کوینه

▲ زما د مینې یار ملنګ شوه
اوس به دېرې د ملنګانو لټومه

▲ مایې وړوکې ورور نه ځار کې
د سترګو کونج کې د خورکۍ نخښې لرینه

▲ زه د ګولاب له ګول نه سره وم
ستا په یارۍ کې د انګړ ښه ځرکه شومه

▲ یوه د یارۍ مې ورته و ویل
یوه څوک یې را کړه پینځه یې لوټې و وېشتمه

▲ دا سور سرۍ سور یې بریتونه
د ونې دېد پنا کوي ما ډارونه

▲ پیغلې په ګور کې ارمان و که
روپۍ مې کور اوربل مې تورې خاورې خورینه

▲ که یاري کړم مخ مې توریږي
که یاري نه کړم یتیمان له لوږې مرینه

▲ پاکه مولا که ته یې واخلې
سړی، سړی نه دی پرې بنده ناسته یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلې ٤٦ چوپېرى

▲ منډې مې ډېرې په سې وکړې؛ وه الله!
ورځ د اځل کې جدا يې ليکلې ونه

د لغمان سرغندوي سندرغاړي پينده محمد پيند له خپل پلار ګول محمد ګلکي سره په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ,, که زړه مې بند په زولنو کړم
چې کله خلاص شي برابر اشنا له ځينه

▲ منډې مې ډېرې په سې و کړې
له کبره ډکه بېرته نه ګورې مينه

▲ دا به د چا په ځان پېرځو وي
چې تله واخلي پردى غم ځان ته تلينه

▲ دا مازيګر چې داسې تېر شو
داسې به تېره شي دا ستا لېونى مينه

▲ يوه د اخير مصرى دې دا وي
تل خو به نه وي ستا ځواني زما سوالونه،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي ملاجان ملاګي اوستاد په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ,, نصيب تکدير ته ګناه نه شته
بخت چې کوته شي تندى سل ټکرې خورينه

▲ منډې مې ډېرې په سې و کړې
ورځ د ازل کې جدايي ليکلې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ کلم مې خدای وهلی نه وو
ماته په لويه لار کې مه ژړه مينه

▲ د کيس (قيس) کانه راباندې و شوه
په لاره ډکې ټولوم ځان پرې سېزمه

▲ زه خو هغه مسته ليلا يم
که رنګ مې زيړ دی له همزولو لرې يمه

▲ الله دې تا لرې خوشحاله
خير ده که ما غمازان دار ته خېژوينه

▲ په مورچل هغه ځلمی خيږي
يا به مين وي يا بی پېغله ناسته وينه

▲ جانان به ولې توره نه کړي
تر نيمايي مورچله زه ورسره ځمه

▲ که ياره نه کولی نه شې
دومره خو وايه چې مين درباندې يمه

▲ اول د تا نارې سورې وې
اوس دې په ورانو مېنو زه ګرځم مينه

▲ ديدن دې خومره کيمت کاږي
چې سر مې ورکړم باکيدار به خومره شمه

▲ ديدن په لک خندا په زر ده
د سپيني خولې حساب به نه درسره کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ديدن مې کور ته په سې وپوره
په کدردان جانان مې ځان بې کدره کړنه

▲ ديدن کوه مه منې کېږه
په تش ديدن به دې خوک نه حلالوينه

▲ ديدن خروار د روپۍ وي سه
که وخت يې راغی بيا به خورد په روپۍ شينه

▲ خوله دې د سرو زرو راشه ده
کوم بختور به ورته غوندی غوړوينه

▲ تا په کوڅه کې توخی و کړه
زه په مستو کړه خوله در و وتمه

▲ دا موزيګی په خندا راغی
برې کلا کې چا مستې ورکړې دينه

▲ موزي ته غټ تيکلی کېږدئ
له خمېر دان نه يې مچان شړلې دينه

▲ تا ته سپين ږيری ماما ښه ده
چې تناره ته خميردان درسره وړينه

▲ ما موزيګی سره معلوم شو
چې تبی نه کړې ما زيږی راتختوينه

▲ له موزيګي نه خلاصی نه شته
هره کوڅه کې راته ناست وي شک غوږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ موزي د کټ د ختو نه دی
لکه چرګوړی چنګېده پرې سبا شونه

▲ ولې درلګیر ولاړ یې یاره
خدای به اسان کړي د دنیا مشکل کارونه

▲ عالمه لاره ورته نیسئ
مستې محبوبې زولنې شکولې دینه

▲ ما ته دې لړې شپې بانه کړې
میاشتې دې تېرې کړې کلونه دې شمېرمه

▲ ماته یوه نیم من پولي جوړ کړه
نېستمنه! یاره نور مې ځله ځوروینه

▲ ستا په هر څه نېستې، نېستي ده
الوان راګز کړه چې پرتوږ ترې جوړومه

▲ ما ته وړوکی پېزوان جوړ کړه
چې زه اوبه ځکم دی لمبو راته وهینه

▲ چارګول مې خوله کې ترېنه وې وړه
دا بوره مور یې ډېرانونه لټوینه

▲ مخ دې له ګوله خایسته دی
په ګوشملو دې وربل ځله درنده ونه

▲ ګول (ګل) خو په لاس درته ولاړ یم
یا مې ګول واخله یا روخصت راکړه چې ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ګول چې تازه و رادې نه کړه
دا مړاوی ګول چې راکوې دا زړه مې چوینه

▲ بورا په ګولو ناروغه دی
ناغه توتي دی خزان راوړل براتونه

▲ بورا به خدای په ګولو موړ کړي
بوغانه! ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه

▲ ورشه يې درک پوښتنه يې و کړه
غونچه د هغه ګول کره چې زات لرینه

▲ ما خو د ورور په ځای ګڼلې
چې نیمه شپه شوه را اوړده دې کړه لاسونه

▲ هېڅ بلا خوړلې نه یمه
په یار مې تیګې تېره وي ولاړومه

▲ کمېس مې لنډ و نیسه مورې
پلار مې تالب دی خوښوي لنډ کمیسونه

▲ عالمه راشئ ننداري ته
چې ملنګ جان او دوجان ګور ته ورځينه

▲ په پخوانو سترګو مې ګوره
اوس مې جامې د غریبۍ اغوستې دینه

▲ زه خو هغه مسته لیلا یم
چې رنګ مې زېړ دی ماجتي نه ببله یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټاټوبي ميلي پېيلې ٥١ چوپړی**

▲ په ګورستان مې سلام وايه
چې خاورې نه کړې ماجتي سپين مړودونه

▲ ای! ګورستانه کبرستانه
چې خاورې نه کړې د اشنا سپين مړوندونه

▲ لونګی دې واغوسته ويده شوې
په زړه دې نه شته د يارۍ سوي داغونه

▲ که عاشکي له اوره نه وی
پتنګ به ولې شيرين ځان په اور سېزنه

▲ عاشکي ورکه کې خاونده
چې سيال سړی وي د کم سياله غلام شينه

▲ په عاشوک بد مه وايئ خلکو
عاشوک (عاشق) خو خدای د محمد يې پيدا کړېنه،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي شاه ګلول اوستاد او ملاجان ملاکي اوستاد سره ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي، لغمان ميوزيک بشير رستورانټ خوندي کړې وې.

▲ ,, جانان زما په سر جانان دی
که زه يې پرېږدم د کوسو ملنګ به شينه

▲ ستا يارانې مزه را نه کړه
علک (علق) به مې تريخ تر زلکدنه پورې وينه

▲ جانان به ما نه لرې نه ځي
که يې پر زړه ايخي زما د باغه ينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېبیلې ۵۲ چوپړی

▲ بېلتانه! زور راته معلوم شو
نور به سلام په دوې لاسي ورته کومه

▲ له میرقاد خوږې راباندې لګي
څوک چې خبرې د جانان، جانان کوینه

▲ یار په یارۍ کې ضامن غواړي
پردی وطن دی سترګې چا ته واړومه

▲ په خدای په پنډو دې دوکه شومه
د ونې ټېټه له اغزو دې تتته کړمه

▲ الله د وار د ځوانۍ تېر که
چې کبرجن ځان ته دې فکر شې مینه

▲ چې مې د تورو زلفو وار وو
جهان مې یار و بې پروا به ګرځې دمه

▲ ستا یارانه د زانۍ خوږ دی
د زانۍ خوږ تر غنم لو پورې وینه

▲ خانـــده! خوشـــحالیږه!
زما پالنګ له به بیا ډېر و کړې وېرونه؛ ارمان، ارمان دی
▲ خانـــده! خوشـــحالیږه!
زما پالنګ یې ورسته ډېر و لوټونه؛ چې میری لاړه

▲ زما بانه ورته لوګی کړئ
زما کټل په جانان بد راغلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ نن مي پر وچو کولمو درد دی
جلی سپېرکی شه چي دې خولې ته واچومه

▲ جانانه راشه سبا کېږي
بلبلي ويخې شوې چرګان نارې وهينه

▲ ياري دې نه کوم شرمېږمه
د لرې، لرې تماشې به دې کومه

▲ چې د ځوانی دوران مي تېر شو
جانانه ستا که باچاهي وي سې کومه

▲ خبر مي کله، کله واخله
د مرګ اوبه مي تر مرۍ راغلې دينه

▲ د مينې يار مي پيدا نه کړه
چي کاغذي سينه يې دړې وړې کړمه

▲ مايې د زيو د پاګله
چي په کچه خانګو کېنې ماتې به شينه

▲ د ژبې سر مي شو تناکه
چي د بې ننګه جانان نوم دې واخستنه

▲ د ګناه تور په نورو نه اچم
ستا په يوه ناخوله دړې وړې شونه

▲ د مخې و لوېږي دېواله
تانه پنا دي د جانان ځلور خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ پلار دې په تا باندې خبر دی
د ټېلېفون کېلياني جيب کې ګرځوينه

▲ چې د ستا زړه پرې تازه کېږي
هغه سپرلی په کال کې يوه وارې راځينه

▲ په رنګ کې زېړ لکه نارنج شومه
جانان په ډاګ د سرشاهي کرلې يمه

▲ سهر سبا چرګان وهي بانګونه
اشنان زما له غېږې ځي وهي ځانګونه

▲ چې راپسې نه شي کورانه!
زه د جانان له پاره ګدم په تالاسونه

▲ خلکو مزې وربانديې و کړې
زه يې خالي سترګو ته غړومه

▲ چې د اشنا کوڅې ته لاړ شمه
شنې شوتنې دې غايبانه کور ته راشينه

▲ يار مې په خوله کې ژبه غواړي
عادت مې نه دی خپل کنلنګ جاري کوينه

▲ چې د ستا زړه پرې خوشحالېږي
هغه سپرلی په کال کې يو وار ځي راځينه

▲ تورې جامې دې مبارک شه
لړ رانبړدې شه چې تنۍ دې و ترمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلي ۵۵ چوپړی

▲ د عجب کور به ترې نه خړ شي
چا چې انګار د بېلتانه لیدلی وینه

▲ ریباره خدای دې سزا درکړي
لېږلی ما وې کار دې ځان ته و وېستنه

▲ چې دې ریبار پرې نه پوهېږي
په داسې رنګ باندې اخته یم مړ به شمه

▲ د یاراني مزې مې شکېږي
کچکول له لاسه مې چپه توکړي دینه

▲ د یار دیدن د برېښنا پړک دی
کله رڼا شي کله توره تیاره شینه

▲ جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله درنه کړم مرور ګرځې مینه

▲ چې یارانه دې نه کوله
د چا په خوله به دې ځواب راکړی ونه

▲ چې یارانه دې نه کوله
زما ویده زړګی دې ځله ویخونه

▲ ښه یاره زما سره په کې نه شته
د تا له کسده درته شین له خندا یمه

▲ یوه روژه بله ګرمي ده
لیلا سرې راولېږه چې رادېشینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زه چې سبا له خوبه پاسم
له کليمې سره دې سمه يادومه

▲ د جانان دې ظلم ته ګورئ
يو راته خاندي بل مې تيغ په مرۍ ګدينه

په زړه مې غم دی خندا نه راځي
په سفر تللی اشنا نه راځي

▲ د اسمان ستورى مې کې خدايه
چې همېشه د يار په سر ولاړيمه

▲ اسماني تندر شوې جانانه!
په ما راپرېوتې زرې، زرې دې کړمه

▲ د خدای په امان زه درنه لاړم
زما د ناستې په ځای و کره ګلونه

▲ ما ته په سترګو کې حال وايه
لارې کوسې له غمازانو ډکې دينه

▲ د بام په غرش کې ډبلخ واخله
لکه ويشتلې مرغۍ ځانته ناسته يمه

▲ خوله دې له ګوړې نه خوږه ده
په لنډه زنه دې ګنې کرلي دينه

▲ ځلميه! لاړ شه ترې کلار شه
پردي راوړې د چا خه پروا لرينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېپيلي ۵۷ چوپړی

د يارانې مې ورته ويلې
يو يې سوک راکړه دوې يې لوتې و ويشتمه

زړه مې د شګو شين کمر دی
د بېلتانه باران يې ورو، ورو نړوينه

بېلتونه! خور به درنه واخلمه
که دې زما شهزوان ته څه ويلي ونه

زما يې د زړه غوښې اوبه کړې
د جانان مينه تېزابي خاصيت لرينه

که پاکستان زما په نوم شي
زه به يې کربان ستا له کاره وربله کړمه،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي بنګي اوستاد او بريالي صمدي سره ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي.

,, ښه په پښتو باندې پوهېږم
يو خو پښتون يم يو مين په پښتو يمه

اسپه دې زين کړه روانېږه
تر غوړاشو څڼو دې مزي ونغښتنه

اس به مې ولې مستي نه که
چې يې سفر د يار کاله په لورې وينه

اس دې زين کړي روانېږي
زه نيمه خوا نيمګړې چاته پاتې شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس مې زين کړه روانيږم
زه مسافر د لويې لار يم در نه ځمه،،

( سليمان او مجاوير،۱۳۶۱لېږديز، ۵ چوپړی )

,, د سترګو جنګ چې په کې نه وي
وی! غمازه ولې بده وې د خلکو زړونه

وی!؛ سود په سې ګرځم دا مې کار دی
ما ته ملا په ممبر پاس ويلې دينه

له پلاره يې مخکې زوی پيدا شو
مخکې ترې لوی شو په هوا مزل کوينه

مور يې ډاکټره د علي اباد ده
لور يې کونين ده زما تبې و چوينه

يا مې کمپس لاندې بنين که
يا مې دستمال کړه چې مدام دې جب کې يمه

ظاهره روغ خلکو ته ښکارم
لکه غنم د زړه په سر چودلی يمه

د عاشکانو سوال کبول کړې
چې يې په زړه وي خدايه وريې کړې مينه

چې پوهنتون يې لوستی نه وي
د دولسم په سويه خوله نه ورکوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د جلیٰ تک د ټیوېټا دی
کله په ورو ځي کله اویا میلو کې ځینه

▲ زما دې بیا تمه پیدا کړه؛ وی
چې په کاږه اورمېک دې بېرته و کاته نه،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي قاري عبدالحادي د لغمان کیسی ویونکی په ټنګټکور کې ویلې دي.

▲ اواز یو بل سره جوړه کړئ
خلک به وایې شنه توتیان نارې وهینه؛! الله وی!

▲ وی!؛ جانانه مړ یې که ژوندی یې
میراث خورو دې پر ما لاس و لګونه

▲ جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله در نه کړم مرور ګرځې مینه

▲ اواز یو بل سره جوړه کړئ
خلک به وایې شنه توتیان نارې وهینه؛

▲ جانانه چېرته به ولاړ یې
سوي او سوي اوسېلي دې باد راوړینه

▲ وی!؛ خلک د کال مري ته ژاړي
ما په ژوندې جانان کمر را وشکونه

▲ د ملکی کچکوله! مات شي
چې در په در دې ګرځوم تش دې راوړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ځان دې ملنګ کړه پرما راشه
د ملنګانو لارې چا نيولې دينه

▲ ماته په سترګو کې حال وايه
لارې کوڅې له غمازانو ډکې دينه

▲ اول مې فکر درته نه و
اوس مې د زړه ستنې پر تا ولاړې دينه

▲ جانانه غږ دې تبليغي دی
ما د ملا اذان نه مخکې پاسوينه

▲ مينه د زور خبره نه ده
چې ته يې نه کړې زه دې نه مجبور ومه؛ وا!

▲ وه!؛ مينه اول سړی باچا کړي
د ملنګۍ کچکول بيا ورسته ورکوينه

▲ مينه د زړه خبره نه ده
مينه لګېږي د زړه وينه وچوينه؛ وای!

▲ وه!؛ په الکتوب مې زړه زخمي شو
ټېنګه مې راغله جوړ مې نه کړل پرهرونه

▲ د الکانو ياري مه کړه
د الک مينه د زړه وينه وچوينه

▲ وه الله وی!؛ داسې چې ته وې داسې زه ومه
داسې به شې لکه دا زه چې داسې يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خدای دې زما په شان مين کړه
چې ناسته پاسته دې له غمه سره شينه

▲ جلۍ د بام په سر کړه شوه
زه په کمر ور سره کوږ شوم و لوېدمه

▲ وه الله وی!؛ يو د نيستۍ پېغور يې راکه
جانانه لو کړه چې زه وربې تولومه

▲ بېلتون په لوړه غونډۍ ناست ده
کلم په لاس دی دوې مين جدا کوينه؛ وا!

▲ ګېلې به ډېرې درته و کړم؛ ياره!
که مې يو ځل د سور پالنګ ملګری شينه

▲ او!؛ په ببسم الله کټ ته ورخيژه
د جلۍ کټ د جنغوزي دی مات به شينه

▲ او!؛ په ما دې و کړه په تا و شه
په کور دې راشه بې بارانه سېلابونه

▲ وه الله!؛ اواز يو بل سره جوړه کړئ
خلک به وايي شنه توتيان نارې وهينه

▲ زما سلګۍ د زنکدن دي؛ وای!
ليلا دې ځان سېنګاروي جانان ته ځينه

▲ يا الله!؛ شيخه! پوښتنې درنه کېږي
د الکانو سره مه ګرځه مينه،،

د لغمان سرغندوي بينجوماري له خپلو ملګرو سره په ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېبيلې ٦٢ چوپړی

▲ ,, زړګی مې دسې راته وايي
چې په دا ناستو خلکو و شينده ګلونه

▲ رب دې واده کې مينه مه که
زړو چالبازو به جوړ کړي وي ځانونه

▲ ما يې د غابښو ننداري کړې
جونو ور واچول د سرو شونډو کلپونه

▲ پاس په کمره ولاړه ګوله!؛ نو
نصيب د چا يې اوبه زه در خيږومه

▲ د تندې خال دې مجلسې ده؛ نو
د زنې خال دې الکان په خولا کوينه

▲ شونډې بی ولې پستې نه وي
مور يې د زېړې غوا غوړي ورکړي دينه

▲ د خمارو سترګو مېرمنې
خود به مې کلي وړکي روغ ليونی کړينه

▲ ځان يې سينګار کړه کولالاله!؛ نو
د کبره ډکه شاته نه ګوري مينه

▲ تاسې لاخېرته پسې ګورئ
د چجو لاندې په کې خمه، خمه ځينه

▲ له رنګه توره مصلیٰ ده
په خوله کې خوند د چهارباغی منې لرينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وطن ته راشه سندرې مې پخکړې دي
ښکلو، ښکلو پیغلو سندرې مې خوړلې دي

▲ مادزیګر لمونځ رانه قضاء شو؛ نو
د سور سالو مېرمنې ژر بداره شومه

▲ خړ که دا نن مادزیګر تېر شي
داسې به تېره شي د دې لېونی مینه

▲ نصوار دې تو کړه خولګی واخله
د ژبې څوکه څوک سوالي ته ورکوینه

▲ له موزګي نه خلاصی نه شته؛ نو
په درېنځه کې راته ناست وي خړ غوړونه

▲ موزي حلال کړه ځان ترې خلاص کړه
یو به غازي شي یو به دا در پاتې وینه،،

د لغمان سرغندوي دوې تاره ماری، سندرغاړی شهریار کوچی په دوې تاره ټنګټکور کې ویلې دي.

▲ ،، د عشک اور به مې مړ نه شي
او؛ که له جامو سره دریاب ته و دانګمه؛ نو وی!

▲ زما ازار دې لېونی که
چې لاس ترلی دې میالي بابا ته ورمه؛ وی!

▲ خدایه! کوتې یې کنوالي کړې
چې په عاشق د لېوني ګومان کوینه؛ نو وی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ چې لغړ ځني په کې نه وي
مولا دې واخلي دا بوتل، بوتل سرونه؛ نو وی!

▲ عاشکي نيمه باچاهي ده
چې معشکه يې په طرف ولاړه وينه؛ نو وی!

▲ لا خو به ماته ښه ښکارېږي
يا دې په ټول وطن کې سارى نه وينمه؛ وی!

▲ په مخه راغله راته ژاړي
له لونګينه مې ځنډي شکېدلي دينه؛ وا وی!

▲ لاس مې له سپين ده رنده کېږي
يا د وړې جلی ګوتمی ګوتې پرې ږدمه؛ وا وی!

▲ عاشکي وی غمونه يې مه وی
خدايه په در کې به دې څه کم شوي ونه؛ وا وی!

▲ له ښکې رامشې غنم لوه!
د غنم لو له پاره وږي تولومه

▲ خدايه غنمو کې لو ګډ کړې
چې بغدادی کېتري وږي ټولوينه

▲ له دروازې راسره وو ځه
نورې کوڅې راته معلومې دي مينه

▲ خولګی دې خورم نه پرې مرېږم
نامردي تا په کې ګني کرلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ يوه د نيستی پېغور يې راکه
جانانه لو کوه زه ورېږي ټولومه

▲ د اسمان ستوري مې په شمار کړل؛ وی
په شمار مې نه کړل د ورېږ ليلا خالونه

▲ ديدن کوي تلوار پرې و کو
ختې يې کړي ديدن لارې بندوينه

▲ لکه دا پاس اسمان چې شين دی؛ وی!
داسې مې زړه درپسې شين ده مړ به شينه

▲ په يارانه کې ماصول راکه
په زنده کيږي بيا د و لړو ګزارونه

▲ په سپين ږيره لپونی شوې؛ وی!
توره لنګی دې د کفن لايکه شينه

▲ ما خو ماما، ماما ګنلې
چې نيمه شپه شوه را اوړده دې کړل لاسونه

▲ په ټول ښايست يې فکر و کړئ
دا کاغذې ګلونه پرې کې لټوينه

▲ کولان خو ټول د پسرلي دي؛ وی!
ګول د غاټول په سې سرتوره و وتمه

▲ خاونده! بيا دې پسرلی کړه؛ وی!
په هره پوله کې بنګړي مات شوي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د بېلتانه په ژرنده راغله
دوړې يې خېژي عاشکان وره کوينه

▲ په اديرو راشه زرګره؛ نو وی!
ځوانان به ګوتې خوښوي پېغلې ششتونه

▲ مينت پرې مه کو دله! خانه!
وژلي خدای وو غږ يې ما ته نه کونه

▲ په اديرو کې شور ما شور ده!؟؛ نو
انکير منکير نه چا ځپلی و تختوله!؟

▲ مينه دې پاکه پاتې مه شه؛ وای!
رب دې رسوا کړه چې تاوان دربادې شمه

▲ د تکري خېټه خوله کې نيسه
ما ته د خېټې په ځنګ بيا راشه مينه

▲ له تندې غرېپ کولی نه شمه
په زړه مې ستا د ياری داغ دی وران به شيبنه،،

د لغمان سرغندوي بينجوماري له خپلو ملګرو سره په ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ,, له دې خواږه اواز د زار شم
وايې خو ته خو مزه ما ته راکوينه

▲ الکه تورې جامې و کړه
تورې جامې درسره ډېرې خوند کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د پېغلې تګ د ټيوټا ده
کله بنړېږي کله اويا مېلو کې ځينه

▲ راځه چې دواړه ټال ته خېږو
ټال به بانه کړو سينې منځ به لګونه

▲ د سينې زور په اندازه که
تې مې خوږېږي سګنی بالغه يمه

▲ که مې ماشوم په ګېډه نه وی
ما به په غېږه کې زوږ کړی وې مينه

▲ کمپس مې ځي په ځای سوری ده
ستن به ورنه وړم يار تا به زورومه

▲ که دا دېوال په منځ کې نه وی
ما به په ډک غېشکې وېشتلی وې مينه

▲ خلک خروړي شي راتېږ شي
له دې ملالې خولې به زه در تېره شمه

▲ په نيمه شپه راغلې لاليه!
ما دې خدای غرکه کړي چې خوله نه درکومه

▲ د نيمې شپې راتګ د ورک شه
دا جرجړی پېنی دې کلي خبروينه

▲ نيمه شپه مه راځه لاليه
پلار مې بوډا دی د شپې نبغ ناستې مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بنګړي به دې په کار شي
چې کټ غلت کړې په رو، رو بی شرنګومه

بنګړو ته شرنګ ورکه جانانه
چرس مې اسکلي کټ د لار ته که مینه

بنګړي مې ستا په کټ کې مات شول
که نارینه یې وس (اوس) مې ډک کړه مړوندونه

څما او ستا یاري په څه شوه
د شین غمی ګوتې زاری درته کومه

غم دې پر ما اجز تېرېږي
چې خوشحالي شي کوستېزن یې تېرونه

غمونه ټول په ما امبار دي
ته د ګولاب په شان تازه ګرځې مینه

غمونه راغله ډلې، ډلې
جانانه خپل بار دې تره خپل به ترمه

یاره کبرجنه داسې مه کوه!
ما سره دې ژمنه داسې مه کوه!

کټه! خلور دې بازوګان دي
پینځم مې یار شیړمه زه درجیګه شومه

کټ ته مې خیره ببسم الله کړه
د کټ بازو مې جنغوزی ده مات به شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ راځه، راځه کټ ته مې خېږه
موزي د بدو سړی نه دی کوز به شينه

▲ موزي لا بله توره کړي
له درېنځي نه يې متيازې کړېدينه

▲ ما ته مې خپل موزيګی ښه دی
تر تناره پورې پوړکې راسره وړينه

▲ موزي ته غټ تيکلی ورکړئ
له خميردان نه يې مچان شړلې دينه

▲ ما له مې خپل موزيګی ښه دی
چې کور ته ری (رای) شي اېنځران پرې ټولومه

▲ که موزيګی دې راته مړ کړه
هم به غازي شې هم به زه درپاتې شمه

▲ ملګريه! دا خبرې مه کړه
په ما بی مړ کړې ته به رانه شې مينه

▲ که موزيګی مې درته مړ کړه
بيا به ګيله کړې چې تنکی دې کونډه کړمه

▲ ملګريه! دا خبر سيې ده
هغه پخوانی مينې وس نه شته ده مينه

▲ ملګريه! ستا به مزه نه وي
زما همزولې زنګوګانې ځنګوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمان به هله زما و کړې
چې سور پالنګ در ته يوازې پاتې شينه

زما به الته ارمان درشي
چې مې د سخات پيسو ته و نيسې لاسونه

چې اشنا لاړو ارمان راغی
چې لږ مې غېږ کې رانيولی و مينه

تېښنګه مې مه نيسه په غېږ کې
د عشکه ډکه اوس له سيل راغلې يمه

تېښنګه مې مه نيسه په غېږ کې
تينګه مې مور تړې نه يم زړه مې چوينه

کلي نه وتلى نه شم شرم دى
زړه مې په وړوکي الک ګرم دى

يوه ورځې ما په خولګۍ موړ کړه
د سر مامور ځواب دې زه وايم مينه

دا زه به تولله درپه شاه شم
بيا به دې دا خبرې نه وي څه به دې کمه

يوه ځلي راغی خوله مې ورکړه
لاره يې سيې کړه په غضب ککړه شومه

که يوه خوله وی ما به درکړی
ته شمکوړوال يې همېشه کوې سوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خولګۍ به خاورې تا له درکړم
په اور لړوني به دې شونډې و داغمه

▲ خوله به په زور درځینې واخلم
ستا په دادا مې څلورنیمې روپۍ دینه

▲ ستا له دادا نه نه وېرېږم
که یو ټیټو د چړو بار ورسره وینه

▲ ستا په دادا مې پور اوختی
ابله جمعه یې رانه پور وړي دینه

▲ څه خو نو تا ته داسې وایمه
ستا په دادا مې پنځوس نیمې روپۍ دینه

▲ دا پنځوس نیمې به دې درکړم
تا به پر شا کړم بیا دې خپل کاله ته وړمه ،،

د لغمان سرغندوي سندرغاړي کاري (قاري) عبدالحادي د لغمان کیسۍ ویونکي او سیدمحمد اوستاد په ګډه په ټنګټکور کې ویلې دي.

▲ نن مازیګر یې را ته و ویل
پس د ماښامه دې بیا دلته نه راځینه

▲ ښانګې چې ستا په نوم مې وژني
زه خو به داسې مرګ ته غاړه ورکومه

▲ د پېښور په لیکه کوز شه
جانانه زه دې سترې مه شې ته درځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ لاس دې له چته رابهر کړه
ته د وطن پېغلو ته وايه! سلامونه

▲ جانانه ما د ځان نوکر کړه
ايجازه به دې تنخوا حسابومه

خالي مې د اشنا د ناستې ځای دی
ژړا ته که راځي زړه مې نری دی

▲ شينو ستا ورونه! بد ماشان دي
هر مادزيګر را ته په برېتو لاسوهينه

▲ چېر ته په غرونو کې مې ګورئ
په ابادۍ کې مې ليلا ده زړه مې چوينه

▲ دا نيمه شپه توره تياره ده
د يار ليدو ته لېونی راغلی يمه

▲ دا نيمه شپه توره تياره ده
باران ورېږي شپه به چا کره کومه

بيا نه درځمه د ستا په کلي
دردونه مې په زړه مندلي

▲ په کندو اوړي پنا کېږي
د ګشمالو جوني ټوپک ورسره وړينه

▲ څوک په مليشا کې اوسيږي
د پېښور جونې دعا ورته کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ته د دوبۍ په مېږو ورکه
له ګول نازکه ياره خدای به دې ساتينه،،

د پېښور محلي شوکي سندغاړي په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ،، ځان مې بې وسه راته ښکاري؛ اوو!
وه!؛ چې مې اشنا د بل په خوا کې و ليدنه

▲ کنه!؛ دومره په بخت بيداره نه يمه
وه!؛ چې اوبو وړی يار به بيا په لاس رې شينه

▲ ای!؛ د غره په سر مې دې يار کور دی
ما توتکۍ کړې چې کړه وړه ور شومه

▲ اي!؛ مسافري ته دې ځان جوړ کړه
وه!؛ د زېړو ګلو باغ په چا سپاري مينه

▲ څوک چې د يار کلي ته لاړ شي؛ دوګړيماره!
وه!؛ مناسب نه ده چې خفه يې و لېږينه

د لغمان سرغندوي باجهماري سندرغاړي باچاخان لغماني په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ،، جانانه زه دې ساز خدړ کړم
چې خپله مور مې ټنده نه مچو کوينه

▲ جانانه پلار د دد ښکاريږي
د درکړې ږوږ ګورئ په هر مجلس کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ای خولګۍ زه د خدریوان کړم
ځکه ولس کې د هر میر کور له ورځمه

▲ ربه له غیبو مې ثواب کړې
هغې دنیا کې مجردانو د صف شومه

▲ ربه د هغې دنیا مې خیر کړې
چې مجردانو صف کې زه ونه درپړمه

▲ بیا به سرکوب غوندې ولاړ یم
د ټول عالم مخکې به زه مختورن یمه

▲ ربه د هغې دنیا مې خیر کړې
بې پته یار مې د یهودو نوکر کړمه

▲ ښبنتنه! ژوند عمر مې خیر کې
ړبن جیویش مې د لالا ډډون کوینه

▲ ژاخو جانانه خدای دې واخله
نه دې ښایست شته نه دې سم دي اندامونه

▲ خداپړو درکړ دې رانه جوړ کړ
چغځی کوراک ومه ښرمه د مټاک شومه

▲ یاره زوزان ته ساډیزم شوم
د غم دردونه مې ړنجې له منځه وړینه

▲ دادا دې سم درسره پوی کړه
دا په دا داج به دې په دانګ را له راوړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ جانانه مانه ګيله مه کړه
د لغمان خلک درغلي نه کبلوينه

▲ ربه ربنتينی مې سالار کړې
دا کوږ ربن به هميشه ژنل ومه

▲ زما پر تا د ستا پر مادي
چناک ګټلی داوږ زه نه درکومه

▲ په دوارو لاسو مې زيندي کړه
ساډی سوډی ملګرې څه دې و ستايمه

▲ ياره ساډو سابټ دې پلار دی
په ساړ پوکي دا سابيرۍ راغور ځوينه

▲ نامه دې شته حضور دې نه شته
چرلنډه ياره په بېديا دې لټومه

▲ يار مې په لوبو کې څرو دی
ځکه لوبغالې له په دنګو ګامو ځمه

▲ غمونه نور دې رانه شړه
ما په شپه غاله کې سبک ته نه پرېږدينه

▲ ستا د دوستی کتاب مې جوړ کړه
په هر خپرکي کې جفا ليکلې راځينه

▲ نا ځوانې دې پينی له ګوره
ژوي له ژوو سره خومره بنه کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ فردوس پښتو ویوکي وایي
ځکه ژاپن رنګری په ژی ږغرله وینه،،
د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پېنځم بلاک، لومړی پوړ، دوېیمه کوټه
5:14 pm ,09 /01/ لېږدی. ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۴۹ چوپړی)

▲ ,, موږ له قوي پولیس په کار دي
ږبن پولیس خلک میوزیک کنډک له وږینه

▲ وطن تکړه شپه میري غواړي
چې ملک دښن له اوږدي شپې شیبې کوینه

▲ خدای شته دا خرنګه عسکر دی
چې ملک وردی کې د دښن سوسیس راځینه

▲ د ستا ګناه نه ده ملګریه
د اکاډمی له خنګه پټ تېر شوی یینه

▲ زه درته لنډ تورم غږومه
ږبن عسکر راته کاږه ګامونه ږدینه

▲ لالیه! یو دوه راته وایه
موزون کدم ډولونه زه درته وهمه

▲ زه به د ستا لوري له ګور کړم
تعلیم کدم مې کبلوه چې خوښه شمه

▲ که سترېي مه شي راته وایې
زه به ژوند، ژوند درله ویم چې میر مې یینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ته بريالی اوسې فردوسه!
له درسه وروسته الله پامان دې و واينه

▲ له خدمتي ځينې راستون شه
مور په خپې لوخو تيرګړو پله ته درځينه،،

د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پينځم بلاک، لومړی پوړ، دوېيمه کوټه E۱۰۲ ,۱۱:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ لېږدی ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۵۱ چوپړی)

▲ ،، وطن تم ټول کافران راغله
ژر را پاڅېږه چې جوړه جهاد له ځونه

▲ د بوست له ور به زه درتېر شم
غاړه غړی دې له کاله راځه مينه

▲ دا وطن نه جوړېږي ياره
غټ او واړه يې بلواګر جوړ شوي دينه

▲ دا بچي څه بچي دي ياره؟
لکه لړمې بچي خپله موركی خورينه

▲ مونږ به ګاډيلې جواري خوارکړو
چې پر وطن مو کراری حالت راشينه

▲ ای ګنو ژنو ميرځمنو
ښنې له ښندو سازوی خندا راځينه،،
بوست، د فکيرانو کلی، لښکرګاه، هيلمند، ۲۰۰۷/۱۲/۲۹ زيږدی
,۰۳۰ Roshan BTS site HLM ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ دښمن زمونږه پاکستان دی؛ خدايه!
نه اينګلېسان نه امريکايان نه روسيان دينه

▲ د ډارنډکې زو ډارېږه
فرضي تواف ښې منډې نه غواړي څرګنه

▲ څاڅکې هوس څارل څاړي ده
څپان، څپان څپاڼ، څپاڼ غواړي خوړلنه

▲ ځاځل جوګر جلبنګ جنبان که
په لېوالتې مې جيجيونتې ټرښتې شينه

▲ چټي چټي چرلنډيه ياره
ځنځوونکې ځغونځونکې جيجرۍ يمه

▲ د شرمېدلې زو شرمېږه
د تخت سيالۍ کې مېړني اور ځرمه وينه

▲ په درنو غېږو څربولېږه
په څلورښدو کې د غبرګو څکل څکه

▲ چې څه دې کښت که کښت بې ټول کړې
زړه دې دنيا که ګشمالی کرې خاونده!

▲ ته دې له خپل مېرمن ډارېږې
خلک پردو په سي کلا ته وا وختنه

▲ ما چې به اسپې څرولې
زما مېړنی سور په اس سور راغلی ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تـــالا شـــــــولو مانعه!
ټولو كانونو مو تالا و لړېدنه

تن مو هړپی د مرغلرې
پرې بې حسابه ميرڅمنو تاړاكونه

لكه كوچى نوم دې بادرنګ دى
ماته په مينه باندې نوم ټاكې زردكه

,, راڅه جومات كې قسم و كړو
نور به په زړونو لوبې ژوند كې نه كوونه

زما ښښتن باندې سوګند دى
رسـول الله له په پښتـو درخواسـت لېږمه

د تبې غره د سر ښـامـاره
زموږ بـديداره افسـانې دې غږوونه

مورې د ستا مې نه منلـه
د مهترلام اوبـه مې پاس طـرف ته وړینه

زده كړياله ياره يوه ځل راشـه
چې دد وګـړي خواسـت ګاري راله راځينه

زده كړياله ياره يوه ځل راشـه
چې ضـدي پـلار مي خدرپوان له وركوينه

چې هر څه و راباندې تېر شو
ناځوانه خـوب كې خو راڅه چې خوالي كړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ته الته ډاډ باندې اوسېږه
دلته زما له ډېره تــاو شو کېبلونه

▲ پښتو پښتنې کړې راته ماتې
ږبن ږبن سره مې خواکې نه پرېږدینه

▲ چې څه د زړه و پوره نه شو
که ژوند باکـــي و ننهواتې به درځمه

▲ ستا د کتو انداز را یاد شي
بې دریغه و ژاړم چې کله به مخ شونه!؟

▲ څښتن تعالا نه به دې غواړم
په دې دنیا دې خدړان نه را کوینه

▲ الته به دواړه سره ګورو
څوک وفادار څوک بې وفا په دنیا ونه

▲ کله په خیال کې ورسره یم
کله په خیال کې یې راوړم رانه تم یینه

▲ کله تکدیر راسره مل وي
کله بې رحمه تېوکې و کړې رانه ځینه

▲ فردوسه! ولې سودایي شوي؟
تکدیر (تقدیر) سودا راسره کړې مختورنه

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړی پوړ، دوبیمه کوټه E۱۰۲ ,۳:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ لیږدی. ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۳۷ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ,, محضې په خوله ربشتيني وايي
راځه د زړه خوالي و کاندو مرګ راځينه

▲ راځه وېصال ته غاړه کېږدو
نور له هجرانه توبګاره شوم مينه

▲ مينه کې وېصل ټکی ورک شو
هجر کې و ګوره کوليات راغلي دينه

▲ په غېر کې سمه را غورځېږه
ما برايي درېسې ډېر ژړلي دينه

▲ ستا رنګ انار غوندې ښکارېږي
زما دې رنګ د مکيانډې واړه ونه

▲ که يارانه نه کړې جانانه
داسې بيا مه وايه چې بيا له کلي ځمه

▲ زه دې رمته لېونی کړم
مينه دې واخله ما په خپل خيال کړه مينه

▲ چې زه پخوا په خيال کې بيا شم
نور به په ژوند کې مينه نه کوم مينه

▲ دا سترګې ما وژني جانانه
چې ترمې اوښکې يې سهار کې و وينمه

▲ په ګناهو توبې و کاندو
د پاک ښښتن ډېر ګناکاره يو مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ له پــاک الله به فردوس غواړو
موږ ګناکار يې د ورتلو لـايـک (لايق) نه يونه

د ملا باکي غونډۍ په سر، د موسی کلا ولسوالی، هېلمند، ۲۰۰۷/۰۱/۱۶ زېږدی Roshan BTS site HLM ۰۱۲, ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی)

▲ ,, لاس کې به غټ لرګی د ستا و
لکه د غره شپنه چې سمې ته راشينه

▲ ځانه ښبتن باندې دې سپارم
تودو ايرو باندې مې خپل يار و لړمه

▲ د غم سيلۍ را باندې راغله
نمجنې سترګې مې له خاورو ډکه وينه

▲ ولې په اوښ باندې سوره يې؟
ماته معلوم شول ګولې ستا تول فريبونه

▲ ځان د پشان د کوم کومرۍ کړه!
د خلاصيدو ځواب په ستونې کې واينه

▲ بنګالۍ پيغله درنه ښه ده
کوډګرې زه دې له خندا په ژړا کړمه،،

( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۸۷ چوپړی)

▲ پرېږده چې ښې بلا و کاندې
نادان بچي دې د دښمن په لمسون دينه

▲ ځان سره تل په ژړا ژاړم
د يهودي مسی د دين ټيکهدار شونه

( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۲۹ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په پټه، پټه غلی وران شي
پټ رنګېدو پروژېم ستا له کور راځينه

▲ له ملو رنګ شي پاکستانه!
په زړه بدانه زړه مي وران تل له تا وينه

▲ کرېکي دې کوم شهيد راياد کړم
که تېمرشاه، که ملالی که نجيب کړمه

▲ د سلګۍ زړه پر دغه شين دی
سلګۍ، سلګۍ، سلګۍ، سلګۍ ليدلي دينه

▲ پيغلو چکچکي کړئ الکه (حلقه) شئ
د پيغمبر اومتی څوک نه نازوينه

▲ ناوی لالی دي لاس نه نيسه
چي ننواتي ستا د زړه کور ته درځينه

▲ ناوی رو، رو کدم اخله
د ولس پيغلي په کتار درسره ځينه

▲ ناکی دنيا درته فردوس شه
مونږ د الله نه درته دا غوښتني کړونه

▲ بډی ملګرې دي خوشحاله
واده د ستا دی ژړا دوی د دروغو کړينه

▲ که يي بوغان راباندي پلوري
زه پيرودونکي د ابی د کسټ ګل يمه

زمونږ کور، مهترلام، لغمان، افغانستان ۱۳۸۵/۱/۱ ليږدی ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ ليږدی، ۲۲۲ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ,, د تورو ټکو برکت دی
تا غوندې خلک څوک منبر کې نه پرېږدينه

▲ سوګند په تورو ټکو کومه
که د نامه په خوله واخلم سرکوب به يمه

▲ مونږ به دې هسې خاطر و کړو
کم اصل خلک څوک په پوځ کې نه پرېږدينه

▲ په سپينه ږيره کونيټوب کړې
ورانو کارو پسې د سپي په شانتې ځينه

▲ په سپينه ږيره سودايې يې
جومات کې کېنه عبادت و کړه ربنه

▲ د اسلام رنګه دې کړه بده
سادې سودې ايمامه څه دې و ستايمه

▲ اسلام بدنام خلکو بدنام کړه
ځکه يهودو باندې دين له منځه ورينه

▲ ګاونډ دې ورى ته چرګان خوره
داسې کارونه اسلام هيڅ نه کبلوينه

▲ اسلام د عدل انصاف دين دی
ځکه غريب غني يو ځای څځلې کوينه

د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پينځم بلاک، لومړی پوړ، دوبيمه کوټه E۱۰۲, ۱۰:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ لیږدی ،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۴۹ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ,, په لغمانيانو کې مې خوښ کړې
راځه، پردی يه زه دې خپله ومه

▲ ربنچېنه سمه په سر کېږده
چرلنډيه ياره څوک به غږ درو کوينه

▲ ستا کوږ اوږ پاچ نه کربان شم
لکه جلغ زه درنه تاو راتاوه شمه

▲ چې د وېصال په خيال کې جوړ کړم
بېلتون ظالم مې سم دستي په منځ کې شينه

▲ ستا له اوبښتو سترګو ځار شم
په دا زرغونه سيمه يې ساری نه وينمه

▲ ته په ښايسته ډمبر ګرځېږه
زه په خامه کشونو ځم لېونی شومه

▲ پرېږده چې ستا تعليم پوره شي
مور مې خبره د کرارې مجلس کړنه

▲ ښاګليه ياره مه ځوريږه
که کېسمت و شو په هغه ځای به يو شونه

▲ په ريګستان کې مې ربدي ده
ربه زرغون يې لوی يه وه ترې لرې يمه

▲ زمام کم اصلو ته سلام دی
څوک چې له ټېټه وره ځي سر ټېټه وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ربـه د ستا پـه ازمـوينه
ما خو له پيغلو شونډو رنګ خوړلي دينه

▲ ربـه د ستا پـه ارزونـه
ما يې په زنـه د ستا نـوم ليـکلی ونه

بوست، د فکيرانو کلی، لښکرګاه، هلمند، ۲۰۰۸/۰۱/۰۱ زېږدی
(صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی) ‹‹ Roshan BTS site HLM ۰۳۰,

▲ ,, بيا به کړی ورځ را په شا وې
لکه چې کوټې ځوک په بار بلده وينه

▲ ستا به لاسونه زما غوړونه
لکه ګاډی جلب دې هر وخت کش کونه

▲ ځنګ ته مې راشې راته نه ګورې
لکه هندو چې کليمه بده راځينه

▲ اوس په لکسس باندې ګرد مه کړه!
ماته معلوم دې واړه لوښي لرګي دينه

▲ ځانه د غټ ساګر جوړ کړی
ټول شيطانان دې دوې لاسې سلام کوينه

▲ فردوس ته هغه وخت وریاد کې
چې د غوبله غوبل يې تا باندې کونه

▲ ځانه د غټ ساګر جوړ کړی
ټول شيطانان دې دوې لاسې سلام کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ يه كربانه!؛ كربان وطنه زمونږ كور يې
په سر او سترګو به دې مونږ جوړو اړمنه

▲ يه كربانه!؛ كربان وطنه څومره خوږ يې
له ځانه ګرانه و خوږمن افغانستانه

▲ ړانزړه مې وينې خپلې وڅښې
ړنګتيا يې څه ده ړنګ وي داغلي زړونه

▲ ړبن په بنه واړولم
څه به كړي مينه مې د يار په زړه دننه

▲ ړندې پېښې را باندې و كه
د ژبې لاړې دې درمل د ړنګې زړه نه

▲ ننكۍ دې پاس څرځي ته نه ځي
بيګا په توره خړه و لاړه ترې شپانه

▲ نۍ غټه روغه، روغه جوړه
موږ ته بختي يې وه له ځای ځنې خپه تله

▲ ږن خو داړلی نه يې ياره
له غره راغلی رنګ دي ځي راځي مينه

▲ ثابت كدم وسه جانانه
د ثانيه ګر په شان چورلبڅ تل له تايمه

▲ څوابيروژې مه نيسه ياره
د يار په هېنده كې اجرونه كال كلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ضعيفه! هر څه په دنيا دي
ټېنګ يو الله دی چې مدام په دنيا وينه

▲ ضعيف بدن مې مه کړې خدايه
ضعيف بدنی د هر چا مهتاجه وينه

▲ ضربه، ضربه ضربې ضربې که
ضابط شيطان مو ضامني ضايعه کوينه

▲ يه کربانه!؛ کربان وطنه زموږ کور يې
وه!؛ په سر او سترګو به دې موږ جوړو اړمنه؛ وی!

▲ نرۍ سينه نرۍ يې ونه
خدايه له ځای ځنې کمزورې دغه ترله

▲ ستا رنګ انار غوندې ښکارېږي
زما دې رنګ د مکيانډې واړه ونه

▲ هواوېچه د ژمي نه ده
د خرګړي ورمه بوی نغښتی په شاړه

▲ غاښ مرغلرې لال دې شونډې
خوله دې غونچه کند دې خبرې په تول دينه

▲ تې دې کونځيټ غاړه ايلبټ ده
هډ دې کرسټلې د ماوی او کورګل دينه

▲ ښه انګچه مينه انګولا که
غبرګ انګولل که ليوهګی سره ليوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلي ۸۹ چوپړی

▲ په دا ژوند وند اکۍ په څه که
د کودۍیو یې کتار لاړ له انګړ لاړه

▲ تن مو هرېږۍ د مرغلرې
پرې بې حسابه میرڅمنو تړاکونه

▲ درون خوی درنې خبرې درنه ژبه
په غټو تکو یې شتمنه څومره درېه

▲ لکه کوچی نوم دې بادرنګ دی
ما ته په مینه باندې نوم ټاکې زردکه

▲ سترګې رپ رپې دې لېزرې
لیدل یې ګوره د زړه سپینې تختوینه

▲ د ډارنډکې زو ډاریږه
فرضې تواف ښې منډې نه غواړې څرګنه

▲ پیغمبرې ښایست دې څار شم
د ټیک بارکۍ تینګه مې نه غواړې مینه

▲ د مینې لید دې راته ښکارې
د ژپې ژۍ دې د زړه اور سرېوبه وینه

▲ عامر کفارو ته خبرې که
د الله رسول باندې څوک داسې کانې کړینه

▲ مینې د عامر ته فکر ورۍ
زخمې یې یار دی پرې غاښونه تویونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د عامر مينه بويه مينه
له اننګو کړی باسي اوښکې يې ځينه

▲ پېغلو په خپل منځ کې ديره شئ
د پيغمبر اومتی څوک نه نازوينه

▲ بن جراح مينې ته ګور که
د زغرې پرې په غاښو لرې کوينه

▲ غښتليه! رټ شه ولاړېږه
پر دښن ګډه شخړه ورو چې تالا شينه

▲ تورې او سپرې مې دلې دي
چې پر راځي ما به په تن ترلې وينه

▲ زدهکړې پر زوی برکتي و که
چې پرې سوکاله شمه زه ته او برکتېه

▲ خدايه! جنت له بويه خوږ دی
د خاوند غيږې بوی مې زړه کرار وينه

▲ اه! د سفير فردوس خبره
چې بل کې سر کېښود ترې هر څه له سر ځينه

▲ ناوکی راشه په خير راغلې
ميږه دې تا ته هر کلی وايي مينه

▲ که يې بوغان راباندې پلورې
زه پيرودونکې د ابی د ګسټ ګل يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په يار مې دوې پورافسه کړي
کړنه يې نه شته نه شفرونه سګنالونه

▲ اه! د سفير فردوس خبره
له هغې نه زر چند ښکلې خدای را کړه مېرمنه

▲ واه په لولی پېغلې لېواله
مناسب نه دي خوله وېنخښتي سترګې دواړه

▲ ته کروندګره ناوې نه يې
چې هم ګوټنه کړې غورينه او کټنه

▲ اه! د سفير فردوس خبره
ګرخ شه! چې غوښې له الماسو لوړې ورينه

▲ زړه يې پر دې ښارګوټي نه دی
په دا او دا بلکن ولاړه وي ګولځکه

▲ راته يې شېر زوزات را وړي
له سترګو لرې لره زما ښکلې ګولوۍيه

▲ دنده سهاره تر ماښامه
جانانه تاته په کې څه شی پاتې شونه

▲ دا د غازي غازۍ واده دی
چې د واده شپې يې د سمڅو منځ کې دينه

▲ دوکتورا ښکلې ځوانان وايي
کوناټور پوهنتون ته ځي بېرته راځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د ګوډاګي واده به تېر شي
سپېږ بنه و نه کړه شولې ديګ دې و لړنه

▲ خدايه! د پېغلو باران و کړې
چې ځادر و غوړم ترې و ترم پندونه

▲ زما په تور زندان ته تللی
زه د اتو زامنو مور يم زې بخښمه

▲ په اند او ليد دې زېرې و شه
خلک دې ستايي د پردو په کتارونه

▲ زما زېرکه کور کې نه شته
زړه مې خپه دی هېواد خوند نه راکوينه

▲ دا باچاهي ده د ستا خپله
د ولس پېغلې په کتار درسره ځينه

▲ په مينه، مينه اتڼ کاندي
دا ميلمنې جونې په ورا راغلې دينه

▲ ډېره په نوم د ناصرخان ده
ډګې کاسې د اعظيم خان له کوره ځينه

▲ بر به مو بر ساتي برې
په بابېدلې بلې بابر بدان دينه

▲ په ټول واخکټ يې دعوا و کړه
يو دانه جيب يې خامخا په لاس درځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که زر کوسونه بارن و شي
که منځ کې یو غین وي راځي زموږ پر کونه

▲ د ډارنډکې زو ډارېږه
فرضي تواف ښې منډې نه غواړي خرګنه

▲ ښاښکي هوس ښارل ښاړي ده
ښپان، ښپان ښپاڼ، ښپاڼ غواړي خوږلنه

▲ ځاځل جوګر جلبنګ جنبان که
په لېوالتې مې جیجیونتې ترېښتې شینه

▲ چتې، چتې چرلندیه یاره
ځنځوونکې ځغونځونکې جیجرۍ یمه

▲ د شرمبدلې زو شرمیږه
د تخت سیالۍ کې مېړني اور ښرمه وینه

▲ په درنو غیږو خربولیږه
په ښلورښندو کې د غبرګو ښکل ښکه

▲ چې ښه دې کښت که کښت بې تول کړې
زړه دې دنیا که کشمالی کړې خاونده!

▲ ته دې له خپل مېرمن ډاربېږي
خلک پردو په سې کلا ته وا وختنه

▲ ما چې به اسپې ښرولې
زما مېړنی سور په اس سور راغلی ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د ټپ دې ټولې وینې وڅښي
د کوسی زویه بله څه کوې دوپیمه

▲ زړه به دې تور له کوروالی کړم
چې ځوانی هندې کړم زړه سوی بیا نه لرمه

▲ له ایرانی مې زړګی شین ده
واده د ده خوټې بل ورورو کلوینه

▲ ناوکی لاړې!، لاړې!، لاړې
پام دې کوه چې دې دردونه ورکوینه

▲ له ټپ دې ټولې وینې وکښي
د پیغلتوب پردې مې لاړې په برغنه

▲ ته خبر نه یې زه ډېر بد یم
پرتوړ دې باسم لاس او پښې دې پرې ترمه

▲ یا به زما په سترګو تور وي
یا دې لسم ځل یاره غيمې په ناورینه

▲ که پیغله کی لغمانۍ و که
چې په مستی کې دې له ښکې پانټې وهینه

▲ که مېره کی لغمانی و که
کوس دې چیپی او په اوړو دې پورته وړینه

▲ دا لغماني ښومره بدان دي
ملګرې پرېږده مېلمنې غی په چلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په کوس له هر لوري وردانګه
په کونه مه دانګه ږنګی دې د پلار خونه

▲ که پرې راځې په مخې راشه
ځپلی له چپ لوري ځوک نه پخښو کوينه

▲ ښځې کول دي سونتونه
ټينګ، ټينګ غوول يې دي فرضونه ثوابونه

▲ که ښځه يو ساعت کې خوښه
يو ساعت غوول يې برابر يو کال اجرونه

▲ وی خورې دومره سپک سږی ده
پرتوږ مې باسي په لکږه يې اچوينه

▲ د پښتنو درنې کنځاوې
وی خور او مور او نيا دې غيم هم دې منديِنه

▲ د پښتنو درنې کنځاوې
وی ستا په لوی کوس کې ټول غر ور و منډمه

▲ پښتون د بل کنځاوې نه که
وی ستا دا زيږ کوس په زيږګل وغم او په ونه

▲ د پښتنو کانې در وښيم
چې کوس ور نه کړې وی ستا کوس و غيم خيرنه

▲ زما لس کلن غين چولک بولې
خدايږو د خوند څکه يې و وينې په مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د پښتنو د غين له زوره
د نړېولو کونې ځای ته نه راځينه

▲ که مې تر بېخه در کې کېښود
کوس به دې رېږدي پام به کړې چې دی ځنګونه

▲ ښځې هېندارو ښځې، ښځې
مورې بېتالې يو چې عسکر غهيو کلونه

▲ ستا په سينو کې خوټې چوخ کړم
نرۍ دې ملا تن دې نازک کوس دې په وينه

▲ خپله له تولو غوره غيه!!!
د مېرمن يوه رښت دين کې دا ده په درغنه

▲ نرۍ سينه نرۍ يې ونه
له ځای ډارنه او کمزورې دغه دړه

▲ پېړ يې تېټر دنګه يې ونه
خدايه! پر تا ټينګه ډاډمنه دغه دړه،،

د ختيځ لومړي نمبر ځېرونکي د ټاټوبي ميلي پېيلې دي ( صفي الله، ۱۴۰۳ لېږدی، ځای، ځای له ۱۸۳ څخه تر ۳۰۴ چوپړی)

▲ ،، ته خو کوچې وې کوچ دې و کړه
د څرې اور دې په کوڅه کې و شيندنه

▲ يار مې په بوسوکې ويده وه
چې مې پرې بو کړ پرتوغابښ يې و شلېدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په چا به ځي په چا به نه ځي
څوک دې په زوره په چا ته نه منډي مینه

▲ د سحر غینه زه دې ځار شم
هره ټپله دې د زړه زنګ لرې کوینه

▲ د بام له سره مې سیي کړې
پرتوګ دې باسه غین مې کانګې کړي دینه

▲ له نامه پورته اجازه ده
له نامه ښکته مې ټپیر کړلي دینه

▲ ټپنګه مې مه نیسه په غیږ کې
تي مې خوړیږي سګنی بالغه یمه

▲ په ما دې خبېته نغاره کړه
راغلی مه وای د یوې شپې مسافره

▲ د سپینې خولې واک مې درکړی
د پرتوغاښ په غوټو مه وهه لاسونه

▲ کمیس یې تي په سر سوری دی
لکه مرز چې له خلتې وتلی وینه

▲ د کوس په سر دې مچۍ و خوره
چې تر سبا یې تپوې اوبه یې ځینه

▲ د کوس په سر دې هټۍ جوړ که
غین مې بنوال دی ګندنې ورته راوړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ کاشکې چې زه د ملک لور وی
ما به پرتوګ د کوناټو په سر ترڼه

▲ نيمه شپه شوه يار رانهغی
زويه! ويده شه چې په خپله پهسې ځمه

▲ سر دې چوټې کړه خوله دې راکړه
که پرې اغېږه شوې لندی بوکه به دې کړمه

▲ د زنې کنډ يې خوله کې راکړه
کند او نبات مې کابل جان کې بدې شينه

▲ ګول د ګولاب بوی د ښخځلې
سوری د ونې خوب د نجونو پر ورنونه

▲ خوله په خوله شونډه په شونډه
ژبه مې پرېږده چې ګيلې در له کومه

▲ جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله درنه کړم مرور ګرځې مينه

▲ په نيمه شپه راغلې لاليه
ما دې خدای غرکه کړې چې خوله نه درکومه

▲ يو ځلې راغی خوله مې ورکړه
لاره يې سيې کړه په غضب ککړه شومه

▲ که يوه خوله وی مابه درکړی
ته شمکوړوال يې همېشه کوې سوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خوله دې کتاب شونډې د پاڼې
د چار شنبې په ورځ يې ژو په و کومه

▲ ملا دا خپل سيرلی مې راکه
دا ستا په ګوړو ليلا خوله نه راکوينه

▲ د دونيا دوې ورځې ژوندون دی
مېرمن يې غيم چې په ژړا يې تېرومه

▲ د مور دې درې ښپکه کوس ده
د دادا زړه دې له خفګانه و چاودنه

▲ له رنګه توره مصلیٰ ده
په خوله کې خوند د چهارباغیٰ منې لرينه

▲ زما دې خېټه نغاره کړه
راغلی مه وی د يوې شپې مسافره

▲ د مور د درې جريبه کوس دی
د پلار دې خېټه مرتبان ده زړه يې چوينه

▲ د مور د درې جريبه خوله دی
يوه جريب راکړه چې شپتل په کې کرمه

▲ چې مور دې اخ! کړ ما در ښخ کړ
دادا دې جيګ شو زه يې له خوټو و نيومه

▲ په کوس دې خچه ګوته نه ځي
چې زور پرې راشي اليشنګ مولی پرې ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په کټ کې سپينه، سپينه اوړې
په ما دې غوسل (غسل) په پټي کې واړاونه

▲ لمن دې ټوله خوله کې نيسه
د خېټې جنګ ته درته بيا راغلی يمه

▲ پرتوړ مې ځي پر ځای سوری دی
د خېټې جنګ ته درته بيا راغلی يمه

▲ پرتوړ مې ځي پر ځای سوری دی
ستن به ورنه وړم ياره تا پرې ځورمه

▲ پرتوړ دې سوړې، سوړې راوړه
چې هره سوړه يې ګندم ژړا راځينه

▲ په ټس او پس دې پوره نه شوه
جانانه غرکه مې وهه چې بلاربه شمه

▲ دا ډز او ډوز دی زامن کېږي
زه د دله په کور کې شنډه ناسته يمه

▲ خلک جوړه، جوړه خملي
ابۍ مې مړه کړې ما يوازې خمله وينه

▲ جانانه ستا مزه ګی نه شته
زما همزولې زانګوکانې زنګوينه

▲ اول دې پېښې راته اوړدې کړې
بيا دې درټولې کړې چې نه يې درکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ پاس په سينه مې غلی خمله
غږ به و نه کړم که ورسته درلاندې شمه

▲ يوه دې وه بله دې و کړه
اوس ورته اېنگ شه چې بانجان دې و باسينه

▲ چې موټکي وهل دې زده کړه
کمبخته زه يم په پڅې يې سولومه

▲ چې پسرلی شي غين سپرلی شي
کوس لېونی شي په بازو خوله لړوينه

▲ خدای دې په تنگه کوڅه راکه
چې لونگين دې په اوږو دروازومه

▲ خدای دې په تنگه کوڅه راکه
چې لونگين دې لکه وريځې و چېچمه

▲ خدای دې په تنگه کوڅه راکه
چې ته ځاری کړې زه دې گنده خلاصومه

▲ خدای دې په تنگه کوڅه راکه
چې ته ځان، ځان کړې زه بانځان در و منډمه

▲ ما سره سمه سيالي مه کړه
لکه بې موره کوتې خوږ ته به دې کړمه

▲ ما سره سمه سيالي مه کړه
لکه د لارې خپلۍ و به دې شکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ما سره سمه سيالي مه کړه
زه لغمانی يم خره په ونه خېژومه

▲ له ګرېوانه مې لاس ورتېر که
په کولماني بيهي مې لاس و لګېدنه

▲ تا چې په کټ کې ماته شا کړه
تورې سمبې دې پر ما اور و لړونه

▲ ګول چې تازه و را دې نه کړه
مړاوی ګول چې را کوې زاره مې چوينه

▲ چارګول مې خوله کې ترې نه وېوړه
دا بوره مور يې ډېرانونه لټه وينه

▲ الکه خدای که به خوله در کم
په سر دې نه شته د مصری تورې واورونه

▲ تېتې، تېتې په توره راشې
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

▲ خوله دې د سرو زرو راشه ده
کوم بختور به ورته غوندی غوړوينه

▲ موزې د کټ د ختو نه دی
لکه چرګوړی چنګېده پرې سبا شونه

▲ يار مې په خوله کې ژبه غواړي
عدت مې نه دی خپل کنلنګ جاري کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خوله دې له ګوړې نه خوږه ده
په لنډه زنه دې ګنې کړلې دينه

▲ خوله به په زوره درنه واخلم
ستا په دادا مې څلور نيمې روپۍ دينه

▲ که ته مې روغ لېونی نه کړې
بيا مې د بنګو پياله مه بوله مينه

▲ زه خو له شوکه مصری وايم
ځوک چې د دم ګومان کوي خرکوس به وينه،،

لغمانۍ نره له ټېکي وېستلي ميلي پېيلې دي ( صفي الله، ۱۴۰۳ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی)

▲ ،، راځئ، راځئ چې لنډۍ وايو
لنډۍ لاښې دي د يار غم غلتوينه،،
(ګل باچا، ۱۳۲۵ لېږدی، ۱۱۳ چوپړی)

▲ راځئ، راځئ چې لنډۍ پرېږدو
لنډۍ چړې دي د زړه ولې غوځوينه

▲ ،، هابيل کابيل وو سره ورونه
نفس ظالم شو په خپل منځ کې تبا شونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۹۵ چوپړی)، ( سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی، ۴۷۲ چوپړی)

▲ ،، په سګنۍ تبه مر مه شې
خلک به وايي چې ليلا شوه بدشاګومه،،
( د ليکوال مور بي بي حاجي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ,, رب خو دې دا وارې راجوړ که

خلک به وايي بخت يې تور دى يار يې مرينه،،

( سلما شاهين، ۱۹۸۴ زيږدى، ۳۸۰ چوپړى)

▲ ,, خداى دې له دې لارې راجوړ کړه

خلک به وايي بخت يې تور دى يار يې مرينه،،

( د هېواد سرغندوى، تکړه، هېښنده او انقلابي سندرغاړى عبدالله مقرى وايي)

▲ زما د عمر سره سمه

ميراث شي غمه په خندا دې تېرومه،،

(داود خان ۱۹۸۴ زيږدى، ۲۱ چوپړى)

▲ ,, مسافري ته دې ځان جوړ کړه

په چا مې سپارې که دې هېره کړم مينه،،

(حضرت محمد وياړ، ۱۳۸۷ ليږدى، ۱۷۴ چوپړى)

▲ ,, تېکي کوه او بيا يې ليکه

چې په تولې کې شرمنده نه شي مينه،،

( حبيب الله رفيع، ۱۳۴۹ ليږدى، ۱۰۹ چوپړى)

▲ ناوې ښادي دې مبارک شه

داسې ښکارېږې لکه لعل او مرغلره

▲ رب دې رحمت پر دې تيکي که

ايله بېله زړه مې په ځاى و لګېدنه

▲ زما په زړه دې پرهار و کړ

په تا دې و شي د مصرى توري وارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مصرۍ کوه او بیا یې لیکه
چې په ټولي کې شرمنده نه شې مینه

▲ مصرۍ دوې درې سرې ته بس دي
له دې نه ورسته لغمانۍ سروکۍ کړمه

▲ خاطر د ډېر را باندې ګران دی
ګنې منګې لاندې خوله کبه ورکومه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما په ملالې کوکۍ لاس کله پرېخونه

د عمر کچه یې له یوه سلو شل کاله وړاندې کلمي نخسه کې شتون لري، چې راټولونکی او پېخلیک یې معلوم نه دی په ملي ارشف کې خوندې ده په ۱۲۸۰ زېږدي کال کې ( خوندې شوې، ۱۲۰ کلو وړاندې خوندي شوې)

▲ ,, خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
زه په ملاله خولګۍ نه پرېدم لاسونه،،

استاد ګل پاچا الفت په خپل کتاب پښتو سندرې کې راوړې یا راټوله کړې او کتاب یې هم په ۱۳۲۵لېږدي کې چاپ شوی دی، له دې کتابه وړاندې په لیکلي بڼه د لنډیو کوم کتاب نه دی چاپ شوی، ( ۷۵ کاله وړاندې دا خوندي شوې).

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما پر ملاله خولګۍ نه پرېښوه لاسونه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
د چا د وړاندې سترګې نه در اړومه

د محمدین ژواک، پښتنې سندرې په نوم لیکې ( کتاب)، لومړی برخه، کې ۸۸ چوپړی ( پانه) ، د خ ابېخۍ کې دربیمه او خلورمه ګڼه لنډۍ ده، په ۱۳۳۴ لېږدي کې له چاپه تېر شوی دی، ( ۶۶ کاله وړاندې محمدین ژواک خوندي کړې دي) له د څخه ورسته ډېرو لیکلوالو لیکنې کړې په لنډیو لکه مجاویر.ا.ز ، عبدلروف بېنوا، صدیق الله رښتین،... . سلیمان لایق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زما دې سر په کار ده یاره!
مال ده ښتروځی چې زه اور پرې لړومه

یه کربانه!؛
▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
کنه منګې لاندې خوله کله ورکومه

یه کربانه!؛
▲ زه خو همغه مسته لیلا یم
چې رنګ مې ژېړ دی له همځولو بېله یمه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
پاړکې په شونډو کې پراته خوله درکومه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
څالې ځولې کوځې اوړدې درته درځمه

▲ که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

▲ که په میوند کې شهید نه شوې
د ډارن زویه! دورکاندې ته دې لېږمه

▲ سپوږمۍ سر وهه را خېږه
یار مې د ګولو لو کوې ګوتې رېبینه

ناکره بنه یې:.
▲ سپوږمیه کړنګ وهه را خېږه
یار مې د ګولو لو کوې ګوتې رېبینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لومړی ترکیبي لنډی:.

▲ سپوږمۍ سر وهه را خېژه

تېکو مروړلو نه به تنده کړم دارنه

زما دوېیمه ترکیبي لنډی:.

▲ سپوږمۍ سر وهه را خېژه

له ډېرو هندو نه ونه وژنمه ژنه

▲ که د خانو لښکرې راغلې

زه تر ګوملې پورې مخې ته ورځمه

▲ که د خانو لښکرې راغلې

توري او سپري لېندهماره ورته وړمه

زما دوېیمه ترکیبي مصری، خو داسې کړنې ناسمې دي، لوی ویار دی:.

▲ بې ننګي تا و کړه جانانه

د ټول عالم پېغور دي ماته راوستنه،،

(پښتو تولنه، ۱۳۵۴ لیږدی، ۱۷۶ چوپړی)

▲ زما په زړه دې بانه خښ کړه

سترګې په ورو پورته کوه نامردې مرمه

▲ استاذه خېر ده ما کامیاب کړه

زه نا لایک د خپل جانان له لاسه یمه

▲ زلفې دې بې شماله ښوري

لکه استاد شاګرد ته لښته خوځوينه

▲ اخر به ټول جنت ته لاړ شي

چې کلیمه یې د الله ویلې وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تاټوبي ميلي پېيلې ۱۰۸ چوپړی

▲ جلی ولاړه په لمانځه ده
پېرزو مې نه دی چې اوربل په خاورو ږدینه

▲ زکوة د خولې به زه در نه کړم
پر کلندرو انجونو نه شته زکاتونه

▲ د روژې هر ماښام اختر دی
توتې، توتې د پېشلمې د لاسه یمه

▲ له ما نه پټ مکې ته لاړې
کبول دې مه شه د الله په در سوالونه

▲ ورځ د جمعې وخت مازیګر دی
سترګې په ورو پورته کوه نامردې مرمه

▲ ,, کیتابه! ژر، ژر تمامېږه
ما په وطن کې رنځوران پرېیښي دینه

▲ د غره له سره مې سهیې کړې
پرې به دې نه دم د کېږدۍ لاندې اوربله

▲ شین خال دې ستوری د اوکاب دی
د لویو غرو پر سر یې مړاوې کړل ګولونه

▲ د نجلۍ تورو سترګو و سوم
کلی یې وران کې رانجه چا ورکړې دینه

▲ ګول د ګلاب بوی د خنځلې
سوری د ونې خوب د نجونو پر ورنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي ميلي پېيلي ۱۰۹ چوپړی

▲ خوله په خوله شونډه په شونډه
ژبه مي پرېږده چې ګيلي در له کومه

▲ د سپينو غاښو يې بربښنا شوه
چا ويل ږلۍ ده چا ويل واوره اوروينه

▲ خمارو سترګو نه دې ځار شم
چې يې را واړوې له ما اخلې غمونه

▲ سترګو دې جنګ را باندې راوړ
باڼه دې ځي تر شا لښکرې خبروينه

▲ نن مې جانان ليدلی نه دی
لکه باڼه لوړې ژورې لتومه

▲ نن مې جانان ليدلی نه دی
لکه د بنګو پياله بيا خماره يمه

▲ کميس دې تې پر ځای سوری دی
لکه ګولاب چې له پردې وتلی وينه

▲ په مخ دې پشم د باران دی
ما به ګومان د مرغلرو پرې کونه

▲ ديدن دې حج مخ دې مکه ده
سپينه سينه دې عرفات پرې درغلمه

▲ په لاس به تېر ساعت را نه شي
که وچې ونې زرغونې په اوښکو کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اسمان ته لار د خلکو نه شته
د زمکې سر به را ته بلې لمبې کړېنه

▲ په دنيا ښه راسره و که
په اخرت کې د هر چا ښه وي کورونه

▲ زما زړګيه! لېونيه!
ته له پردي عالمه! غواړې عزتونه

▲ سبا مې بيا د کډې وار دی
په سر به پنډې چلوم په زړه غمونه

▲ خوله دې کتاب شوندې د پاڼې
د چار شنبې په ورځ يې ژو په و کومه

▲ اوړی دې ټول په غم کې تېر کړه
په ژمي راغلې له ما غواړې ژېړ ګلونه

▲ ستا د ديدن باران دې و شي
چې دغه تږې عاشکان په اوبه شينه

▲ که ته پر سپينه خوله مړ نه شوې
سوګند په خدای دی بې ننګۍ ته دې ساتينه

▲ سپينه خولګۍ دې راته ژوې
که په چړو کې نرۍ لار وي در به شمه

▲ خلک به هر څه، هر څه وايي
جانانه مه د چا منه نه يې منمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خلک به هر څه، هر څه وایي
زه زوړ اشنا په نوي یار نه بدلومه

▲ اول مې کله، کله غم وو
اوس مې کتاب شو مشغولا په کې کومه

▲ زما د زړه صبرېدل ګران دي
اشنا چې راشي خوي کوي صبر به شینه

▲ که سل اویا کالونه تېر شي
هېر به مې نه شي ستا را کړې ځوابونه

▲ که چا رباب لیدلی نه وي
د شا لیلا سینه رباب زلفې یې تارونه

▲ د لونګین پر تار راخیږه
شپه پر پېزوان کړه خرڅ له خولې واخله مینه

▲ اوبه مې ښبې پېزوان مې لوند شو
په نري باد یې و چوم ژړا راځینه

▲ د هېندوستان لوري ته مه ځه
ته به ګڼې خورې ما به هېره کې مینه

▲ پر هېندوستان یې ګول کړلي
پر خوراسان ولاړه یم بوی یې راځینه

▲ سپینې سپوږمی ولې کبرجنې
سپینې سینې درته پرتې دي پر بامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زلفې مې مه پرې کوه مورې
پر پرېکړې ونې نه کېنې بازونه

▲ د بېلتانه په ژرنده راغلم
ګرهېار يې خېرې دوې مين جلا کوينه

▲ ځوانان ژور کابر له لوېږي
لنګی يې کېښودي د ښځو په سرونه

▲ يار مې اېندو زه مسلمان يم
د يار له پاره د اېندوانو رسم کړمه

▲ يار مې اېندو زه مسلمان يم
د يار له پاره درمسال جارو کومه

▲ وطن د يار په سترګو خپل دی
چې يار نه وي څه وطن څه بې وطنه

▲ راځه، راځه چې سره ځونه
که را ګرمي شوه تورپيکی به سوری کينه

▲ راځه، راځه چې سره لاړ شو
يا به ياران شو يا به تورې خاورې شونه

▲ کيتابه ژړ، ژړ تماميږه
په وطن کې مې په خنجر پيلي زړونه

▲ ولې د بد راسره و کړه
زما په دنيا کې تمه وه چې يار لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ,, ولې د بد راسره و کړه؛ جانانه!
چې د کیامت مخ مې په تا تور که مینه،،
(پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۷۷ چوپړی)
یادونه: جانانه! پارنویکی د مصرۍ په پلنی مسره کې بېخباري راغلی چې ۹ مسره یې ۳ څپې ډېره کړې او ۱۲ څپې شوې، چې له پاینی یا اوړدې مسرې سره ۱۳ سره ټول ټال شي. دا مصرۍ ښځه نوړې ته اړونده ده چې ۲۵ څپې کېږي او دا لرغون دود دی.

▲ خاونده بیا دې پسرلی که
له تشه ډاګه د لونګه بوی راځینه

▲ د پلار مې حک راباندې نه شته
یو وار ګېډۍ کړم بیا یې اور ته و نیومه

▲ ملا دا خپل سبرلی مې راکه
دا ستا په ګوړو لیلا خوله نه راکوینه

▲ زړه مې سوندک دی د پولادو
د جانان مینه خزاني زه به یې ساتمه

▲ خدایه کوچې په کوچ روان کې
چې ښایسته بدرنګې ګډې وډې ځینه

▲ زما ځواني دې عبث تېر کړه
لکه اخور له ګولو ډک غوایي یې خورینه

▲ زړګی مې ډک دی له ارمانه
لکه کمکی کندو چې ډک شي له بارنه

▲ مصرۍ مې ډېرې و ویلې
زیاتې چې وایم د زړه غم مې ډېره وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د الکه موري جنتۍ شي
الک دي جوړ که د لونګو بوی يې ځينه

▲ ما درته ويلي پيغله و که
پيغله ګڼی دی بند په بند مزه کوينه

▲ ستوري اسمان ته غيږه ورکړي
زما بې اکله (عقله) اشنا غيږ نه راکوينه

▲ زړګی مې ستا خبرې غواړي
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه

▲ توره را واخله سر مې پرې که
د جدايي خبرې مه کوه مينه

▲ زړګيه!؛ تا چې پر مخ څپېړه راکړه
په ژړا ډکې سترګې چا ته واړومه

▲ ما ته کاغذ او کلم راوړئ
يوه څو مصرۍ په وينو سرې يار ته لېږمه

▲ مشواتې وچ او کلم خلاص شو
کلم مې اوښکې توي وې پرې سترې شومه

▲ اسمانه کړنګ وهه رالوېږه
پر ما کيامت (قيامت) دی چې پر ټولو کيامت شينه

▲ زړه مې ستا له لوري تور شو
لکه د ژمي دود چې تور کې ديوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اسمان په ستورو ښایسته دی
لکه کمکۍ جلۍ چې و وهي خالونه

▲ ما په تدبیر کې عمر تېر که
تکدیر(تقدیر) را وران که د تدبیر بسته بارونه

▲ پر لویو غرو د خدای نظر وي
پر سر یې واورې ترې چارپېر دي ژېړ ګلونه

▲ پسرلی شو ونې شنې شوې
زما د زړه ونې ږلۍ وهلې دینه

▲ په سترګو وړوند شې راته ګوره
په چالکجه اوربل مې ایښې دي ګولونه

▲ په سترګو ړوند په غوږو کوڼ شې
په ژبه ګونګ شې چې و نه وایې حالونه

▲ سلام، سلام سپینې سپوږمۍ
پیغام مې یوسه د همزولو تر کړدۍ یه

▲ سهر سبا دی باد لګېږي
راباندې واچوه لنګۍ دواړه لاسونه

▲ د سپینې خولې تن راته کېږده
چې د چړو په څوکو لار وي در به شمه

▲ الکه خدای که به خوله در کم
په سر دې نه شته د مصرۍ تورې وارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ چې خدای قاضي شي ميزان راشي
ستا د جفا تفسير به الته غوړومه

▲ مصرۍ دې ډېرې ښو يې وايم
چې ښو يې وايم د زړه غم رازياته وينه

▲ د تورو جنګ وای ما به کړی
د نصيب جنګ دی ورختا ولاړيمه

▲ ټوټې، ټوټې په توره راشي
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

▲ تور به رنجک سور شي په وينو
سالم په تن بې ننګه را مه شي مينه

▲ توري به نه کړي نو به څه کړي
چې سپين مړوند يې زه د سر لاندې کومه

▲ په تور ټوپک وېشتلی راشي
د بې ننګۍ احوال دې را مه شه مينه

▲ په وينو رنګ توره دې راکه
راشه په سرو شونډو يې زه در پاکه کمه

▲ تورې به نه کړو نو به څه کړو
چې مو شيدې د پښتنې رودلې وينه

▲ جانان مې سر په وطن کېښود
په تارو زلفو بې کفن ورته ګنډمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ولې دلګير ولاړ يې ياره
خدای به اسان کړي د دنيا مشکل کارونه

▲ زما او ستا به روغه نه شي
لالی يه! ته يې خام تما زه کبرجنه

▲ که واورې پرېوتې په غرونه
نامراده ياره د هوسې په دود را درومه

▲ ورشه له بلخه! دنيا راوړه
په کورنۍ دنيا مې پلار نه درکوينه

▲ يوه خو دې بن راباندې و کړه
بل راته وايې چې ورا ته سره ځونه

▲ پر ما د بنې بنتوب تېر دی
زه د دوزخ د لمبو څه پروا لرمه

▲ ټپه تياره ده نه دې وينم
په چارکنجه کېږده دې اوربل مشالونه

▲ د بېلتانه مې ځان شاګرد که
ما ترې شروع لا کړي نه وه اک (عاق) يې کړمه

▲ خال به د يار د وينو کېږدم
چې شينکي باغ کې ګول ګولاب و شرموينه

▲ جانان مې جنګ کې توره و کړه
ځکه امزولې را له کوښې سموينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ کاشکې زما د منګول باز شي
د زړه کفترې به درکړم تا به ساتمه

▲ ,, کاشکې زما د منګول باز شي
د زړه کفترې به ورکړم دا به ساتمه

▲ نن مې د زړه توتي خفه ده
يو څو لنډۍ د خپواکۍ ورته کومه

▲ نن مې د زړه توتي ټپي ده
يو څو ټپې د خپواکۍ ورته کومه

▲ نن مې د زړه مرغۍ خوښحاله
يو څو ټيکۍ ناوې ملګرې ته کومه،،

▲ نن مې د زړه توتي خفه ده
يو څو مصرۍ د ازادۍ ورته کومه

▲ پښتنو خدای ته سر، سر تور کئ
چې خپل قوم د ننګيالو ملګرې کړينه

▲ ترپ له ميدانه احتياط نه دی
په بدنامۍ کې سپي موزيان په تبه مرينه

▲ پر سپين ميدان به درسره يم
زه پښتنه له تورې نه ترپم مينه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۵۱ څخه تر ۱۵۸ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اسمان په څه کودرت ولاړ دی
کدیمه! خدایه نه یې ستن شته نه یې تیرونه

▲ که ته پر سپینه خوله مړ نه شوې
سوګند په خدای دی بې ننګۍ ته دې ساتینه

▲ اس پښتو زور را باندې و که
د کمیسه مخ مې پر ځای استر یې ځینه

▲ آس بادرو د یارۍ ټانک دی
کتک مکر کې بی پاخه شي زېږکولونه

▲ په هوا لاړې توتکی یه
سلام مې وایه مسافرو په ټولیه

▲ ټیک په تندي پیزوان په شونډو
اوګۍ په غاړه د جلی مزه کوینه

▲ ټپه په وار راسره وایه
ما ته بې واره ټپه خوند نه راکوینه

▲ ټیکی په سرو شونډو مزه که
لکه بلبله چې چربانګ ناري و هینه

▲ ټپ خو په دواړو لاسو کیږي
اشنایي هم له دواړو خوا مزه کوینه

▲ ټول صورتونه تار په تار شو
را ټول بی نه کې د ماسلو په لوړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ټيکى سيي که بيا يي وله
چې په ټولې کې شرمنده نه شي مينه

▲ ډوډى مي و خوږه مړه شم
نه به د چا په در ولاړ يي مسافره

▲ ډېره وګړى ډېره دې غاړه
ما په کي نغاړه مسافر راغلى يمه

▲ که دې خندلي راته نه وى
غريب سړى وم خپله لار به مې وهله

▲ لنډى په لنډه، لنډه وايم
چرې زړګى دې پرې خفه نه شي مينه

▲ يار مي اپندو زه مسلمان يم
د يار له پاره درمسال جارو کومه

▲ يار مي اپندو زه مسلمان يم
اپندو رام، رام که ځه به خپل دين چلومه

▲ حسن خانه زموږ خانه
نه دې بل خان شي نه دې واخلي ماجيبونه،،
( د ليکوال پيژند ځرګند نه دى لرغونى په ليکانى بنه دى، ۱۳۱۲ ليږدى، ځاى، ځاى له ۱ ځخه تر ۶۵ چوپړى)

▲ ،، که په ميوند کي شهيد نه شوې
زما لاليه بې ننګى ته دې ساتينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ سپوږميه منځ د اسمان راغله
بې ياره خوب نه شته که ما له نه را ځينه

▲ جانان په ځين کې راته کوږ شو
د جستو څوکې لګوم خوله ور کومه

▲ ما ته ځولی ګولونه راوړه
زه د اور بل د پاسه چتر جوړومه

▲ پر لويو غرو د خدای نظر دی
پر سر يې واورې وروې پای يې ګولونه

▲ کلم په لاس ګوتې مې رېږدي
د عاشکی (عاشقی) مصری په زړه وهلې يمه،،
( عبدالروف ، ۱۳۳۷ لیږدی، ځای، ځای له ۳۵، ۵۸، ۱۴۲، ۶، ۱ چوپړی)

▲ ،، سينه مې تخت بالښت مې زلفې
که بې پروا اشنا پرې سر ولګوينه،،
( سيداګل، ۱۳۸۵ لیږدی، ۱۱۸چوپړی)

▲ ،، ته دې له خپل مېرمن وېرېږه
خلک پردو په سې کلا ته واوختنه،،
( صفي الله، ۱۴۰۳ لیږدی، ۱۱۸چوپړی)

▲ الله!؛ پر مخ دې داسې پرهار کېږدم
چې مور دې وېر کړ پلار دې ږېره و شکوينه

▲ ،، په دېوال غلې، غلې راغله
په بلی کېناسته ګيلې راته کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که له دولت مجبوره نه وی
مابه مې يار د سرو په تول اخستی ونه

▲ مسافري په بې غمي که
اصيل زاده يم په نامه دې ناسته يمه

▲ مادزيګر هر بوټی تازه شي
زه لکه تريخ هر مادزيګر کې بد کې يمه

▲ پاس په سينه مې غلی سمله
تابه په تورو غرو کې کړي يې شبګيرونه

▲ که ته مې روغ لېونی نه کړې
بيا مې د بنګو پيالې مه بوله مينه،،

د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي منور او سيد محمد اوستاد سره په ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ يه‌کربانه!؛ هوښيار هغه چې پردي خپل کې
کم عقل خپل پردي کوي ژړا راځينه

▲ فکر کوم سودا کې ډوب يمه
چې مې ديدن اشنا په کوم ځای کې کوينه،،

د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي منور اوستاد په ټنګټکور کې ويلې دي.

زه به تمه د وفا و کرم له چانه
وفادار چې مې کڼلو لاړه مانه
يواځيتوب مې شوله برخه دې دنيا کې
چې زه پاتې شوم په دې پاتې کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د شپې د يار غېږ کې ويده شوم
سبا مې بيا د يار غمونه پاسوينه

▲ په تصور مې ځان باچا که
چې سر مې جګ کړه د دوهى ملنګه ومه

▲ دا سيد باچا ميدان کې نه شته
زړه مې خپه دى ميدان خوند نه راکوينه

▲ ميرويسه! ولې ورختا يې
چې شپه پخه شي راپيدا به شي مينه

▲ سيد باچا تا زړى ورکړئ
ميرويس لګيادى په ټپو دې يادوينه

▲ ميرويسه! همدغه دې مطلب و
په دې ميدان کې نور ځوانان هم شته مينه

▲ جانانه زړى مې دربانديې
زموږه کډه ستاسو کلي ته راځينه

▲ جانانه زړى مې دربانديې
پلار مې رضا شو اوس مې تا ته درکوينه

▲ تول صورتونه تار په تار شو
را تول بى نه کې د ماسلو په لوړونه

▲ چندان مين دربانديې نه ومه
کړه وکړه په لاره تلې مين دې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ريباره خدای دې سزا در کړي
لېږلی ما وې کار د ځان ته و وېستنه

▲ ريبار ورکوټی و اوس لوی شو
اوس چې د يار خوا ته ورځي شکمن پرې يمه

▲ په کباړي کې يې دوکان دی
دغه کېښت د يار محمد مزه کوينه

▲ په کباړي کې يې دوکان دی
چې مونږه ور شو زموږ ډېر عزت کوينه

▲ زړه مې کابل دی نه ورانيږي
يار مې دوکې دی په توپو يې ورانوينه

▲ خدايم د کابله پسې تېر کړه
چې ببر ته راشې ياره نه دې يادومه

▲ کارونه! وران بچي يې مړه شه
چې په عاشک د لېوني ګومان کوينه

▲ کور يې د مرګ په تبه وران کړې
چې په دوستۍ کې ځنې تېرې ټکوينه

▲ په خدای سپک کړي نه درنيږي
که د کاپ غرونو په څادر کې و تړينه

▲ سړی په رنګ نه سړی کيږي
سړی هغه دی چې يې خوی د سړي وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مار کړه په ټېټه تار اوچت که
لايک (لايق) دې نه يم پاک الله درکړې يمه

▲ افسوز، افسوز ارمان، ارمان دی
دامې ارمان دی چې اشنا به چېرته وينه

▲ خالونه يې تول د مخ خالونه
د زنې خال يې مرور په خوله کوينه

▲ که د جمعې په شپه رانغلې
که ته ژوندی يې زه دې په مړو حسابه ومه

▲ چې مسافر په کانو ولې
جلۍ لمن به دې خدای نه زرغونه وينه

▲ د مسافرو د رب مل شي
باران به اوري ځوک به ځای نه ورکوي

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې ځای جارو کې په کې واخلې کدمونه

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
شونډې دې پو کې په بلا دې و وهمه

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
ما به لاهو کې په نوښار به و خيږمه

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
خوږې خبرې دې مزه کئ په تالوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي سيد محمد اوستاد د دې لنډۍ اوږده مسره ( ۱۳ څپېزه يا پاينۍ مسره) غلته ويلې ده، ديارلسمه څپه باندې ترنګټوک ناسم راوستی دی، ربښتني پښېله ( حکمي کافيه يا نرۍ واله يا عالميه قافيه) د دې پېيلو په کې نه شته، په هې (ـه) ابېڅې اړېينه بايد بشپړه شوې وی، د لنډۍ ويلو خوند يې په خوږ غږۍ کې پيکه او اکپکېدونکی کړی دی. چې دا ترټولو ستره غلتي ده؛ هېڅ سندرغاړی يې ناسم و نه وايي او د هې ابېڅې او ترنګټوک غوندې په ځوږ يا په لوړ په کې و ساتي دا د ټاټوبي د ميلي پېيلو ربښت (قانون) دی.

د همدې له پاره ميرويس شوکي (شوقي) شينواري ورته ګړندی وايي او پوی وي يې چې غلتي دې و کړه؛ سمې يې وايه، سندرغاړي خو ډېر ژر د سترګو په اشارو، د مخ له رنګ او د پېيلې له مانا ژر پوهېږي، د دې ناستو او پېيلو د چارپېريال ډېرې سرې تودې لرې، دوی دې چې په دې دوديزو پېيلو وګړي ژر پوی وي او انګېزې په کې ښاندي.

يو سندرغاړی خپل ځواب هېڅ نه پرېږدي، ژر او ګړندی ځواب ور ته په بله وګړنې پېيله کې وايي. که د دوی په ګډه ټنګټکور ته پام و کړئ چې سندرې په کې وايي دا اړېنه درته روښانه کېږي. د دې غلتې لنډۍ کره او روغه بڼه په دې ډول ده، اړينه ده چې داسې يې ويلې وی (وای).

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
خوږې خبرې دې مزه کړئ په تالوکه

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
پاس په تالو کې دې خندا مزه کوينه

▲ خندا د سر په بدله دی
چې سر پرې ورکړم باکي (باقي) دار به څومره شمه

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې ځای جارو کې په کې واخلې کدمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې دا درغلی ستا هر وخت کې شونډې بوکه

يادونه: د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي سيد محمد اوستاد د پورتنۍ لنډۍ په بڼه چې مې يادونه ورځخه و ګړه دا هم غلته و يلې، ناسمه يې لوستې، ترګنګټوک په کې شتون نه لري.
په لاندې بڼه يې روغه بڼه ده چې و يلې يې وی نور دې په راتلونکي پېر کې هېڅ يوه تن د ټاټوبي ميلي پيبلې ( لنډۍ، ټپه، ټيکی او مصرۍ) پرته له هې (ابېڅې) لړ (رديف) ښخه نه وايي. دا لاندې يې کره او روغه بڼه ده.

▲ د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې دا درغلی ستا هر وخت کې شونده بوکه

▲ مسرې سيي کړه بيا يې و له
چې په ميدان کې خجالت نه شې مينه

▲ څه د کوران (قران) ټکي خو نه دي
داسې الک په اکو بکو تېرومه

▲ که د کوران (قران) ټکي دا نه دي
لوټ دې اخستی بنه مجلس کوه مينه

▲ دغه مجلس ته خدای راوستی
ميرويسه! وروره ملا دې و تړه مينه

▲ که ته بلد زه نابلده
دا جوړه مار مې دلته نه شته دی مينه

▲ د جوړه مار ارمان د مه کړه
که دا ته وايې زه به سم درته ويمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په انګرېزۍ کې به شروع شم
ته يې سپين ږېرى چې خفه نه شې مينه

▲ ګوره دا د ملک د پښتونو دى
ته ما انګرېزه نه يې راسوتى نه يې مينه

▲ پښتو بدله په اينګلېش شوه
کمپوټري ده پښتو نه خوښې مينه

▲ د خلکو نه خوښ يې جانانه
مورږ هغه حساب کې نه حسابونه

▲ (هوواريو وېلکم) په خير راغلې
فرهاده تا ته هرکلي وايو مينه

▲ زه ما ارمان ختلى نه دى
لاسونه جيګ کړه غېږ ته بيا راشه مينه

▲ د ملکنډ د سر توتي وى
په زړه مې نه وى د خوارږه جانان غمونه

▲ غم به دې هله درمعلوم شي
چې خداى دې زما غوندې محتاج د بل چا کې نه

▲ د ملکنډ د سر توتي وى
را سره نه وى د خوارږه جانان غمونه

▲ په مسافرو مې زړه بد دى
اوس مې کيسه د بنګالي مسافر شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ زه تر هغې ورته ولاړ وم
د جانان سپين مخ يې کبلي (قبلې) ته واړونه،،

د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي ميرويس شوکي (شوقي) شينواري او سيد محمد اوستاد سره په ګډه په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ,, وه!؛ ما ته دې خپل جانان را ياد که؛ وای!
وه!؛ دومره پرېشانې زلفې مه ګرځه مينه

▲ وه!؛ فرياد له خوږو زړنو خيږي؛ وای!
وه!؛ چې زړه يې روغ وي هغه به څه فرياد کوينه

▲ وه!؛ ملاتړلی يار مې مړ دی؛ وای
ملاتړلې شړی و کڅم و ژاړمه

▲ چې کله، کله مې راياد شي؛ اوو!
لکه يتيم د دېوال خواته و ژاړمه

▲ او!؛ ستا به زړه مينه يادېږي؛ نو
د ظالمانو لاسه کور کې ناسته يمه

▲ يه!؛ خلک په پېغلو مينېږي
يار په زړې باندې مين دی مړ به شينه

▲ او!؛ ځان دې زړو جامو کې جوړ که
لکه په وران کلي کې باغ د ګولو وينه

▲ يه!؛ اول به موږ کره راتللې
اوس په څادر مخ پټوې چې پېغله شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ او!؛ په کوژدړني مين مه شي
ته به ولاړ وې هغه به بل ډولۍ کې وړينه

▲ وه!؛ کشری د ستا مشری زما شوه
په منځني افسر به ښه لی واچونه

▲ او!؛ که يوه خوله دې ما ته را کړه
زړه به مې ښه شي خوله به بيا در کړم مينه

مرې، مرې اوښکي څڅومه په ګرېوان کې
پاکي پنډې تېرومه په ميران کې
د خمارو سترګو هسې ګناکار شوم
د زړه غم په وينو رنګې زه بيمار شوم

▲ زه بې له تانه وطن څه کړمه؛ وه!
که بوټي لونګ کاني ټوله له زرو شينه

▲ اول به کله، کله غم وه
اوس مې دوتر شو کروندې په کې کومه

▲ وه!؛ يار به په ټوکو مرور وي
زما به زړه ترې په رښتيا چودلی وينه

تيراواله ماما څه چې څو ګرمي ده
پټکی را واخله بيا زمونږ کلي ته څونه

▲ ما ويل چې زه به يار ته ژاړم
يار له بازاره سترګې سرې راوړې دينه

▲ ځان دې زړو جامو کې جوړ که
لکه غريب پټکي کې ګول تمبلی وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره په سر د ګولو وېش دى
نه مي جانان شته نه د ګول تمه کومه

وه!؛ ليلا په منډه، منډه راغله
په لېوني اشنا يې واچول لاسونه

وږه، وږه په توپو مړه شي
ته لا وږه يې په يار وايې سلامونه

ستا سو په کلي کې راتلم کراره شپه وه
وربځ خوره وره وه، نر، نرى باران وه

سپرلى خو بيا په تيرا راغى
د مسافرو په کې نه شته نصيبونه

دا رحيم شا په غوږ کې ياد کړم
ګيله به و کړي چې موږ ځوک نه يادوينه

په زړه کې پټ را باندې ګران يې
ځکه په خولې خبرې نه در سره کړمه

په خولې ويلى يار ته نه شم
خداى يې په خپله مهربانه که مينه

په سفر تلې در پورته نه شوم
ګيله و نه کړې زه سلګو نېولې ومه

يه!؛ کله به وم کله به نه ومه
يه!؛ زما ياري په ړنګې مه شمېره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ يه!؛ په وېخښې يوه ورځې را نغلي؛ نو
په خوب کې نخښې را کوې چې بلاربه شمه

▲ يه!؛ وېښته مې يار له غمه سپين شو
خلکو ته وايم د بچو غمخواری شومه،،

د تيرا سرغندوي سندرغاړي محمد اشرف تيراوال اوستاد په ټنګټکور کې ويلې دي.

▲ ،، نورې د هيچا او!؛ کډې نه ځي!؛ نو
دا يو پښتون دی او!؛ کډې ښکته پور ته وړينه؛ ای!

▲ او يه کربانه!؛ د پښتنو، نو!؛ مشران نه شته؛ نو
په هر سنګر او!؛ باندې ببځايه ځکه مرينه؛ ای!،،

▲ ،، روږه يو ډک سګرټې راوړه؛ نو
زه يوې شپې ته د يار غم غلتومه

▲ وه!؛ خدای به په خپله مادزيګر؛ وی!
د چينارونو سر ته مه خېږه مينه

▲ يه!؛ جانانه تېرې کانې سمې؛ نو
يوه جونګړه ستا ديدن ته جوړومه

▲ وه!؛ د دريابونو لامبوزن يم؛ اوو!
نصيب مې خوار شو د لخښتي اوبه مې وړي نه

▲ وی؛ امانتي مې ګور کې کېږدی؛ که کېږدی نو
وی!؛ که يار خبر شي ما به خپل وطن ته وړي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مخامخ مه راته دریږۍ! اوو!
زما د زړه ستني کړې در په سي شینه

▲ وی!؛ جانانه زیړی مې دربانديږ؛ ای!
وی!؛ پلار مې رضا شو اوس مې تاته درکوینه

▲ وه!؛ د یار په کلي کې مې شپه وه! اوو!
زما پوښتنه یې په درپیمه میاشت کونه

▲ ای!؛ اوربل مې مخ باندې را پرېږدی !اوو!
او!؛ لکه شپونکی چې رمه غره ته و شړینه

▲ وه!؛ اول مې فکر درته نه وه؛
اوس مې د زړه ستني کړې در په سي شینه

▲ ای!؛ زما په سترګو ورته ګورئ! وه!
او؛ جانان ښایسته دی او که خدای زه لېونی کړمه

▲ وو!؛ پخوا د سیدک (صدق) یارنې وې
دا اوسني خو توجارت (تجارت) په کې کوینه،،

د ننګرهار سرغندوي سندرغاړي میرویس شوکي (شوقي) شینواري او پهلون هوتخیل سره په ګډه په ټنګټکور کې د شمشاد تلویزیون په یوې سترې ناسته کې ویلې دي.

▲ خدایه! دوې مخو ښځې خرې کې
ما ور په سي کړې چې لکئ یې تاوومه

▲ څوک د وطن په نوم شهید شو
چا د و وطن په وینو جوړ کړل بېلډینګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خاوره خو مور مورې ترې پیدا یو
چې لېوني وي هم مور نه بربندوینه

▲ پرېږده چې ښي بلا و کاندي
نادان بچي دي د ښمن په لمسون دینه

▲ تور پنجابی مې خپل مېره کړم
د پښتنو په سیمه درې وار کونډه شومه

▲ ستا د غیرت پایله همدا شوه
یوه مېلیون مړي دوي مو ړنګ شو دېوالونه

▲ زمونږ د جهاد پایله روښانه
څه چې یهود مشران وایي هغه به وینه

▲ راغلی مه وی انقلابه!
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې درته کوینه

▲ سترګې مې پټې کړم خیر غواړم
که نه یې غواړم یتیمان له لوږې مرینه

▲ بې ورونو خور په کوڅه راغله
ناره یې و کړه شپه به چا کره کومه

▲ ښه ده چې اېننه یې زړګیه!
که ته بېرون وای پرتا لا ډېر دي غمونه

▲ څنګه دې خواره کړمه خدایه!
چې همسایه مې د خولګی تمه لرینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸. پایله

ګواکې داسې بویم! چې د ټاټوبي میلي پېیلې د مینې ژبه ده، د مینې په ژبه ټول ببل ژبي په ټوله نړۍ کې پري پوهېږي او په پینۍ واله بنه زموږ د پېیلو پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) کټ مټ لېږد وي، ستاسو لوستونکو او اورېدونکو پر واندونو، اندونو، ولولو اغېزه کوی شي.

د مینې په ژبه پنځې دي، ځکه موږ له ربښتیا څخه خپل برداښت په ولولې بنه انځور کړي دي. همدې ته ادبیات ( لیټریچر) هم وایي چې لوېدیځوال بیا د ټولو له چاپه راوتو اثارو مجموعې ته وایي. که ادب پوهې، زیرکۍ، ښه سلوکو کړه وړه (اخلاقي تهذیب) او لوړوالي (فضیلت) ته ویل کیږي.

او په اصل کې ادب هغه پوهه او روزنه ورکول (ریاضت، استعمال، عادت او رواج، مشق؛ کارکول، مشق، کول، پرله پسې عملي کول، د پېښې په توګه یو کار کول، تربیه کول) دي، چې انسان ته لوړوالی ورپه برخه کوي، په خپلو کړو وړو کې یې له سهوې او ښویېدنې څخه ژغوري. داسې وګڼۍ چې و تاته مې و وې! ځکه چې هر پښتون باندې د خپلې ژبې ادبیات لازمي او اړین دي، که هغه په هر علمي مسلک کې وي، له دې پرته مو ژبه بدایه او ځواکمنه کېدل نا شونې دي.

د ټاټوبي میلي پېیلې هر یوه یې یو بشپړ ربښت ( قانون) دی او پښتون پښت به د ویښتیا او پرمختیا لور ته بیایي، هغه کسانو چې د دې ټولنې وګړو سره جفا کوله هغو ته مې نغوته کړې او د نیوکې لاندې مې په یوه نه یوه بڼه نیولي دي.

دا زما ښه بخت هم نه دی، چې تر اوسه پورې مې پښتون پښت له کتابه سره اشنا شوي نه دي، بل دا زما لیکی داسې دي چې د لوستونکو سویه، مزاج، او مېلان رسېدلی نه شي. او د خپل پښت ډېری زده کړیالان د پردۍیو ژبو پېیلنو او پېلنې (شاعرانو او شاعراني) پېیلې (شعرونو) کې خپل مزاج ویني،

لکه د ابوعبدالله جعفر بن محمد رودکی، ابومنصور دقیقی، ابوالقاسم فردوسی طوسی، ابوالمجد مجدود بن آدم سنایی غزنوی، فریدالدین ابوحامد محمد عطار نیشابوری، جلال الدین محمد بلخی یا مولوی یا رومی، ابومحمد مصلح بن عبدالله شیرازی سعدی، نظامی ګنجوی، ابوالفتح عمر بن ابراهیم خیام، خواجه شمس الدین محمد حافظ شیرازی؛ میر، غالب، انیس، اقبال، جوش، یګانه، فراق، فیض، راشد، میراجی، عزیز حامد مدنی، ناصر کاظمي، مجید امجد، امرؤ القي، النابغة، زهیر، طرفة بن العبد، لبید، عنترة، عمرو بن کلثوم، الحارث بن حلزة، الأعشی، عبید بن الأبرص؛ A. C. Пушкин, Л. Н. Толстой, М. Горький, А. П. Чехов ,А. Н. Толстой , Н. В. Гоголь , И. С. Тургенев М. Ю. Лермонтов , Ф. М. Достоевский , А. И. Куприн,Н. А. Некрасов, И. А. Бунин

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ټاټوبي میلي پېیلي ۱۳۶ چوپړی

William Shakespeare, John Milton, Samuel Taylor Coleridge, William Wordsworth, Lord Byron, Percy Bysshe Shelley, John Keats, Emily Dickinson, Robert Frost, T.S. نورو....

پردۍ ژبو یا فارسي ژبو کښلي (لیکي یا کتابونه) لوسته ( مطالعه) کوي یا یې پېیلي له یادو یادوي (شعرونه حفظوي). چې شروع درته و کړي ته به وایې نېمچه فارسیوانان یا پنجابیان، عربان، روسیان یا انګلېسان دي.
زما د پښتون پښت نوی نسل او د ادب مینوال په همدومره پوی شي، چې زموږ میرڅمن موږ ته په درنده سترګه نه ګوري، بد مو یاده وي، ټېټ او وروسته پاتې مو بولي، په درناوي مو نه یادوي، نو د هغو میرڅمنو خبره په هره بڼه چې وي، مه منئ!؟ چې خپل یو ژبی ( له خپل پښته مو، ورته څهره، یو شان ونه، خوی، دود او په کومه بڼه مو چې زموږ مور ډوډۍ پخوي او په ځتری لمونځ کوي په همغه بڼه مو بل پښتون یو ژبی یا بل پښتون وروړ هم په ورته کړنه کړ وي). خپل پښتون پښت باید په هېڅ صورت و نه وژنو، موږ داسې ټبر وو چې اسکندر مقدونې مو مات کړی وه، ۳۴۰ کاله وړاندې له میلاد څخه په کنړ اسمار دره کې؛ اسکندر ژور زخمونه خوړلي وو، اسلام دین مو د اسیا په لویه وچه کې رسولی دی او له هیندیانو څخه مو عربان مسلمانان ژغورلي.
همدا زموږ لوی پښتون پښت و چې اوس ټول لر او بر ۷۰ میلونو ته رسیږي، هم دا یو پښت و چې انګریزان مو درې وارې مات کړه، د نړۍ له باچاهۍ مو را وغور ځول، همدو انګریزانو موږ په منځ کې یو خط کش کړ، ترسو چې دا پښتون پښت چې ۷۰ میلونه کېږي نېمګړی، ناتوانه کړي او د نورو لاس ته یې محتاجه کړي.
موږ په رښت کې که سره یو شو او ټول پښتون پښت سره یو شي نو ۷۰ میلونه په ټوله نړۍ کې یو زورور او بډایه ځواک کېدلی شي او د خپل پښت هر وګړی به مو بډایه شي، هر څه به مو خپل وي بیا به افغانستان لوی کور وي، خپل کوشني بېل شوي کورونه به له خپل لوی کور سره یوځای وي. لکه د پلرونو ۷۰۰۰ کلن پیخلیک چې د پینۍ داسې پښت و چې ښارونه یې ودان کړي وو، عصري ژوند یې وګړو ته تیار کړی وو، دښمنانو ته یې زورورې ماتې؛ د پنده ډک درسونه ورکول، که لر له بر سره ګډ شو، په لر به د لر همغه سرغندوي پښتانه، خان عبدالغفار خان او خان صمد خان کهول واکمن وي، ټولو پښتنو ته به بېشمېره ښېګڼې رسوي، له دوې مخې به بیا لري وي، په ښکاره به لوی کور وي د افغانانو.
د ټاټوبي میلي پېیلو کې همداسې ازانګې شتون لري چې بری یې ترلاسه کولی شئ په زیار سره، هندسي بڼه د هرې بڼې پېیلې د مانا له لوري حرم ته ورته دي، چې یو ټکی یا هېڅ ښکارېږي چې هر څومره یې ببخ لوري ځئ نو ببخ (قایده) یې غټېږي او درندېږي! دا چې د پښتو ادبیاتو له مخې د پښتون پښت هر سیمه په ځانګړي بڼه پېیلې کې ځانګړی سرغندوی (مشهور) نوم لري. لکه لمپاکا (لغمان) په لنډیو، ټپو، ټیکیو، مصریو، نیمکۍ (سروکه، پام) لنډیو، نیمکۍ (سروکه، پام) ټپو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمکی (سروکه، پام) ټيکۍيو، نيمکی (سروکه، پام) مصرۍيو، لنډۍ ايزو، ټپه ايزو، ټيکۍايزو، مصری ايزو، انکۍيو، لنډکۍيو، غبرګۍيو، پټۍيو کې او کابل په غزلو کې، غزني د اټن نارو کې، سويل کندهار په نکلونو کې، پېښور په پېړان ( نظم) کې، پکتيا په کاکړۍيو کې او ننګرهار په چاربېتو کې، بلخ په بدلو کې.
نو په خپله يوې لنډۍ چې د ټاټوبي ميلي پېيلي برخه ده په لاندې بڼه وايم:

▲ سترګې رپ رپې دي لېزرې
ليدل يې ګوره د زړه سپينې تختوينه

زما په دې پورتنۍ لنډۍ کې ټينګاره تشبې (موکده تشبې) شتون لري. ټينګاره تشبې (موکده تشبې يا موکده تشبه يا ټينګه، جدي، سختګيره، درست، سمه، پرځای، دقيقه تشبې): چې د تشبې ټکی (تشبه ټکی) ور نه غورځول (حذف) شوی وي، يا په کې شتون و نه لري ټينګاره تشبې ګڼل کيږي.
په دا پورتنۍ لنډۍ چې سړو ته منسوبه ده، په پيلنۍ مسره کې سترګې له لېزرې سره تشبه کړې ده چې سترګې مشبه، لېزرې يې مشبه به دي؛ د تشبې توري نه لري؛ رپ رپې ( رپول، رپول) يې د تشبې وجه ده؛ په پاينۍ مسره کې سترګو ليدل د زړه سپينې سره تشبه کړې ده چې ليدل مشبه، سپينې يې مشبه به دي؛ د تشبې توري نه لري؛ له سترګو يې تر زړه پورې واټن يا چې د لېوالتيا حس لېږدوي او اثر يې رنګ پيرک وړي، نظر يا ګورا يې د تشبې وجه ده؛ ټينګاره تشبې (موکده تشبې) يې ځکه بولم چې د تشبې ټکی (تشبه ټکی) ور نه غورځول شوی يا په کې شتون نه لري.
پورتنۍ لنډۍ مې د منځپانګې، سکالو، محتوا، موضوع يا مسلې له مخې لاندې ډول لري، له اليده بسپنې ورکولو سره. بداينې، غنايي يا بزمي لنډۍ ( Great, Important, Dignified, Supreme, Erotic, Amatory, Stimulating Landay) ده: غنا په لغت کې سرود، نغمې او ښکلي آواز ته وايي. او په ادبي اصطلاح هغه لنډۍ دي چې د شاعر د احساساتو، عواطفو بيانونکې او ځرګندوی وي. دغه احساسات خامخا د انساني مينې (محبت)، مينه ناك، له مينې ډك، لېوالتيايي (عشقي)، پارونې، رنځونو او کړاوونو څخه متأثر يا اغېزمن شوي وي.
سکالو يې پر بزم او يا د يادويګا (۲۳٤مخ) په خبره پر مينه يا لېوالتيا راڅرخي.
بداينې، غنايي يا بزمي لنډۍ ده.

**په درناوي او رټ سپڅلي پښتونولي**
ماستر اينجينير صفي الله فردوس
د وټساپ نرمکالي اړيکه: ۰۰۹۳۷۸۶۹۰٤۷۹۹+
بربېښناليک: Safiullah_firdows@yahoo.com
Safiullah.janan@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. ژبپانګه ( وييزپرمه: د کره ليکنې پښتو په پښتو تشريحي وييکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سته په لاندې لښتيليک کې کښل شوي)

**بېلګې:-**

| | |
|---|---|
| **وی د ابېڅې په سته** | **مانا، د چوپړي ګڼه له ټکی لرونکې کامې او ټکي نه ورسته په شمېر باندې ښودل شوي.** |

**۱. اې (ا، الف)**

| | |
|---|---|
| ابا: | پلار، د مور خاوند، د مور څښتن، د مور ساتونکی، د مور ميړه، والد.؛. ۲۱، ۳۱ او ۱۴۰چوپړي کې (مخ پاڼه کې ، مخ کې ، مخ صفحه کې، مخګڼه کې) شتون لري.؛ . ۱۵۸ |
| ابليــس | شيطان ؛. ۴۳ او ۸۸ |
| ابېڅه: | يوه توری، يوه حروف، ښځېنه لړ نوم دی يا مفرده ښځېنه وی ده. لکه:. ا (اې)، ب (بې)، ت (تې). ؛. ۱۹، ۲۰، ۳۳، ۳۵، ۱۷۱، ۱۷۲، ۱۸۰ او ۲۱۰ |
| ابېڅې: | ډېر نوم د تورو دی ښځېنه وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې. لکه:. زمونږ د پښتو ژبې ۴۹ ابېڅې: الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و (اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (بېواک واو)، ه، زورواله هې(ه يا ــه)، زورکی هې(ه يا ــه)، ی، ې، ي، ی، ې، ئ ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق دوديز: ا؛ غږېز(فونوميک): a؛ نوم: اې (اه، زور)؛ بېلګه: اره، اړ؛ غږېزليک ará, aṛ. ؛. ۳، ۶، ۱۰، ۲۳، ۲۸، ... . او ۲۰۷ چوپړو کې شتون لري ( او ۳۱ وارې نور په بېلا بېلو چوپړو کې راغلی دی). |
| ابېڅی: | يوه توری، يوه حروف، نر لړ نوم دی يا مفرده نر ويکی دی. ا (اې)، ب (بې) ت (تې). ؛ ۱۱، ۲۴، ۱۰۵، ۱۲۶، ۱۷۵، ۷۶ او ۱۸۵ چوپړو کې راغلی دی. |
| ابېڅي | ډېر نوم د تورو دی نر وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې. لکه:. زمونږ د پښتو ژبې ٤۹ ابېڅې: الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و (اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (ښوداک واو)، ه، زوروالـه هې(ه يا ــه)، زورکی هې(ه يا ــه)، ې، ي، ی، ۍ، ئ ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق ). ؛ ۱۷۶

اټکل: نظر. ؛. ۱۳۹

اچيان: د غوايانو هغه جوړې ته وايي چې کروندګر پرې کرونده کولبه کوي. له کده واړه وي او وطني يا لغماني يې هم بولي، ځانګړتيا يې: په بېړه کار کوي او زر ستړي کېږي، د پېرېدلو بيبه يې ارزانه ده او د لاسته راتللو ګڼه يې زياته ده. دوبيمه بېلګه يې انکيان نومېږي. له کده لوړ وي او زراعتي يا کونړي يې هم بولي، ځانګړتيا يې: ورو کار کوي په ډېر طاقت سره او زر نه ستړي کېږي، د پېرېدلو بيبه يې ګرانه ده او د لاسته راتللو ګڼه يې کمه ده. دربيمه بېلګه يې چپيان نومېږي. چې چپه ښکرونه لري او کم پيدا کېږي. ؛ ۱۳۹

احمد خان: ۱. د پښتنومير، باچا ابدالي، دورانی، احمد شاه بابا. ۲. احمد خان زما د نيکه نوم دی چې د لغمان شيخ د محمد ظاهر شاه د پېر د تالبانو لوی مشر د شهيد حبيب الرحمن اوستاد. ۳. احمد خان د احمد خان نيکه ملګری مې د لغمان سرغنوی پېبيلن شيخ ؛ ۱۳۹

اخته: مشغول. ؛. ۵۵، ۱۶۴، ۱۷۲ او ۱۷۳

ادم ذات: بشر، انسان، ژوی د حضرت ادم (ع) اولاده، اشرف المخلق، بني ادم. ؛. ۱۳۹

ارو: راګ دی: سا دي دي ګا دي ما نا دي په دي ګا ما پا ني سا. ؛.۱۳۹

اړک په اړک: بغل په بغل، طرف په طرف، تاو را تاو. ؛. ۱۳۹

اړم: د پښتو ژبې سرغندوي ليکوال شاعر محمد اسمعيل اړم پيتار منځنی نوم دی. ؛. ۱۳۹

اړمه: تکيه، پايه، ډډه. ؛. ۱۳۹

اړنګلاندې: اړنګمن، مشکوک، د اشتباه لاندې، اړنګ برنګ، شک او ترديد. ؛. ۱۳۹

اړيکه: رابطه. ؛. ۱۷، ۳۸، ۴۲ او ۱۳۷ (ټول ټال ۱۰ وارې نور)

ازاريان: د ازار جمع ده، خلکو ته مصيبت ورکونکی. ؛. ۱۳۹

ازانګې: انګ. ؛. ۱۳۶

اسارت: غلامي. ؛. ۱۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنا: ملګری، دوست، انډیوال. ۶. ۲۷، ۲۹، ۳۷ او ۲۰۷ (ټول ټال ۳۶ واري نور)
ازرده: ډېرزیان رسونکی. ۶. ۱۴۰
اغېزښندني: اثرلرونکي، یکړ یي اغېزښندنه کېږي. ۶. ۵
اکتدار (اقتدار): دوران. ۶. ۱۲، ۳۱ او ۵۳
اکلیاټوریس: مندکه، خسته. ۶. ۱۴۰
اکېډمي: دارالتعلیم، اکاډیمي، د تعلیم جونګړه، د زده کړې کور، اکاډمي، هغه ځای چې الته د افلاطون د مدرسې پیروي او نظري زده کړې ورکول کېږي. ۶. ۱۴۰
اکۍ: کاکۍ. ۶. ۲۵ او ۸۹
اېلا: خوشې، روان. ۶. ۱۴۰
الګ: بېل، جلا، جدا، الیده. ۶. ۱۴۰
الواک: نظر، تیوري. ۶. ۵
الماسک: تالنده، په اسمان کې د لیکې په بڼه برېښنا ده. ۶. ۱۴۰
امرو: راګ دی: سا نا دي پا ما ري ګا دي ني سا ني سا ري ګا دې سا. ۶. ۱۴۰
انا: نیا، ادکۍ، د پلار مور، د نیکه مندینه، د نیکه ارتېنه، د نیکه مینا، د نیکه میرمن، د اکا ښځه، د بابا کور ودانه. ۶. ۹، ۱۴، ۱۵ او ۱۸
اندکي: کوشنی فکر، یا کوشنی پام. ۶. ۱۴۰
انکړ: اکر، حالت او وضع ( بد انکړ) ۶. ۱۴۰
انګار: سکروټه. ۶. ۲۰ او ۵۵
انګاره: سکروټه. ۶. ۱۴۰
اننګوړې: انارک. ۶. ۱۴۰
اوتې بوتې: بې هوده خبرې، چټي او بې باکه خبرې. ۶. ۱۴۰
اوب: اوبدل یا ( بافت). ۶. ۱۴۰
اورپکي: جګړه مار، جنګ اچونکي، وسله وال، د کلاشینکوف ریشته داران. ۶. ۱۴۰
اورغونکی: وزګوړی، د اوزې بچی. ۶. ۱۴۱
اوږدپېری: اوږد پړاوی. ۶. ۱۷
اوږدمنګی: اوږد عمری. ۶. ۱۷
اونیزه: هفته وار. ۶. ۱۴۱
اېنجینېر: یوه فرانسوي وی ده. هغه څوک چې طبیعت په خبرو راولي، د طبیعت ژبه ده چې زي روح شیان په خبرو راولي، برداښت، طاقت، ظرفیت، څرګند والي او ځانګړنې یې معلوموي. او په اصطلاح کې هغه متخصص

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وايي چې د يو شي په باره کې په زهن کې پلان جوړوي او بيا يې د خطونو په واسطې سره کښني يا ترسيم او تياره وي. ؛. ۲، ۳، ۱۷ او ۲۲۱، ټول ۲۱ وارې راغلی دی.

ایینـه: اېنداره، هنداره. ؛. ۱۴

ایستی: وېستلی. ؛. ۱۴۱

ایډال ویس: دولسپانی، ټیکګولی، ټیکوی، يو ګل دی چې ستوري ته ورته بڼه لري، په رنګ سپين دی او داسې غرو يا د ځينګوړا د پرښو په درزونو کې شنه کېږي، دا ګل د سيويس هېواد ملي ګل دی چې وګړي سکي لوبه کوي او په ډېره مېړانه سره لاس ته راوړي چې پيداکول يې ګران کار دی، د دې راوړل د زړه ورتيا نښه ده، دا ګل يو ملګری بل ملګري ته د لاس نښې له پاره ورکوي. ؛. ۱۴۱

ایمام(امام): هغه تن چې په ټول کران کريم د الله کتاب عمل کوي او په دونيوي علومو کې لوړې زده کړې و لري. ملا هغه تن چې کوران(قران) کريم ليکی، لوستل او ويلی و وسي، پېشواء، هغه مير چې کوران کريم ليکی، لوستل او ويلی و وسي، هغه مشر تن چې کوران (قران) کريم ليکلی، لوستل او ويلی و وسي او پرې عمل کوي يا کړلېږي.؛. ۸۴

**۲. آ**

آر: اصل. ؛. ۱۶

آړوتی: شرطی. ؛. ۱۶

آس: اس، اسپ، ډېرنوم نوري يې اسپې ده. ؛. ۷۸ او ۹۳

آند: فکر، نظر، اند. ؛.۱۵، ۳۶، ۴۴ ... . ۱۳۵ ( ټول ټال ۱۰ وارې نور)

**۳. بې ( ب)**

بابل: په اېراک يا عراق هېواد کې د ښار نوم دی. ؛ ۱۴۱

بابېز: ناڅيز. ؛. ۱۴۱

ببولالې: هغه شعر ته و ويل کېږي چې په هغه کې د ناوې ښه ستاينه، يادونه او تعريف کوي. د واده په هغه وخت کې وايي چې د ناوې سينګار تمام شي نو پېغلې سر يوه دايره جوړه وي او ناوې يې په منځ کې کېښنوي او ښه ستاينه، يادونه او تعريف يې په شعر کې کوي. نوموړي شعر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببولالې وایي. پاتې شونې دې نه وي چې د پېغلو په دیرا کې هغه مېرمنې ګډون کوي چې هغه واده شوي او یا کوژده شوي وي. بې مېړوخه او انجونې نه شي کولی چې په نوموړي دایره کې ګډون و کړي. ؛. ۱۴۲

| | |
|---|---|
| بـادار: | مالک. ؛. ۱۴۲ |
| بادرنګ: | سبزي ده. ؛. ۷۹ او ۸۹ |
| باغه ګل: | د الینګار ولسولۍ کې د کلی نوم دی. د ګمبه او څخره نومي کلیو د سیند نه پورې. د توری کلا نه مخ په غره لورته په درځنۍ سیمه کې پروت دی. ؛. ۱۴۲ |
| بڅري: | زره. ؛. ۴ او ۴۲ |
| بدرنګه: | مختنته. ؛. ۱۴۲ |
| بډه: | د ماشومتوب ملګری، د کمکیوالي ملګری، وړکیتوب انډیوال. ؛. ۱۰، ۱۱، ۲۱ او ۱۸۷ |
| برخوردار: | کامیاب، بهره مند، بریالی. ؛. ۱۴۲ |
| بشپړ: | تکمیل، مکمل، پوره. ؛. ۳۳، ۷۸،... . ( ټول ټال ۴۸ وارې نور ) |
| بغبغۍ | تورزوزرې جنګي څرخي الوتکه، توره کوشنۍ څرخي تیاره، توره کوشنۍ مرغۍ (سمال بلکبرډه). ؛. ۱۴۲ |
| بلواګر: | شورشي. ؛. ۷۷ او ۲۱۱ |
| بګۍ: | ټانګه. ؛. ۱۶۴ |
| بنګۍ: | څارګره الوتکه، څارکښې بېپیلوټه الوتکه. ؛. ۱۴۲ |
| بڼ: | باغ، فردوس. ؛. ۲، ۳ او ۲۲۰ |
| بوستان: | بڼ، وچښګی، باغ، فردوس، بهشت، جنت. ؛. ۱۲۹، ۱۴۲ او ۱۸۲ |
| بوژن: | دهشت، بلواګري، ډاراچول. ؛. ۱۴۲ |
| بوږ: | راټول. ؛. ۶ |
| بوږولي: | راټول کړي، راټولولي. ؛. ۸ او ۲۱۰ |
| بوږم: | راټولوم. ؛. ۱۴۲ |
| بوږوم: | راټولوم. ؛. ۴۰ |
| بولن: | معقول، بولنې ( معقولې). ؛. ۱۴۲ |
| بولنده: | کومانده. ؛. ۱۴۲ |
| بولندویان: | کومندانان.؛. ۱۴۲ |
| بیدیا: | ټټنګ، بیابان، دښته، صحراء. ؛. ۱۶۱ |
| بیره: | تیز، ګړندی، رټ، څځبېکی. ؛. ۱۶۰ او ۱۶۵ |
| بېړنۍیو: | عاجلو. ؛. ۱۴۲ |
| بې زبانه: | حیوان، کم طاقت، عاجز. ؛. ۱۴۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: نمونه، ورته بڼه، مثال. ؛. ۴، ۹، ۱۲، ... . او ۲۰۰ (۱۱ واريٖ نور په بېلابېلو چوپړو کې راغلی دی)

بېهان: بیهي، بیی، د منو په شکل خیران ګردان پوټکی لري او زېړرنګ. ؛. ۱۴۳

**٤. پې (پ)**

پار: ساعت، وار. ؛. ۱۰۹

پاتوړی: وارث، اصلي پتساتی. ؛. ۱۴۳

پټون: کشر، وروسته پاتي. ؛. ۱۴۳

پردېس: مسافر. ؛. ۱۲۵

پرلغښتی: ټولوالهیز، سېستماتیک. ؛. ۱۴۳

پرګی: غرنی میوه ده چې قهوهیي او برګ رنګ لري، البته زړي یې خوړل کېږي. ؛. ۱۴۳

پړ: چپه، نسکور، ژېړمخی، زېړمخی، ملامت. ؛. ۵۵، ۱۳۹ او ۱۶۵

پړونی: ښځینه څادر، ټیکری. ؛. ۱۶۴

پسد: سم دم، رمټ، جوړ تیار، هوښیار. ؛. ۱۴۳

پښت: نسل. ؛. ۴، ۱۳۶، او ۲۰۱

پښیله: کافیه یا قافیه ؛. ۱۵، ۱۹، ۳۰، ۳۵، ۱۲۶، ۱۷۵ او ۲۰۷

پلاوی: استازی. ؛. ۱۴۳

پلنګ: پړانګ. ؛. ۱۲

پلو: د ټیکري هغه برخه چې په سینه پرته وي او له پیڅکو(څنډو، ژۍ) پیل او د ټیکري تر نیمایی پورې وي. ؛. ۱۷۲

پلوه: اړخه. ؛. ۳۶، ۱۵۰، ۱۵۵، ۱۷۹، ۱۸۶، ۱۹۵ او ۱۹۹.

پلوري: خرڅوي، خرڅلاو، خرڅول، پلورل. ؛. ۸۳ او ۹۰

پنځا: تخلیق مفرده نر وییکی یې پنځ دی. طبیعت. ؛. ۱۴۳

پنځه: تخلیق مفرده نر وییکی یې پنځ دی. ؛. ۱۹، ۲۴ او ۳۹

پور: قرض. ؛. ۱۴۳

پوروړی: قرضدار. ؛. ۹

پوړ: منزل. ؛. ۳، ۱۴، ۲۲، ۲۷، ۴۱، ۶۹، ۷۶، ۷۷، ۸۰ او ۸۴

پوپک: د ماشومانو یوه بېلګه لوبه ده. هغه خالي دروی چې د ولې ونې د نازک ښاخ څخه لرګی د منځ ساکه(ساقه) یا ډډ اوباسي او پوستکی یې پاتې کېږي، چې ورته پوپک وايي. او ماشومان په خوله کې د غنمو دانې او یا نورې وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانې اچوي او هغه د خولې په واسطه پوپ کوي. چې هغه دانه د پوپک په منځ کې په سرعت سره د نښې طرف ته درومي. ؛. ۱۴۴

پوښتي: پوښت، پوښتنه کول، سوال کول. ؛. ۱۴۴

پوهګړي: روڼ اندي. ؛. ۱۴۴

پيداينت: زوکړه. ؛. ۸، ۱۵۲ او ۱۶۷

پيسو: مفرده وی یې پیسه ده، هامیانی، پیسې. ؛. ۲۲، ۲۵ او ۱۶۰

پيغله: باکيره جلۍ، بې مېړوخه، ناواده. ؛. ۲۲، ۴۷، ۸۲، ۹۴، ۱۱۴، ۱۲۹، ۱۶۰، ۱۶۵ او ۲۱۰

پيمانه: تله، اندازه. ؛. ۱۴

پينۍ: کائينات. ؛. ۸، ۱۲، ۱۹، ۲۲، ۲۵، ۷۵، ۱۳۵او ۱۳۶

پيپله: اشلوک، شبر، شعر، (نظم). ؛. ۱۲، ۲۶، ۲۷، ۳۶ او ۲۰۵ (ټول ټال ۳۰ واري نور راغلی دی.)

پيپړن: پيپله، اشلوک، شبر، شعر، (نظم). ؛. ۱۲، ۲۵ او ۱۴۷

**۵. تې (ت)**

تابدان:

تان: درينڅه. ؛. ۱۴۴

تپړ: ۱) تشکیل، رغونه، جوړښت، ۲) خوی، رویه. ؛.۱۵

تپړان: پړی، رسۍ، عوبدل شوې لومه. ؛. ۱۵۹

تراڼ: بونجی (مونجی) هغه څوک چې پزه پیته کوي او لنډه وي يې، پيت پوزی. ؛. ۱۴۴

ترخان: پيل، شروع، بريد. ؛. ۶، ۸ او ۹

تروګی: د لرګي چينچی، هغه څوک چې له ماليې څخه معاف وي. ؛. ۱۴۴

تاړاک: يو ډول ګيا ده چې غوا يې و خوري پړسېږي. ؛. ۱۴۴

ترانګه: ټول وژنه، عام وژنه، قتل عام. ؛. ۷۹

تعليم قدم (کدم): دره. ؛. ۱۴۴

تـل: شيړم حالت د سيستم دی، کې ورته وايي:- کله چې ګور پای ته رسي تعليم قدم پيلېږي. بيا شپه ميري سره په ګډه وايي يو!، خپلو پخښو ته ډب ورکوي. بيا وايي دوه! بيا خپلو پخښوته ډب ورکوي. بيا وايي درې! بيا خپلو پښوته ډب ورکوي. ؛. ۱۴۴، ۱۷۴، ۱۹۰ او ۲۱۲

تـل: ببخ، ژورټکی، ژوره نقطه. ؛. ۱۳۶

تمکه: همېشه، دايم. ؛. ۵۶، ۷۰ او ۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمکه: یو راز زهر او شیدې لرونکی بوټی، یو ډول غرنی بوټی دی چې د زهر پې لري. ؛. ۱۴۵

تمن: زهري شیدې کونکی. ؛. ۱۴۵

تنځرو: اشخار، تمنه، د اشخارو د بوټی څخه جوړه شوې پلنه چکۍ چې د صابون په ځای استعمالیږي. ؛. ۱۴۵

تنډوس: تمځرو، تنزری، تمزری، یوه مرغۍ ده چې خوندوره غوښه لري. ؛. ۱۴۵

توتان: یو ډول ګیاه، یو ډول واښه دي چې د پسرلي په موسم کې راټولیږي. ؛. ۱۴۵

تود بخری: تازه میوه ده، د توت ډېرنوم. ؛. ۱۴۵

تور: پروتون. ؛. ۱۴۵

توران: په پړتیا تورن، ملامتیا. ؛. ۱۴۵

تورایته: تور کندهاري انګور دي بیخي تور. ؛. ۱۴۵

تورتوړو: یوه ډول تورانګور دي چې لږ شان سوروالی هم لری. ؛. ۱۴۵

تورتیلی: ګونګی. ؛. ۱۴۵

تورکوټا: لمر سوځلی، هغه سړی چې تک تور وي، تورسوی شی. ؛. ۱۴۵

توره پانه: د ځای نوم دی چې د لغمان ولایت مهترلام ولسوالۍ مخې ته پروت کلی دی، د لغمان ولایت په مرکز کې شتون لري، یا د تورکوټه. ؛. ۱۴۵

توره خړه: بنفشه، یو ډول بوټی دی چې ارغواني رنګه ګل لري. ؛.۱۴۵

تورم: سهار وختي. ؛. ۸۷

توروټکو: د موسیکی یا د ډمتوب یوه اله د چې پوکوي یې او د تولۍ په شان اواز اوباسي.؛. ۷۶

توریشانه: د تورو نقطو جمع ده: قران کریم، مقدس کتاب، او پښتانه یې د الله تعالی له لوري رالیږل شوې مقدس کتاب قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی دی بولي. چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی. ورته وایو او منوونکو ته یې مسلمان وایي. الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو څخه په کلکه منه کړي یو چې هغه حرام دي او نه به یې کوئ: په ځمکه کې فساد، د پردو خبرې منل، یهودو او عیسویانو نه پیسې اخستل او لاس ورسره یو کول، د مسلمانانو وژل، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوږ غوښه خوړل، د يتيم مال خوړل، ظلم، منافقت،... او له هغه سره شريک نيول دي. او بل لړ شيانو يې حلال ګرځولي دي چې هميشه به يې کړئ: د انسان درناوی، د پلار او مور درناوی، بېوزلو، مسافرو، لارورکو، کوشنيانو، سپينږيرو ته خواږه او اړي بابرول، يووالی، لمونځ، روژه، زکات، حج، يوازې او يوازې د الله تعالی د رضا له پار جهاد، ښه صلوک، ښه رويه، ارام خوراک کول په ټيټ اواز غږېدل، د مشرانو احترام، پاک خواږه خوړل، جغات، د مور اوپلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ويل. ؛. ۸۴

توژن: تور بخنه، تورنګی. ؛. ۱۴۶

توکي: دوران، پريود. ؛. ۱۴۶

تولندی: موټر، لکه بګاتې، لمبرګيني، لکسيس، تيوټا او بنس تولندي . ؛. ۲۲۲

تومن: شيرګرم، تړم. ؛. ١٤٦

تونده: غوره مړی. ؛. ١٤٦

تېرې ګل (تيرګړی): د مهترلام په ولسوالۍ، د لغمان په مرکز کې د کلي نوم دی. له مريم کوړې نه کوز لورته

(نوټ: نوموړې پرتې او اوارې سيمې پېخليک دی. د شپاړسمې پېړۍ سرونه وو، د کروندو د کرکيلې د مالياتو غونډولو راپوررونه چې به سلطانت ته ورتله نو د دې ختيځې پرتې او اوارې سيمې چې د الينګار او اليشنګ د سيندونو او تړانګو په غاړو کې وې افغانستان باله، او نومه وړی نوم به بابا ته ډېر خوند ورکاوه. او وروسته سلطان احمد شاه بابا ابدالي دوراني د ټول افغانستان نوم کړ، چې تر اوسه پورې پرې يادېږي. )

نو يو هندو سوداګر چې نوم يې تېرې ګلې نوميده او همدې کلي کې اوسېده.

د وخت په تېرېدو سره نوموړی تيرګړی شو. او بيربل هندو انګړ هم په همدې کلي کې وه. هغه وخت چې سلطان احمد شاه بابا ابدالی دورانی له هندستان څخه راستون شوی وو، نو ډېری ګڼه هندوان ور سره راغلي وو او په دې کلي کې ژوندګړشوي وو. ډېری ګڼه وګړي په دې اند دي چې نوموړی له پخوانه د تېري ګل په نوم وو او وروسته تيرګړی شوه. د لغمان زوړ ښار يې هم بولي. ؛. ١٤٦

تيندار: د تره ښځه يا کاکۍ. ؛. ۱۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦. ټې (ټ)**

ټاټوبي:. د پېل پېر مېنه، لرغون د زوکړې ځای، د پښت د ډېرودو ځای، هېواد، وطن. ؛. ۵، ۶، ۹، ۱۰ او ۲۲۱

ټپټپی:. موټرسیکل، موټرګارډ. ؛. ۱٤۷

ټپه: د وی یا ویکیي له پامه ( په لغات کې) ټپه هغه دوې سرې پیبلې ( پېیرن، اشلوک، شېر یا شعر) ته وایي چې د ټپ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډک شېر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ئ او ... .،، ځخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټپې د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. (دفتنګونه د ټپې توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، وروره، یه الکه، یه پښتونه، یه کربانه، کنه او داسې نور... .)،

د پښبلې یا قافیې کلمې یا غونډلې نه لري. خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټپه باید د ه ( زموږ خپله ,,ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنده ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګنه ابېځې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، ټپه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

په نورو ژبو کې د دې ډول پیبله (البته په همدې وزن او اهنګ) ځرګ لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټپې په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرټولو ټپو، باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ربنت (دودی يا قانون) د تطبيق وړ دی، ياني داچې د هرې ټپې لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې ټپې، د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه؛ د دوېيمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي؛ ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۲۹، ۳۶، ۳۹، ... . ۲۰۶ ( ټول ټال ٦٥ وارې نور)

ټپې: ټپه يې يوون نوم دی، يا مفرده وی يې ټپه ده او ټپه ډېرنوم ټپو (نارينه وی) او ټپې (ښځېنه وی) کېږي. ؛. ١٦، ١٧، ۱۸ ... . ۲۰۸ ( ټول ټال ۳۶۴ وارې نور)

ټپه ايزې ( ټپيزې): د وی يا ويکيي له پامه ټپه ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې درو ټپو سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګټلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ ټپه ايزې د مسرو شمېر يې ۳، د څپو شمېر يې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته دی. ( دفتنګونه , اليده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غوندلې يا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، يې لا خوږوي، په بله مانا ديفتنګونه , غبرګغږونه يا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نيمواک په ملګرتيا منځ ته رازې او لکه يوستووی اواز يوه وار پټليز له خولې راوزې د يوه غبرګغږ. لومړی ټوک يوه خپلواک او دوېيم ټوک يې يوه نيم واک اواز وي، کله زورکی واله يې يا نرمه ,,ی،، او زرکی واله يې يا درنه يې ,,ۍ ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټرووييکي، ټروييکي، ستربل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، اندېښني، هيېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه ښيتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، فردوس خانه!، لغمانيه!، يه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته ميره!، وی اه!، دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د ټپه ايزې (ټپيزې) توکي دي، چې لکه هرې مسرې پيل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې ويل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د ښنېلې کلمې يا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوېيمې او درېيمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره لنډۍ ايزه بايد د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د ښنتو ژبې ،نهويشتم, ګنه ابېڅې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي، ټپه ايزه د ښنتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

او درېيمه مسره يې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې ټپه ايزې، د لومړۍ او دوېيمې مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د درېمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي. له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سيمه کې بېلوالی لري. په بله وينا لنډۍ ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالې سره سره پر يوه نازورنه څپه يا يوې خوږ غږې يا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې څپې خوږغږي د ټپه ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالي ترڅنګه د ټپيزې يوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېيلې په توګه يې يوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پايني توکونه په يوه پير کې له دغو درېواړو څپو څخه هره يوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زورنې څپې له یوه څه اغېز سره ټپه ایزې ته یوه خوږ.غږ.ي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږ.ي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کېدای شي. غوره ستېه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ایزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې ولري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ. څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلېزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رتې بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره ټپه ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرې پېیله له درو سره ټپ یا درو سره زخم یا درې زخمه یا درې ټپه، درو سره ټپه ایزې، څلور سره ټپ له څلور سره ټپه ایزې سره، پېنځه سره ټپ له پېنځه سره ټپه ایزې سره، شپږ. سره ټپ له شپږ. سره ټپه ایزې سره، اووه سره ټپ له اووه سره ټپه ایزې سره، اته سره ټپ له اته سره ټپه ایزې سره، نهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ټپ له نهه سره ټپه ايزې سره او لس سره ټپ له لس سره ټپه ايزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. ؏. ۱۴۸، ۱۴۹، ۱۵۰ او ۱۵۱

ټاپی: ۱) په نښه شوی، ټاپه شوی۲) په ټکو لوخسی ( خصی) شوی، ټپي شوی، ټکيدلی. ؏. ۱۵۱

ټاپن: مهر لګونکی، ټاپه کونکی، چاپه کونکی. ؏. ۱۵۱

ټاټ: افسوس، ټاپ، ارمان، اوسوز، اوسوس. ؏. ۱۵۱

ټانټس: کم عقل، شوده، ساده، ناپو. ؏. ۱۵۱

ټانټوری: ټانټور، ټاندور، د څپياکې (چاپکو) ټوټې چې نغري کې يو دبل دپاسه اېښودل کېږي او په اسانه اور اخلي. ؏. ۱۵۱

ټبر: کورنی، کهول. ؏. ۲۴، ۳۷ او ۱۳۶

ټبوټبوک: غرنی بلبل. ؏. ۱۵۱

ټپړ: سونډې ټوکر. ؏. ۱۵۱

ټټر: سينه، ټټری. ؏. ۹۶

ټټنګ: ۱) دښته، بيابان، ميره ، وچه دښته ۲) خالي لاس۳) د افغانستان په ختيځ کې د يو ځای نوم دی. ؏. ۱۴۲، ۱۶۱ او ۱۹۲

ټګمار: دوکه ورکونکی، غلط توونکی، ټېر وېستونکی، خوله په سروونکی، چل ورکونکی، فريبکار. ؏. ۱۵۱

ټنډان: پلن، پړسيدلی. ؏. ۱۵۱

ټنډه: وچولی، تندی. ؏. ۱۵۱

ټنګ: انګ، انګ لرونکی اواز، د بدبختۍ زيری. ؏. ۱۵۱

ټوکان: د تخرګ لکړه، امسا، ټاپوړی. ؏. ۱۵۱

ټول: واړه، درست. ؏. ۳، ۴، ۵،... . او ۲۲۱ چوپړی ( ټول ټال ۳۵۹ وارې نور دا وی په بېلابېلو چوپړو کې شتون لري.)

ټولګو: صنفونه، ټولګي، ټولګی يکړ نوم دی. ؏. ۱۵۱

ټولګوالو: هم صنفيان، ټولګيوال. ؏. ۱۵۱

ټولګی: صنف، کلاس. ؏. ۱۸۹

ټولواله: سيستم. ؏. ۴۰ او ۱۶۶چوپړی

ټيټ: کوز، لاندې. ؏. ۱۳۶ او۱۴۶

ټيټه: سويي لوړې، کوزې، لاندې. ؏. ۵۲، ۸۵ او ۱۲۵

ټيکی: د وی له پامه ټيکی هغه دوې سرې پېيلې ته وايي چې د ټيک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اصطلاح کې هغه ولسي، پياوړی، غښتلی، هېښونکی، سندريز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ئ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پيدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

ټيکی د مسرو شمېر يې ۲، د څپو شمېر يې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته. ( دفتنګونه د ټيکی توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، وروره!، يه پښتونه!، يه کربانه، کنه ... .،)، د پښبلې (قافيې) کلمې يا غونډلې نه لري. خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره ټيکی بايد د ه ( زموږ خپله ,,ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي. ټيکی د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېيله ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرګ ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د ټيکی په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

پرټولو ټيکيو، باندې يوه رښت د تطبيق وړ دی، يانې داچې د هرې ټيکی لومړۍ مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې ټيکی د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېيمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي. له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؟. ۲ چوپړی او ۱۰۰ وارې نور راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيکۍيو: ټيکۍ يې يکړه وی ( يوون ويکی يا مفرد لغات ) دی يا د ټيکی ډېر نوم دی. ؛. ۲، ۱۶، ۱۱۷... . (۱۹ واري نور راغلی دی)

ټيکۍ ايزې ( ټيکيزې): د وی يا ويکيي له پامه ټيکۍ ايزه هغې درې سرې پېيلې ته وايي چې د څو سره ټيک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پېيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکې بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ ټيکۍ ايزې د مسرو شمېر يې ۳، د څپو شمېر يې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته دی. ( دفتنګونه , اليده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې يا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، يې لا خوږوي، په بله مانا ديفتنګونه , غبرګغږونه يا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نيمواک په ملګرتيا منځ ته رازې او لکه يوستووی اواز يوه وار پټليز له خولې راوزې د يوه غبرګغږ لومړی ټوک يوه خپلواک او دوېيم ټوک يې يوه نيم واک اواز وي، کله زورکۍ واله يې يا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله يې يا درنه يې ,,ۍ ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټروييکي، ټروييکي، سترېل، اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، انديښنې، هيېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، فردوس خانه!، لغمانيه!، يه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته ميره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې...)، نومړي ټول د ټپه ایزې ( ټپیزې) توکي دي، چې لکه هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې ویل کیږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښتو کلمې یا غونډلې لرې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوېیمې درېیمې، څلورمې او پینځمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره ټیکی ایزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، لنډی ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.
او د لومړی ټیکی ایزې څلورمه او د دوېیمې ټیکی ایزې پینځمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې ټیکی ایزې، د لومړی او دوېیمې ( د پورتنی څلور سرې مسرې درېیمه، او د پینځه سرې مسرې څلورمه) مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د درېمې مسرې ( پاینی مسرې،) څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسیږي. له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کیږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا ټیکی ایزې مېچې د څپیزه او خجیزه ټولوالې سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمې څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستی نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې او څلوېښتمه (د پینځه سره ټیکی ایزې یې نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې ) څپې خوږغږي د ټیکی ایزې مېچې د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترځنګه د ټیکیزې یوه بل رغنده توک ګڼل کیږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پاینې توکونه په یوه پیر کې له دغو دریواړو څپو څخه هره یوه د ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې او څلوېښتمه
(د پينځه سره ټيکی ايزې يې نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې ) زورنې څپې له يوه څه اغېز سره ټيکی ايزې ته يوه خوږ.غږې وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه څپه هم ايوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول يې ترنګتوک يا ترنمي توک کېدای شي. غوره ستړه د ترنګتوک په پاينۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ څپې ولري، د ديفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کبسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پېيلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پينځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هايکويۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېليزۍ، ناپېيلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېيلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې ټول په ډېرې ښه له درې مسرو څخه رغښت مونډلی دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډله ايزه وينا او يادونې سره.
نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی يا ګړندی فرق يې وکولی شي، ورته ګټلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.
د ټيکۍ ايزې د څپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لرې ۳۱ څپېزې وي، څلور سره ټيکی ايزې ۴۰ څپېزې وي، پينځه سره ټيکی ايزې ۴۹ څپېزې وي، شپږ سره ټيکی ايزې ۵۸ څپېزې وي، اووه سرې ټيکی ايزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۷ څپېزې، اته سره ټیکۍ ایزې ۷۶ څپېزې وي، او نهه سرې ټیکۍ ایزې یې ۸۵ څپېزې وي او لس سره ټیکۍ ایزې ۹۴ څپېزې وي. چې تر ټولو غوره یې څلور سره ټیکۍ ایزې ۴۰ څپېزې رانښلولې لړۍ لري او څلور دانې وویل شي. خوند رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په سته ولاړ راځي، ډېرې ښې یې اته سره ټیکۍ ایزې ۷۶ څپېزې وي چې دوې دانې وویل شي، ښې به بیا درې سرې ټیکۍ ایزې دې اته دانې یا دولس وویل شي، لړې ښې بیا پېنځه سره ټیکۍ ایزې یا پېنځیزونې ټیکۍ ایزې دې چې پېنځه دانې وویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره ټیکۍ ایزو سره خوا په خوا ځای نیسي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېبله د څو سره ټیکۍ ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو څلور او پېنځه سره پېبله له څلور سره او پېنځه سره ایز ټیک، پېنځه سره رټ رمټ ایز یا پېنځه سره سم برابر ایز او ایزې سره تشبع کوم، چې ورته ټیکۍ ایزه وایي، په دغه ډول څېرې لري، درې سره ټیکۍ ایزې، څلور سره ټیکۍ ایزې، پېنځه سره ټیکۍ ایزې، شپږ سره ټیکۍ ایزې، اووه سره ټیکۍ ایزې، اته سره ټیکۍ ایزې، نهه سره ټیکۍ ایزې او لس سره ټیکۍ ایزې... . په ښه مندل کېږي. د ټولو پام د ناوې ناویتوب درناوې ته چې په همغه شپېو او چارپېریال کې ویل کېږي نوموم یې. ټولې ځنګېرنې یې د ښادۍ د دې شپېو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي سم برابر، یوازې د ناوې ستاینه په کې کوي همدغه چارپېریال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. ؛. ۱۵۳ او ۱۵۶

## ۷. جې (ج)

جانان: زما ریضائي نوم دی، زما ریضایي مور را باندې جانان نوم ایښی و، په دغه نوم به یې نومولم، ۲:) لالی، لېوال معشوق، حبیب، محبوب. ؛. ۴۷، ۴۸، ۵۱ او ... . ( ټول ټال ۶۳ وارې نور.)

جرګه: د پښتنو دود مجلس چې الته فیصله کېږي. ؛. ۲۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



جغات: کوشش، ربړ، زیار، زحمت. ؛. ۱۵، ۱۴۶، ۱۸۵ او ۱۸۸
جګړې: جمع وی ده جنګونه، مفرده وییکي یې جګړه. ؛. ۲۱، ۲۵ او ۳۷ چوپړی.
جګړه: جمع وی یې جنګونه، مفرده وییکي یې شخړې. ؛. ۱۴۰ او ۱۵۷ چوپړی
جـلا: بېل، جدا. ؛. ۱۵۷
جګا: (جګه)، کور. ؛. ۱۵۷
جلګۍیو: د جلګۍ مشابع ده چې د چمن واښه دي چې څرکا لري. ؛. ۱۵۷
جنبان: لړزنده، لړزېدونکی. ؛. ۷۸ او ۹۳
جوګر: څېره، جونګړه . ؛ ۷۸ او ۹۳
جولا: غالۍ اوبدونکی، ټوکر اوبدونکی. ؛ ۱۷۳
جیجرۍ: کوزړۍ، کوزلۍ، د خاورو ګډوۍ، د خاورو ګډوه، د خاورو هغه لوښی چې لاستی لري اوبه په کې څښلی کېږي. ؛ ۷۸ او ۹۳
جیجکې: جمع وییکی دی د جیجی، هغه مرغۍ دي چې د لوپټ نومي مرغه څخه نه جلا کېږي. ؛ ۱۵۷
جیجی: د یوه مرغه نوم دی، هغه مرغۍ چې د لوپټ نومي مرغه څخه نه جلا کېږي. ؛ ۱۵۷
جیجیونتی : د موسیکۍ د کماچ ټاټ یو راګ دی، رکهب یې با دي دی په دوو ګندهارو (کومل ، تیور) او دوونکهار و ویل کېږي، ارو، امرو . ؛ ۷۸ او ۹۳
جیل خانې: زندان، بندیخانه. ؛ ۱۵۷
جیویش: هود، یهودي، بني اسراییل، د لغمانی بلا (بلحه) زامن. ؛. ۷۴

## ۸. چې (چ)

چاڼ: ستره، پاک، صاف شوی، پاک شوی، غلبیل شوی، کره شوی. ؛. ۱۵۷
چامبېل: جمبېلی، چامبېلو یې ډېر نوم دی، چلمېلي، یو ډول سپین ګل دی چې ډېر ښه بوی لري خوسپین یې ډېر پیدا کېږي. ؛. ۱۵۷
چانډو: یو ډول نشه ده چې افین (اپیم، تاریاک) په اوبو کې پخوي اوچلم کې یې څکوي. ؛. ۱۵۷
چپاول: ګوښه کول، چورول، تالاکول. ؛. ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیپټ: ۱) چیپټ، ټوکمار، ټوکي، مسخرهچي، ټوقي، ملنډي، مسخره کونکی، دوړه مار ۲) کړتو، قړتو، قړتن، غورتن. ؛. ۱۵۸

چیپټ: ۱) تکړه الک، غټ الک، تندرسته سړی ۲) څرګنده، ښکاره، معلوم، چیټه. ؛. ۱۵۸

چټي په چټي: هسې بې فائیدي، محضې محضې. ؛. ۱۵۸

چرسي: له چرسو تن، هغه تن چې چرس څکوي، نشه کونکي مواد دي. چرس. ؛. ۶۸

چرلنډی: خاکساری، متواضع، چرلنډ. ؛. ۷۸

چرلنډی: متوازن، خاکسار. ؛. ۸۵

چغځی: مغز، مغځ. ؛. ۷۴

چغشکې: د ماشومانو کوچنیانو ځلمیانوځنې، د ماشومانوځنی، کوچنیانوځنی، ځلمیانوځنی. ؛. ۱۵۸

چوپړي: چوپړی یا مخ، پاڼه، ورقه، صفحه یې یکړ وی ده، لکه د کتاب او داسې نورو چوپړی. ؛. ۲، ۶، ۱۰، ... . ۲۲۰ چوپړی ( ۱۵ واري نور ټول ټال کښل شوی.)

چوپړی: مخ، پاڼه، ورقه، صفحه لکه د کتاب او داسې نورو چوپړی. ؛. ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ... . ۲۲۳ ( ټول ټال ۲۲۳ وارې نور کښل شوی.)

چارمغز: غرنی میوه ده چې ګرد شکل لري. البته پوټکی او مغزیې خوړل، غوځان. ؛. ۱۸۲

چناک: چېناغ، یو نوع شرط دی، چې د چرګ د سینې دوې شاخه هډوکي په ماتولو سره پیل کېږي، دوې تنه یې په دې موخه ترې، چې د زهن چټک تیا، زکاوت پکې معلومه وي. دواړه تنه په دې ښېلګه سره تړه تړي چې که هر څه ما تا ته لاس په لاس درکاوه نو د هغه سیز له نیولو او اخستلو نه وړاندې به راته یاد وایي. که یاد بې و نو له نیولو وړاندې ورته واي چې یاد، که هېر یې و، مقابل لوری ورته وایې چې ,, ستا هېر زما په یاد.،،
نو په دی حالت کې چې یې سره په کوم څه باندې شرط تړلی وي هغه به ورکوي. لکه: وړو او غریبو د چېناغ ګټلو ناغه: ښېلګه- اینداره، ږومنځ، د بوټانورنګ، کالي، لونګی، پکول، د میلې مصرف.
ځوانانو او مینو د چېناغ ګټلو ناغه: ښېلګه- نوی کتابونه، ښه قلم، غوړکی، ټېسوټ ساعت، کمپیوټر، د سرو زرو ګوته، له ټنډې مچه، په زړه پورې ختې او کالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمنو د چېناغ ګټلو وبه: بېلګه- د ښادۍ مصرف، موټر، د لوړ پوړو ودانیو کور، د حج مصارف، په نړۍیوالو هوټلونو کې مېلمستیاء، د باندنې هېوادونو د ډیسکوټیک مصرف، باندنې هېوادونو د قمارخانو مصرف پرې کول. ؛. ۷۵

### ۹. ځې (ځ)

ځاځ: غصه، قهر. ؛. ۱۵۹

ځاځل: قهرول، په غصه کول. ؛. ۷۸ او ۹۳

ځانځارونی: ځاریدونکی، فیدایي، قربانیدونکی. ؛. ۳۱۰

ځانګړې: خاصه. ؛. ۱۵۹

ځانمرګی: ځان وژونکی، انتهاري، خودکش. ؛. ۱۵۹

ځانمني: کږجنی، مغرور. ؛. ۴۰ چوپړی

ځدران: ځدران په پکتیا کې د یوه نامتو او مشهورې قبیلې نوم دی. ؛. ۱۵۹

ځغ: غویانو په اوږو یې ږدي، سپاره تړ، موټي، پال، تیر، رسۍ(تېږ)، ځونډي او غویه کنټرول وي. ؛. ۲۲ او ۲۵

ځغونځونکی: په ډېره اوبی ترتیب ګڼه ګوڼه راوستونکی. ؛. ۷۸ او ۹۳

ځلان: ځلانده، درخشانه. ؛. ۱۶۴

ځواکونه: پوځ، لښکر. ؛. ۱۵۹

ځنځوونکی: څاڅکی څاڅکی تویونکی، ټکی ټکی کوونکی، څڅوبی کونکی، قطره کوونکی. ؛. ۷۸ او ۹۳

ځینګر: ګڼ. ؛. ۱۵۹

ځینګوړا: لغمان ولایت د الېنګار ولسوالۍ، د نورلام بابا کلي سر ته لوري ته یو دنګ سپین په واورو پټ د اوږدو پرښو لرونکی غره څوکه ده. ؛. ۱۴۱

### ۱۰. څې (څ)

څاڅکی: څڅوب، چکک، څکک ، څڅیدنه، څڅوبی، قطره، څڅواکۍ. ؛. ۱۵۹ او ۱۶۰

څار: کتوکه، تعقیب، تر پام لاندې ساتل. ؛. ۱۵۹

څارل: تعقیبول. ؛. ۷۸ او ۹۳

څارکښې: پلټونکي، ډډونکونه، پلټنه کونکي، کتوکي، هغه وګړې چې د باز په بڼه رټه، رمټه، چابکه، ټېنګه منګولې لرونکې وي او د ځېرکو کړنو پوهه و لري. ؛. ۱۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



څارګره: کتوکه، ډډونه، د ځانګړو خدمتونو جلۍ، هغه پېغله چې د ټاټوبي د غلتو هامیانۍیو، ورانکارو، د ټاټوبي د رښت نه منونکو مخه نیسي. ؛. ۱۴۲

څارونکې: پلټونکې، تر پام لاندې رواوستونکې، هغه جلۍ چې د باز څخه تېزې سترګې او پام و لري چې ټاټوبي د غلتو هامیانۍیو، ورانکارو، د ټاټوبي د رښت نه منونکو په پټه او ښکاره ترلاسه کوي. نر یکی نوم یې څارونکی او ډېر نوم یې څارونکي دی.؛. ۱۶۰

څاړي: بې اتفاقي. ؛. ۷۸ او ۹۳

څپان: د اوبو توپان. ؛. ۷۸ او ۹۳

څپاڼ: کتار، قطار، صف، چیل. ؛. ۷۸ او ۹۳

څپرکی: فصل، برخه. ؛. ۱۹۲ او ۲۱۴

څپوڅو: څپوڅی، خاپوړی. ؛. ۱۶۰

څپیز: څپه ییز، ښځه نوړی یا ښځه نوم یې څپیزه ده. ؛. ۳۶

څپیزو: څپه ییزو. ؛. ۱۶۰

څځلو: سجدو. ؛. ۱۶۰

څځلې: سجدې، مفرده وی یې څځله یا سجده ده. ؛. ۸۴ او ۱۸۲

څڅبېکی: ګړندی، چټک، تیز، ژر، رټ، بیړه. جمع وی یې څڅبېکي ؛. ۱۴۲ او ۱۶۵

څڅوبکی: څڅواکی، قطره، څاڅکی. ؛. ۱۶۰

څڅڅکي: د اوبوپوکنۍ، د اوبوپړومبۍ، بړبوکۍ. ؛. ۱۶۰

څربولیړه: غټول کیړه، چاغول کیړه. ؛. ۱۶۰

څرخباڼ: بازینګر، څرخبانۍ. ؛. ۱۶۰

څرګړو: څرګړی، یو نوع غرنۍ بوټۍ دی، چې تارتار واښو په شان دی، په زړه پورې بوی لري او اکسره د کوټو په غولي او جماعتونو کې یې د فرش له پاره اچوي لکه بروځې. ؛. ۱۶۰

څرګه: بزبو، ترړی، حق دوسته مارغه، یوه ډول مرغۍ ده چې د شپې له خوا ځان په ونه کې ځوړند وي او حق نارې وهي. ؛. ۱۶۰

څېرمه: څرمه، نږدې، کم وخت. ؛. ۱۶۰

څرو: د اور رڼا. ؛. ۷۵

څکل: ۱) کم واټن، لږه فاصله، لږه لاره، ۲) څښل، چښل، چیښل، چیکل، ۳) څکل: په ژبه د یو شي کیفیت. ؛. ۷۸ او ۹۳

څکل: د یو شي خوند کتل په ژبې سره، د یو شي کیفیت معلومول. ؛. ۱۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه: ځکاکه، روزي، هغه څه چې خوړل کېږي. ؟. ۷۸، ۹۳ او ۹۵

ځلنۍ: چهار شنبه. ؟. ۱۶۱

ځلورځنډی: ځلورکونجی، اطاق، کوټه، خونه. ؟. ۲۳

ځلور لارې: چوک. ؟. ۱۶۱

ځلی ځولی: ۱) لوړې ژورې، ځلې ځولې۲) د لارې توبښه. ؟. ۱۰۶ او ۱۶۱

ځلېر: د بېديا تالاو، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د سارا حوض، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د ښتې ډنډ، په دشته کی ډنډ، په ټيټنګ کې ډنډ، په بيديا کې تالاو، جووړ، ترپلی، اود. ؟. ۱۲، ۱۶، ۲۱۸ او ۲۲۳

ځورلېځ: ځورلېځی، چورلېخ، لټ، محور. ؟. ۱۶۱

ځمڅه: د ځمکې په مخ درځ (درز) یا د ځمکی په مخ چاود. ؟. ۱۶۱

ځمغېلی: وړه او زړه خيمه، وړه او زړه کيږدۍ، ۱: څپره، شيشی، برلک ډوری، د مرغانو شکنو (شکانانو) او نورو ځناورو د ډارولو دپاره په پټي او فصل کې درول شوی وي. ؟. ۱۶۱

ځمغېلي ځمغېلي: وتره (ځمکه)، وچه او لمده ځمکه. ؟. ۱۶۱

ځنګزان: په ډډه، په اړخ، په يوه طرف. ؟. ۱۶۱

ځو تر ځو: ترځوپورې، تر ځومره پورې، ترځومره زمان پورې. ؟. ۱۶۱

ځورله: خنځير، خنزير، سرکوزی. ؟. ۱۶۹

ځورلېځی: لټ، محور. ؟. ۱۶۱

ځوسيس: جاسوس، سوسيس، د ميرځمن پټ مالومات، ځای، کچه، له ليکې شاته شتمني او ځواک پېژندونکی، دښن ځارونکی. ؟. ۱۶۱

ځوکړ: کوڅه، چوکړ. ؟. ۱۶۱

ځوګير: انتظار کې ناست، منتظر، په ځوکۍ ناست، د ښکار په طمعه ناست ښکاري. ؟. ۱۶۱

ځولسيزې: سو دپې لس، لس کاله. ؟. ۱۶۱

څه او څه: پلانی او پلانی. ؟. ۱۶۱

څه نه څه: کم او زيات، لږ او ډېر. ؟. ۱۶۱

څښتن: الله، رحمان، رحيم، ساتونکی، الله تعالی، رب.؟. ۷۴، ۷۹، ۸۰، ۸۱ او ۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. خې (خ)

خاوند: بر، خاونده!، رب، الله، څښتن، ساتونکی. ؛. ۵۱، ۶۵ او ۷۸

خاوند: مېړه، ساتونکی، شا یا شاه. ؛. ۷۸، ۹۰، ۹۳، ۱۳۸ او ۱۷۴

خپنځېدو: خپنځېده، په ځمکه اوارېدل، په ځمکه ټښته کېدل. ؛. ۱۶۲

خپڼ غوږی: غوږنرمی، غوږپوستکی، د غوږپېڅلی، د غوږ پوڅکی.؛. ۱۶۲

ختیځ: شرق، لمر خاته، هغه ځای چې لمر ترې را پورته کېږي، هغه سیمه چې لومړی پرنورو سیمو رڼا او روښانایي خپروي. ؛. ۳، ۱۶، ۳۲، ۳۶، ۱۳۶ او ۱۵۱

خځوک: خخوکی، د ځمکي مخ چاودنه. ؛. ۱۶۲

خچلی: ټپله کړی، پورې وهلی، اچولی، غورځولی، پورې وهل شوی. ؛. ۱۶۲

خدایږو: په الله قسم، په الله سوګند، په څښتن تعالی سوګند، په څښتن قسم. ؛. ۹۵ او ۱۰۶

خدریوان: هغه څوک چې د کلي مالونه بیایي او بیا ترې د مال په سر ډوډۍ غواړي، خدری، د غوبه ډوډۍ، غوبانه ډوډۍ. ؛. ۱۶۲

خدړ: ګدا، مسکین، خوار، غریب. ؛. ۷۳ او ۸۰

خدشه: شوکاره، په نوکانو ګرول. ؛. ۱۶۲

خدعه: دوکه، فریب، چل. ؛. ۱۶۲

خرپته: یو ډول خړرنګه واښه دي چې اواره دښته کې شنه کېږي، نری پاڼې لري او خلک یې خوري. همدارنګه د پېچ مرض یا د نسناستي دوا ده. ؛. ۱۶۲

خرپیاڅه: یو ډول بوټی دی چې سپین ګلان کوي او نری اغزی لري. ؛. ۱۶۲

خرټی: غونډ، ګردی. ؛. ۱۶۲

خرټسکی: یو ډول بوټی ببخ چې ګرد یا غونډ منډ شکل لري او تریخ خوند لري. ؛. ۱۶۲

خرډګ: یو ډول سارنی بوټی دی چې پلنې او لویې پاڼې لري. ؛. ۱۶۲

خرډیګ: د بوټي نوم ده، موږکی، هغه کوشنی لرګی چې د مرغۍیو په دام ( تلک ) کې وي او ډوډۍ یا غوښه یا بل شی په پېل کېږي. ؛. ۱۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



خر زوره: یو ډول واښه دي چې دوه جلګه او شین لریو دا واښه په ژمي کې څاروي‌یو ته ورکول کیږي. ؛. ١۶٣

خرسومبه: پښې ( رواش ) غوندې یو بوټی دی چې په غره کې ساره اوشګلن ځای کې شین کیږي، په اوړي کې تازه په تازه خوړل کیږي او په ژمي کې حیواناتو ته د خوراک په ډول ورکول کیږي. ؛. ١۶٣

خرسونه: د خرس جمع ده، یو ډول خوشبویه واښه دي چې د ریشکې (ریشقې) په شان تخم کوي او خلک یې خور وا ته ور اچوي. ؛. ١۶٣

خرغوړی: خرغوړ، یو ډول خړ رنګه پت لرونکی بوټی دی چې خلک یې د ځینو ناروغی‌یو له پاره استعمالوي. ؛. ١۶٣

خرغوله: یو ډول بوټی دی چې د ویالو په غاړه کې شین کیږي او ځینې خلک یې پخوي، همدارنګه د هغه دانو له پاره چې سر یې نه وي وهلی د ملهم په ډول استعمالوي. ؛. ١۶٣

خرغیښی: خرډګی، خرګی، خریړی، یو ډول مرخیړی، ګوځی ( د هنوانو ستوری، کاپرخولی، لیوه پسکی ) دغه ډول مرخیړی نه خوړل کیږي. ؛. ١۶٣

خرمیږی: یو ډول نبات دی چې په سارا کې شین کیږي، که له ځمکې را وکښل شي په ولیو (ریښو) باندې یې ژولې نښتي وي. ؛. ١۶٣

خرواړه: یو ډول ساراني سابه (ساک) دي چې سورګل کوي او د پسرلي په سر کې پیدا کیږي. ؛. ١۶٣

خروړک: یو ډول ساراني سابه دي چې سپین او سره ګلان کوي د پسرلي په اولو وختونو کې پیدا کیږي او اومه خوړل کیږي. ؛. ١۶٣

خروه: د شین شوبی (شمشوبی) په څېر یو بوټی دی. (بل لوري ته انسان هر بوټي او پاڼې خوړلی شي خو چې غوړ و نه لري. لکه څېړی، نارنج، بلېټی یا روسی وله او داسې نور) ؛. ١۶٣

خره کی: یو ډول اغزی دی چې خلک یې په ژمي کې د پسونو له پاره وچوي. ؛. ١۶٣

خره واژ: یو ډول سابه دي چې د جوارو د بمبل په ډول ګل کوي او څاروي (حیوانات) یې خوري. ؛. ١۶٣

خریټی: ازدحام، د خلکو ګڼه ګوڼه . ؛.١۶٣

خړا وه: د سپو جنګ. ؛. ١۶٣

خړسان: کوره سان ، یو ډول نخي او سپین ټوکر دی. ؛. ١٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړنګی: شينشوبی، يو ډول سارنی بوټی دی چې ګل يې شين اوپاڼې يې خړ دي او لوړوالی يې ۵۰ څخه ۷۵ سانتي متره پوري رسيږي. ؛. ۱۶۴

خولګۍ: وړه خوله، کوشنۍ خوله، مچو، مچې، مچکه، چپو، خولګوټی. ؛. ۶۳، ۶۴، ۷۰، ۷۱، ۷۴، ۱۰۵، ۱۱۰، ۱۳۴ او ۱۸۲

خولګوټی: مچو، مچکه، مچه. ؛. ۱۶۴ او ۱۸۲

**۱۲. دې (د)**

داج: ناوې د واده کالي، هغه کالي چې ناوۍ ته د پلار له کوره ورکول کيږي. ؛. ۷۴

دا په دا: په دې سبب، په دې وجه، په دې خاطر. ؛. ۷۴

دانګ: ټوپ، خيز. ؛. ۷۴

دانې: ګڼه. ؛. ۲، ۵، ۱۸، ... . او ۲۰۹ ( ټول ټال ۴۱ واري نور.)

داوڼ: ټکری، شال، زړوکی، پوړنی، پړونی. ؛. ۷۵

دوچار: ګرفتار، اخته، مبتلا، ګير، ککړ. ؛. ۱۶۴

دد: ځناور، ځيرونکی ښاروی، ځيرونکی ژوی، وحشي حيوان. ؛. ۱۰، ۱۱، ۷۳، ۷۹ ، ۱۶۴، ۲۱۶، ۲۱۸ او ۲۶۴

ددو: د دد جمع ده، ځناورو، ځيرونکي ښاروي، ځيرونکي ژوي، وحشي حيوانات. ؛. ۲۱۶، ۲۱۸ او ۲۲۰

